مکمل و مُدلل

دسفرمسئلي

مؤلف:

مولانا رفعت قاسمی صاحب



پښتو ترجمه

مولوی [illegible] قندهاری

مکتبۀ غوثیه

Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

د سفر مسئلي

مکمل او مدلل

مؤلف

مولانا محمد رفعت قاسمیؒ

پښتو ترجمه

مولوی عبدالمنان قندهاری

ناشر

مکتبه غوثیه محله جنګی پشاور

نام کتاب: دسفر مسئلې

مؤلف: مولانا محمد رفعت قاسمیؒ

پښتو ترجمه: مولوی عبدالمنان قندهاری

ناشر: مکتبه غوثیه محله جنګی پشاور

بسم الله الرحمن الرحيم


انتساب

ليکونکی همدا کتاب، دسفر مسائل (بشپړ او مدلل) د مبلغینو رئیس حضرت مولاناشاه محمدالیاس صاحب کاندهلوي قدس سره نوم ته منسوب کوي. چاچي په منظمه توگه دتبلیغي جماعت لړۍ پیل کړه. په هیوادا او بهرنړۍ والو ټولنوکښي یې بنسټ کیښود اوحرکت یې ورته ورکړندی کړ. ددعوت الی الله په لاره یې داسلام پیغام دنړۍ گوټ، گوټ ته ورساوو او رسیږي. یاالله په خپل کامل رحمت سره دحضرت مولاناقبرله خپل نورڅخه منورکړي. آمین

بې وزله - خاکساره بنده محمدرفعت قاسمي

ددیو بند د دارالعلوم دتدریس خادم

نیټه :- ۲۳ صفر ۱۴۱۴ هـ ق



دليکوال يادونه

نحمده ونصلي على رسوله الكريم

احقرچې کوم ديني خدمت پيل کړی دی . الحمدلله ددې کتابونو شمير لسوته ورسيد (تلک عشرة کامله) اواوس دسفرمسائل (په بشپړه اومدلله توګه) وړاندې کيږي . په هغه کښې دسفرادب، دسفرډولونه دوطن تعريف او ډولونه ، مسافر د کوم ځايه مسافربلل کيږي . دريل ګاډی، الوتکې ،بيړۍ ، بس، ټرک، واړه موټردآس اوغوايي ګاډۍ اړوند دسفرمسائل اوپه سفرکښې اوبه نه موندلې کيدې دتيمم اوموزوضروري مسائل،په سفر کښې د امامت اودلمانځه دقصرمسائل . لنډه داچې دسفرله پيل نه تربيرته راتللو ټولوضروري (نژدې شپږسوه) مسائلو يوه ټولګه ده .

داټول درب العلمين خاص توفيق دی اودديوبنددارالعلوم فيض،کنه له نورومشاغلوسره،سره داسې يومهم کاردکولوخبره له تصورڅخه لوړه ده اوبيادالله تعالی ﷻ مهرباني داده چې پرته له کوم اعلان څخه داحقر همداپلټنه په هيوادکښې دننه اوبهرعوام اوخواص ګوري اوورته منلې دي .يقيناًداعلمي اوديني خدمت دمرتب لپاره دسلوويارونو باعث دی اود ديوبندمشرانوته هم دخوشحالی ځای دی چې يوداسې دټيټې درجې خادم يې داسې ګران بيه خدمت سرته رسولی اوله دې څخه خلګوته دادرک لګيږي چې ددارالعلوم بچيان دژوندپه ځانګوکښې کوم کوم مهم کارونه کوي اودخدای ﷻ دمخلوق دلارښوني دنده څرنګه سرته رسوي .

ياالله! يوازې په خپل فضل اوکرم همداپلټنه هم قبوله کړه ترڅوليکوال ته داخيرت توښه وګرزي . آمين

ربناتقبل منا انک انت السميع العليم
احقرمحمدرفعت قاسمی غفرله،
خادم التدريس دارالعلوم ديوبندهند،
نيټه ۲۳۰ صفر۱۴۱۴ هق

دجامع شریعت وطریقت فقیه الامت سیدی حضرت مولانامفتی محمود حسن صاحب دامت برکاته، چشتي، قادري، سهروردی، نقشبندي ددارالعلوم مفتی اعظم،

تصدیق

باسمه سبحانه وتعالی

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لانبي بعده.

امابعد! په دې زمانه کښې سفرنژدې هرانسان ته یولابدي او ضروري امر دی، کوم خلګ چې ازادژوند تیروي، هغوئ دشرعي مسائلو اهتمام نه کوي، هغوئ که له سل ګونوسهولتونوسره په کورکي اوسي هم په شریعت عمل نه کوي. خوهغه حضرات چې دشریعت اهتمام کوي اوخپل ژوند دشریعت په چوکاټ کښې تیروي، هغوئ ته ګام په ګام دشرعي مسئلو اړتیالیدله کیږي. په تیره دلمانځه مسائل چې په الوتکه، موټر اونوروکښې په څه طریقه لمونځ صحیح کیږي اوڅه ډول لمونځ فاسدکیږي. په څومره واټن لمونځ قصرکیږي اوپه څومره واټن دقصرحکم نه کیږي اونورهمداسي دې حضراتوته د کتا بو نو ټولګه وړل ستونزمنه ده اوهرځای دصحیح مسئلودښودلو لپاره دعلماؤموندل تردی زیات ستونزمن دی، الله جل جلاله دی دخیربدله ورکړی چې مولانامحمدرفعت قاسمی صاحب ددیوبندددار العلوم مدرس دمسائل سفرپه نوم کتاب کي هغه مسائل راټول کړي دي کوم چې په سفرکي پیښیږي الله تبارک وتعالی دي خواصو اوعواموته دنوموړي مولاناله علمي اوفقهي کمالاتوڅخه دګټي اخستلوتوفیق ور کړي اوالله دي مؤلف ته ددارینو د ترقیو جوګه وګرزوي. فقط والله تعالی اعلم.

العبدمحمودغفرله ۲/۱/۱۴۱۵ هجري

دحضرت مولانامفتي نظام الدین صاحب

دامت برکاته ددیوبندمشرمفتي

دقدرورارشاد:

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالانبياء والمرسلين محمد صلى الله عليه وسلم وعلى اله وصحبه وعلى من تابعوهم باحسان الى يوم الدين وبعد.

دحضرت مولاناحافظ قاري محمدرفعت صاحب تدريس ددیوبند دارالعلوم دمدرسې داکتاب لومړني تحقيق نه دی بلکه زماعزيز سلمه تردې وړاندي نژدې لس کتابونه په دې ډول خپاره کړي دي اومقبوليت يې هم پيداکړی دی هيله ده چې داکتاب (دسفر مسائل) هم دعوامو اوخواصوپه نزدمقبوليت حاصل کړي اودپخواپه څېردټولولپاره ګټور ثابت شي.

زمادعاده چې الله ﷻ نوموړي عزيزته دهمداسي ګټورورسالو دليکلو نور توفيق هم ورکړي. فقط والسلام

العبدنظام الدين

۱۱صفرالمظفر۱۴۱۵

دحضرت مولانامفتي محمدظفيرالدين صاحب

ددارالعلوم دفتاوی دمرتب اوددارالعلوم دمفتي

دوقدرورړأيه

دالله تعالی شکراواحسان دی چې دمسلمانانودیني جذبې ژوندي اوروښانه دي اوترهرکاروړاندي دامعلوموي چې داکار جائزدی نوبیايې څرنګه سرته ورسوي. له همدې امله دعلماؤ دنده ده ترڅودژوندپه هرارخ کښي اړوندمسائل او احکام مرتب اوتدوين کړي اوټولنې ته يې وړاندي کړي. احکام اومسائل چې وړاندي کوي هغه مکمل اومدلل وي دفقه

اوفتاواوله کتابونوڅخه يې له حوالوسره رانقل کړي ترڅوپه هغه سره وربانديعمل وشي .الحمدلله ددارالعلوم چي په اسياکي ترټولوستردينې مرکزدی استا ذان اوورسره تړلي علماءپه دې ډول خدمتونو کې ترټولوورانديي دی اودملت له لوري يې داکفايي فرض سرته رسولی دی دامهال له خاکسارسره دمولانا محمد رفعت قاسمی صاحب ددیوبندددارالعلوم دمدرس نوی کتاب مسائل سفر (مکمل اومدلل)ايښی دی . ماهغه په بيړه،بيړه وکوت داويلای شم چي ماورڅخه گټه واخستله . ماشاءالله دهرلوري څخه همداکتاب غوره اوپه زړه پوري دی اودسفرټول مسائل پکښي شته . دکتلوپه مهال مي له زړه څخه دمؤلف په هکله دعااووتله . انشاء الله دامت لپاره به داکتاب خوراغوره هديه ثابته يي، خواص اوعوام به يې ولولي اولاره به وموميي،په زړه کښي به خوشحالی احساس کړي .دنوموړي ليکوال نردې وړاندي هم ډيرکتابونه چي دمسائلوټولگي دي خپاره شوي دي .. دعلم دخاوندانوپه وړاندي يې مقبوليت ترلاسه کړي دي . زمادعاده چي الله تعالی داعلمي خدمت قبول کړي اودبيالپاره هم ورته دداسي خدمت توفيق ورکړي . زه خاکسارله خپل لوري ددې گران قدره خدمت مبارکي وايم .

ددعاطالب : محمدظفيرالدين غفرله،

ددیوبندددارالعلوم مفتي.

نيټه:- ١١ صفره ١٤١٥ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ (سورة النساء ۱۰۱ اية)

ژباړه: او کله چې سفر کوئ تاسي په مځکه (په ملکونو) نونشته په تاسي هیڅ ګناه په دې کښې چې لنډوالی وکړي په لمانځه کښې. که ویریدلاست تاسي چې په فتنه کښې به واچوي تاسي کافران.

دلمانځه دقصر ثبوت

تشریح: له دې ایت څخه ښکاره ده چې دلمانځه دقصرحکم دخوف په حالت کښې دی. که څه هم له دې ثابته نه ده چې دلمانځه قصر دی دامن په حالت کښې هم وي. خوله صحیح حدیثونو او اجماع څخه داامر ثابت دی. له هغو حدیثونو څخه یو هغه دی چې له یعلی بن امیه ﷺ څخه روایت شوی دی

﴿قلت لعمر مالنا نقصر وقد امنا؟ فقال: سالت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: صدقة تصدق الله بها عليكم فاقبلوا صدقته﴾ [رواه مسلم]

ژباړه یعلی بن امیه ﷺ وایي: ماله عمر ﷺ څخه وپوښتل چې دامن په حالت کښې زموږ دلمانځه دقصر څه حکم دی؟ هغه وفرمایل: ماپه دې هکله رسول الله ﷺ ته عرض کړی ؤ هغه وفرمایل: دا (قصر) یوه صدقه (عنایت) ده چې الله ﷻ تاسو ته درکړی ده، داصدقه ومنئ.

ابن عمر ﷺ وایي: ﴿صحبت النبی صلی الله علیه وسلم فکان لایزید فی السفر علی الرکعتین وابوبکر وعمر وعثمان کذالک﴾ [متفق علیه]

ژباړه: زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کښې پاته شوی یم رسول الله ﷺ کله هم (په سفر کې) تر دوو رکعتونو زیات لمونځ کړی نه دی. ابوبکر، عمر او عثمان ﷺ هم داسې کول.

• په دې باندې تول متفق دي اوداهم ثابت دي چې رسول الله ﷺ ترهجرت وروسته دمکې د خلګوداما م په توګه څلوررکعته لمونځ وکړتر دوو رکعتو وروسته یې سلام وګر زاوه اوخلګوته یې وویل: ﴿اتموصلاتکم فاناقوم سفر﴾

ږباره تاسوخپل لمونځونه پوره کړی زه مسافریم ښکاره ده چې په سفر کښي دلمانځه په قصردامت اجماع (معارف القران صفحه ۵۳۱ جلد ۲ وکتاب الفقه صفحه ۷۵۸ جلداول)

دقصرلمونځ اودامامانومسلک

مسافرچي دخپلوکليوياښارله ودانيوڅخه ووزي دلمانځه قصروړباندې واجب دی . دڅلوروررکعتونودوه رکعته کول واجب دي،که کوم شخص دسفرپه حالت کښي چي قصروړباندې واجب وي،لمونځ څلوررکعته پوره وکړي،ګنهګاردی،اودوه واجبه یې پرېښودل . یوواجب خوقصردی چي هغه یې ترک کړېل داچي دوروستني قعدې په اخرکښي سلام اړول یې پرېښودل . دمسافر لپاره لومړنی قاعده اخري دهٔ خوده سلام ونه ګرځاووااوولاړشو نوده دوه واجبه پرېښودل .

په دې مهال په دومره خبره هم پوهېدل په کاردی چي دقصرپه جوازکښي دکوم عالم اوامام اختلاف نشته . فرق دادی چي دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزدقصرواجب دی خودامام شافعي رحمه الله په نزدقصر اولی (غوره) دی . ددې معني داده چي که چا لمونځ قصرنکړدامام اعظم رحمه الله په نزدګنهګاردی خودامام شافعي رحمه الله په مسلک ګنهګارنه دی،بلکه خلاف اولی اود افضل شي ترک کونکی دی . (مظاهرحق صفحه ۲۲۰ جلد ۲)

دقصرپه ايت کښي دخوف دقيدوضاحت

په وړاندې ليکل شوي ايت کښي﴿واذاضربتم....﴾ په ښکاره داسي څرګند يږي چي دسفرپه وخت کښي دقصراجازه هغه مهال شته چي دکافرانوله

لوري ویره اوخطره وي . خوداسي نه ده بلکه حقیقت دادی چي په دې ایت کښي دخوف قیددعادت اواغلب په اعتبارسره دی ځکه په سفرکښي اکثرمسافران په خوف اوویره کښي وي . په تیره هغه مهال چي کافران تل اوځای دازاررسولوپه حال کښي وي . همداوجه ده چي رسول الله ﷺ ﴿فاقبلواصدقته﴾ فرمایلي دي چي اشاره پکښي دې ته ده چي دسفرپه حالت کښي دقصراختصاص ترخوف پوري نه ده . بلکه دااساني په حقیقت کښي دالله ﷻ له لوري دسفرپه حال کښي د ټولوبندګانولپاره ده . دایواحسان دی چي هرمسافرورڅخه فیض اخلي که کومه ویره وه اوکه نه وه .همداشان په (فاقبلوا) کښي حکم دوجوب لپاره کیدلای شي یعني دهرشرعي مسافرلپاره قصرواجب اوضروري دی . له دې څخه دحنفیه دمسلک تائیددی چي په سفرکښي قصرواجب دی اوقصرنه کول یعني لمونځ پوره کول ناخوښه عمل دی (دګناه سبب دی) (مظاهرحق جدید ،ص۲۲۳ ،جلد۲)

دقصردلیل په هرحال کښي شته

پوښتنه : ایاپه سفرکښي سره ددې چي امن وامان هم وي دلمانځه قصرکول واجب دي ؟ ددې دوجوب دلیل ولیکئ .

جواب : دوجوب دلیل دمسلم شریف داحدیث دی چي یعلي بن امیه ؓ وایي ماعمر ؓ ته عرض وکړچي الله ﷻ فرمایي لمونځ قصرکړئ که تاسوته د کفارو له لوري دفتنې ویره وه خواوس خلګ خوندي دي اوخوف نشته . عمر ؓ وفرمایل : ماته هم داشبه پیداوه نومارسول الله ﷺ ته عرض وکړ . رسول الله ﷺ وفرمایل : داالله له لوري انعام دی داومنئ .

(فتاوی دارالعلوم،ص ۴۹۰ ،جلد۴ ،دمشکوة شریف په حواله)

مسئله: که په سفرکښي خوف نه وُهم لمونځ قصرکیږي . (معارف القرآن،ص۵۳۴،جلد۲)

قصرخدايي حکم دی

﴿وعن ابن عباس قال فرض الله الصلوة على لسان نبيكم صلى الله عليه وسلم في الحضر اربعا وفي السفر ركعتين﴾ [رواه مسلم]

(ابن عباس رضی الله عنهما وايي : الله ﷻ ستاسو دنبي ﷺ په ژبه په حضر کښې څلور او په سفر کښې دوه رکعته لمونځ کړی دی)

﴿وعن ابن عمر قال سن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلاة السفر ركعتين وهما تمام غير قصر﴾ [ابن ماجه]

(ابن عمر رضی الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ په سفر کښې دوه رکعته لمونځ مقرر کړی او دا نيمګړی نه دی بشپړ دی) دسفر په حال کښې لمونځ قصر کول په قرآن کريم کښې ثابت دي او دحديث شريف الفاظ همدا د رسول الله ﷺ په قول او فعل کښې څرګند دي او (هما تمام غير قصر) چې هغه نيمګړی نه دی بشپړ دی، ددې مطلب دادی چې په سفر کښې مشروع لمونځ دوه رکعته دی داسې نه دی چې لومړې څلور رکعته مشروع وو او بيا دوه رکعته شوي دي. داسې نه ده. [مظاهر حق جديد، ص ۲۳۱، جلد ۲]

دلمانځه دقصر مراعات ول ترڅه وخته دي؟

پوښتنه : ايا دلمونځونو قصر کول يوازې دلومړي وختونو لپاره وُ چې خلګو به پياده سفر کاوه او که اوس هم پاته دي؟

جواب : دلمانځه قصر تر لومړيو وختونو پورې ځانګړی نه وُ بلکه تر قيامته پورې دی. [آپ کی مسائل صفحه ۳۷۹ جلد ۲]

مسئله : کوم شخص چې په شرعي مسافه کښې لمونځ قصر نه کړي . هغه ګنهګار دی . [فتاوی دار العلوم صفحه ۴۸۹ جلد ۴ دهدايې په حواله]

مسئله : په شرعي سفر کښې لمونځ پوره کول منع دي . د قصر حکم دی، هغه چې دشريعت حکم دی پابندي دي کول کيږي . فتاوی دار العلوم صفحه ۴۵۹ جلد ۴

مسئله : حینی خلګوته دقصرکولوپه مهال په زړه کې دګناه وسوسه پیداکیږي، داسمه نه ده ځکه قصرهم دشریعت حکم دی چې دهغه تعمیل ګناه نه ده بلکه ثواب دی . معارف القران صفحه ۵۳۴ جلد ۲ .

درسول الله ﷺ دلمانځه قصر

﴿عن انس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم صلی بظهر بالمدینة اربعا وصلی العصربذی الحلیفة رکعتین﴾ [متفق علیه]

(انس رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ په مدینه کښې دماپښین څلور رکعته وکړل اوپه ذوالحلیفه کښې دمازدیګردوه رکعته وکړل) [بخاري اومسلم]

تشریح : په دې حدیث کښې درسول الله ﷺ دسفرحال بیان شوی دی چې کله رسول الله ﷺ دحج لپاره له مدینې څخه دسفراراده وکړه. په مدینه کښې يې دماپښین څلوررکعته لمونځ وکړخوچې دمدینې څخه ووت اوذوالحلیفې ته ورسیدهلته دمازدیګرلمونځ قصر کړاودوه رکعته يې اداکړ . ذوالحلیفه دیوه ځای نوم چې له مدینې منورې څخه ددرې کوس په فاصله واقع دی .

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله هم دامسلک دی چې شرعي مسافرله خپل ښارياکلیوڅخه بهر ووزي نولمونځ دي قصرکوي [مظاهرحق جدیدصفحه ۲۲۱ جلد اول]

مسئله : رسول الله ﷺ به سفریاغزاته دتللوله امله دڅلورو رکعتونوپه ځای دوه رکعته لمونځ کاوو .په شرعي سفرکښې دڅلورور کعتونوپه ځای دوه رکعته فرض دي اوداله قران اوحدیث څخه ثابت دي. افتاوی دارالعلوم صفحه ۴۹۱ جلد ۱۴

غیرمقلدکسان ولې دريوميلوفاصله کښې قصرکوي؟

پوښتنه : داحنافوپه نزدپه ۴۸ میله کښې مسافرقصرکوي خوغیرمقلدين په درې میله مسافه کښې لمونځ دوه رکعته کوي اوپه ثبوت کښې دانس

ﷺ روایت شوی حدیث وړاندې کوې هغه چې رسول الله ﷺ په درې میله کښې دوه رکعته وکړل. ددې مطلب څه دی ؟

جواب درې منزله (چې هغه ۴۸ میله کیږي)که سفراراده وسي نوچې له ښاره ځخه بهرووزي قصرپيل کيږي اوداددې حديث تاويل دی چې رسول الله ﷺ په درې ميله کښې قصروکړيعنی اراده يې دډيرسفروه خوپه درې ميله کښې له مدينې ځخه ووت دلمانځه وخت راغی لمونځ يې قصرکړ.

[فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۷۸ جلد ۴ ددرمختارپه حواله]

دخدای ﷻ له ورکړل شوي رعايت ځخه ګټه واخلئ

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: دخدای ﷻ له لوري په ورکړل شوي رخصتونوعمل کول داسي خوښ دی لکه خپل پوره احکام چې په ځای کيږي.

تشريح : ديوه مقدراوصاحب جلال پاچاپه نزدديوه غلام ښه والی دادی چې دهغه په حضورکښې دخپل ضعف اعتراف وکړي کله که پاچاورته دده دکمزوری له امله په دنده کښې څه تخفيف اوکمي راولي نوله شکرسره په عاجزانه توګه ومني . همداد بندګي جال دي،همداموقع پيژندل اودمالک دجذبې قدرداني ده . په داسي وخت کښې بهادري ښودل اوويل چې (نه صاحبه مورته مهلت نه ښايي زه ستاپوره پوره کارکولای شم) داترخپل حال لوړه دعوه ده اوڅاغروربيلګه ده که ورباندې کوم عتاب راشي نوبې ځايه نه ده . دغلام کاميابي په ډيرکارکښې نه ده بلکه دهغه کمال په وخت رسيدل اودسترګواوورېځوپه اشاره پوهيدل دي . له همدې امله کله چې رخصت پيداشي هغه منل دبندګي کمال اوداطاعت معراج دی.

[الترغيب والترهيب ص ۳۰۸، جلد ۲]

قصراودامام صاحب مسلک

دامام صاحب رحمه الله مسلک دادی چې په شرعي سفرکښې دلمانځه قصرواجب دی قصداپوره لمونځ کول منع دي ځکه داله حدودالله څخه تجاوزدی. ﴿ومن یتعدحدود الله فاؤلئک هم الظلمون﴾ [البقرة، پاره ۲]
څوک چې له حدودالله څخه ووزي (خلاف ورزي وکړي) داخلګ ځان ته زیان رسونکي دي .اوپه ﴿من تطوع خیرا﴾ کښې داداخل نه دی ځکه دادشارع ﷺ دحکم خلاف دی بلکه شردی . [فتاوی دارالعلوم ص، ۴۷۰،جلد۴]

په ارام سفرکښې دقصرحکم

مسئله : قصردمسافرلپاره لازم دی . که دریل سفرارام اوراحت ؤهم پوره لمونځ کول صحیح نه دی . [فتاوی دارالعلوم ص۴۸۱،ج۴]

دپوره لمانځه دکولونذرمنل

پوښتنه: که کوم مسافرداسي نذرومني چې دسفرپه ورځو کښې به درې څلور ورځي لمونځ پوره کوم نودادنذرپه ورځوکښې به لمونځ پوره کوي که قصر ؟
جواب : مسافربه قصرکوي همدانذرلغودی، معصیت دی اود شریعت خلا ف عمل دی په پوره لمونځ کولو ګنهګاریږي اودمقیم لمونځ ورپسې نه کیږي
[فتاوی دارالعلوم ۴۸۹،جلد۴]

دسفرمقصد

یوه مسلمان ته یوازې دالله ﷻ درضالپاره ورتګ هم دفضیلت سترعمل دی . دالله ﷻ لپاره دورتګ مطلب دادی چې له دې لیدني کتني څخه کوم دنیاوي مفادونلري یاددې لپاره ورشي چې هغه یونیک شخص دی یایوعالم دی اودهغه له صحبت څخه دځان اصلاح مقصدوي یاددې لپاره ورځي چې دهغه زړه ښه شي (لکه دمړني په مهال) اودمسلمان دزړه په خوشحاله کولوالله ﷻ خوشحاله کیږي . په همدې صورت کښې هم داملاقات دالله ﷻ لپاره بلل کیږی اوانشاء الله ورباندې اجرپیداکیږي .

له ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایي : څوک چي دناروغ پوښتنه وکړي یادالله ﷻ درضاپه خاطرديوه مسلمان ملاقات ته ورشي،هغه تهغیبيمنادي ناري وهي وایي ته هم مبارک ستاتګ هم مبارک اوتاته په جنت کښي یودهستوګني ځای جوړشو .

(تر مذي) له دې حدیث شریف څخه معلومیږي چي مسلمان ته دثواب په نیت په ورتلوسره داعمالوپه پانه کښي نیکي زیاتیږي . خودایادساتل په کاردي چي داحکم دهغوخلګوپه ملاقات کښي دي چي له هغه ملاقات څخه کوم دیني زیان نه رسیږي . ددې په خلاف که دااندیښنه وه چي په دې ملاقات کښي په ګناه اخته کیږي دهغه له بدمجلس څخه په ده باندي بده اغیزه کیږي یاغیبت پکښي اوریدل کیږي یاپه بې ګټي خبرودیروخت ضائع کیږي نوله داسي ملاقات څخه ځان ساتل غوره دی . (آسان نیکیان صفحه ۱۹۲)

دسفردوه ډولونه

عادتاًسفردوه ډوله کیدلای شي . لومړی یوازي ددین لپاره اودوهم ددنیالپاره . دلومړي مثالونه دحج سفر،دجهادسفر، دعلم په طلب پسي سفر،دعلماؤاوصلحاؤدزیارت لپاره سفر،د دیني وروردزیارت لپاره سفرکه هغه له خپلوانوڅخه وي اوکه نه وي یانوردغسي . که ددې سفردرجې مقصدوي نوداسفرونه فرض،واجب،یامستحب دي خوپه هرقدم ثواب ورته پیداکیږي .دوهم سفرددنیالپاره دی لکه دتجارت یادروزي دلاس ته راوړلولپاره سفریایوازي دتفریح لپاره داهم تریوحده فرض، واجب،اومستحب دی اوترضرورت زیات مباح اوجائزدی .

خوهوښیار شخص ته دامناسب دی چي داسفرونه هم ددین په نیت وکړي ځکه ددنیا هرکاروبارچي ددین په نیت وسي هغه عبادت ګرځي .

مثلادتجارت لپاره وزي دانیت دي کوي چي دکوموکسانونفقه راباندي

واجب ده دهغې دپوره كولولپاره څم اوكه زياته شي دېې وزلومرسته ورباندي كوم يا به يې په نوروديني ارتياووكښې لګوم. چې كال ورباندې تيرشي زكاة به وركړم، صدقه به وركړم، كه شتمن شوم حج به وكړم. (آداب سفر صفحه ۲)

دجائزاوناجائزسفرحكم

سفركه جائزوي كه ناجائز مثلاً څوک دغلا لپاره سفركوي يادچا په وژلو پسې ځي. ياكوم غلام دبادارله اجازې پرته اوپلرزوی د والدينوله اجازې پرته سفركوي په هرحال به هغه قصركوي چې شرعي سفروي (علم الفقه صفحه ۱۳۱ جلد ۲)

مسئله : داحنافو په نزدبه شرعي مسافرقصرواجب دی كه څه هم خلګ په هغه سفركښې دحرام كارمرتكب كيږي. خودهغه حرام فعل كول ګناه ده اما قصرواجب دی (كتاب الفقه صفحه ۷۲۴ جلداول فتاوی عالمګيري صفحه ۵۸ جلد ۲)

سفربه كومه ورځ كوي

كعب ابن مالک رض روايت كوي چې رسول الله ﷺ دتبوک غزوې ته دپنجشنبې په ورځ روان شو او رسول الله ﷺ داخوښه كړې ده چې دجهادسفردپنجشنبې له ورځې پيل كوي (بخاري)

رسول الله ﷺ ولې دسفرلپاره دپنجشنبې ورځ خوښوله؟

په دې كښې څواحتماله شته. يوداچې دبندګانونيک اعمال دپنجشنبې په ورځ دالله ﷻ حضورته وړل كيږي نورسول الله ﷺ به هغې ورځ سفركاووچې دجهادعمل هغه ورځ يورته شي چې افضل الاعمال دی. بل داچې خميس يوورځ ته هم ويل كيږي او پنجشنبې ته هم يوم الخميس ويل كيږي. نورسول الله ﷺ په نيک فالي هغه ورځ سفرپيل كاوترڅو دپوځ مقابلې لپاره ځي ورباندې بريالي شي. په هرحال له سنت سره سم دادی چې كه دجهادپه سفرځي دپنجشنبې په ورځ روان شي خواصل دارمدار په استخاره او تفويض دی (مظاهرحق صفحه ۵۳۴ جلد ۲)

مسئله : رسول الله ﷺ به اکثرادپنجشنبې اوشنبې په سهار سفر کاوو .
[رکن الدین صفحه ۱۴۲ داحیاءالعلوم په حواله]
یادونه : دسفرلپاره دمستحب همدغه ورځي دي خوضروراوفرض نه دی بلکه کله چي موقع اوسهولیت و سفردي کوي خودسفر دادبوخیال دي ساتي.
[محمدرفعت قاسمي].

ایادجمعې په ورځ سفرکیدلای شي؟

مسئله : دجمعې په ورځ ترلمانځه وړاندي سفرکول غوره نه دی خوجائزدی تراذان وروسته اوترلمانځه وړاندي سفرکول حرام دی (که دجمعې دلمانځه دتیریدلوویره وه) [کنزصفحه ۳۴۵ جلد۳ فتاوی عالمگیری۶۲جلد۳]

دسفرکولومستحبه طریقه

مسئله : څوک چي سفرکوي مستحب داده چي دوه رکعته نفل لمونځ په کورکښي وکړي اوچي له سفرڅخه راشي مستحب داده چي لومړی مسجدته لاړشي دوه رکعته لمونځ وکړي بیاکورته لاړ شي . [در مختاراونور]
رسول الله ﷺفرمائي : چاته تردغودوورکعتونوغوره شي نشته چي دسفرپه مهال یې په کورکي پریږدي [طبراني]
رسول الله چي به کله له سفرڅخه تشریف راوړلومړی به مسجد ته ورغی اودوه رکعته لمونځ به یې وکړ [صحیح مسلم]
مسافر ته هم مستحب داده چي کله له سفرڅخه چیري ورسیږي اوهلته درسیدلواراده وکړي نوترکښیناستلووړاندي دوه رکعته لمونځ وکړي .
[شامي علم الفقه ص ۴۲جلد ۲-کتاب الفقه صفحه ۵۳۰ جلداول]

دشپې مهال سفرکول

انس(رض)وايي چي رسول الله ﷺ فرمايي : تاسودشپې مهال سفركول ضروري وګڼئ ځکه شپه ځمکه رانغاړي . [ابوداؤد]

تشريح : مطلب دادی چي که تاسوکوم سفرکوی يوازي دورځي په وتلو قناعت مه کوی بلکه يوځه (که پياده يااوښ اوبل څه سفرکوی)دشپې هم(که امن وُ)لاړشی ځکه دشپې سفرپه اساني سره کيږي اوپه دې خيال په مسافرباندي سفرنه د. نيږي ځکه هغه په خيال نښي لږمسافه لري خوپه حقيقت کښي يې ډيره لاره وهلې وي ځکه دشپې په تللوکښي بل شغل نه وي اودلاري نښي اوعلامې نه ترسترګوکيږي په همدې شيانونظرکول سفردرنوي همدامفهوم يې دمځکي په نغښتلوتعبيرکړی دی . له دې څخه داسي نه پوهيږوچي دورځي نوبلکل مه ځی لکه په نوروحديثو نوکښي داحکم بيان شوی دی چي تاسوسفردورځي په لومړي اووروستنۍ برخه کښي وکړئ اوځه برخه دشپې هم لاړشئ . [مظاهرحق ص ۵۴۱،جلد۴]

(مطلب دادی چي دشپې هم دسفرممانعت نشته،مسافردي خپل سهولت ګورئ په شريعت کښي کوم خاص وخت اوورځ ضروري بللې نه ده)

محمدرفعت قاسمي غفرله

دامت په هکله دسهاروختي دعا

صخره ﷺ وايي : (يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل(دعايي وکړه)ای الله! زماامت ته دورځي په لومړی برخه کښي برکت ورکړې . يعني که دزمادامت خلګ دورځي په لومړنۍ برخه کښي دعلم په طلب کښي مشغول دي يادروزي په لاس ته راوړلوکښي اخته وي ياسفراونور څه کوي نوهغه ته پکښي برکت حاصل وي،لکه چي رسول الله ﷺ به چي کله وړوکی ياستر پوځ امستاوونوهغه به يې دورځي په لومړنۍ برخه کښي ليږه .

صخره ﷺ یوسوداکړو(ددې دعادبرکت دحاصلولولپاره به یې)خپل تجارتي مال دسهارله خوالیږه،هغه شتمن شواومال یې خوراډیرشو . امظاهرحق صفحه ۵۴۱ جلد۴]

دسفراداب

رسول الله ﷺ به دپنجشنبې په ورځ سفرکول خوښول(بخاري)له یوازې یوازې سفرکولوڅخه به رسول الله ﷺ مخالفت کاوو بلکه ددوو کسانوسفریې هم نه خوښاوو ،داسې یې خلګ تشویق کول چې لږترلږه درې کسان په سفرلاړشي .[ترمذي]اوڅلور ملګري خوخوراښه دي [ابوداؤد]

رسول الله ﷺ فرمایي : که په سفرکښې درې کسان ملګري وي یودې امیرټاکي . [ابوداؤد]

رسول الله ﷺ فرمایي : که له چاسره په سفرکښې ترخپل ضرورت دخوړلو او څښلوزیات شی وي نوهغه چاخیال دې ساتي چې خپل خرڅ ونلري . [مسلم]

رسول الله ﷺ فرمایي : که له اوږده سفرڅخه بیرته راشي نود شپې خپل کورته مه ځی . [بخاري]

(که وړاندې خبرورکړي مشکل نه دی)

درسول الله ﷺ عادت ؤچې له سفرڅخه به یې تشریف راوړ ، څاښت مهال به مدینې ته داخلیده،لومړی به مسجدته ورغی دوه رکعته لمونځ به یې وکړاوڅه مهال به یې په خلګوسره ملاقات کاوو . [بخاري]

رسول الله ﷺ وفرمایل : په سفرکښې دخلګوسردارهغه دی چې دهغوی خدمت کونکی وي . [اسلامي آداب صفحه ۲۲]

په سفرکښې که له چاسره سپي یازنګوله وي له هغه سره (درحمت)ملائکي نه وي . [مسلم اسلامي آداب صفحه ۲۳]

که دسرسبزي په مهال په ځارویوسفرکوي نواوښان (یانور ځاروي) دي څمکي ته پریږدي چې وڅري . [مظاهرحق صفحه ۵۳۲،جلد۴]

که وچکالی وه په سفرکښې (چې په ځنګل کښې وانښه وچ شوي وي) نوپه تګ کښې دي بيړه کوي (ترڅوڅاروي ژرمنزل ته ورسيږي آرام وکړي) اوپه يوه روايت کښې راځي تردې وړاندي سفرختم کړي چې څاروي بلکل له ژونده خلاص شي. [مسلم]

دڅاروولـه شاڅخه جوتره مه جوړوی. [مظاهرحق صفحه ۵۴۴ جلداول]

(مطلب داچې له ڇاسره دخبرولپاره په څاروي دسپارلي په حال کښې هغه مه دروه بلکه که له ڇاسره خبري کوي ورڅخه کښته کيږي. خپله ارتياپوره کړي اوبيابيرته ورباندي سپاره شي. څاروي ته تکليف مه رسوئ. له دې څخه څرګنديږي چې موټر،موټرسائيکل اونورهم په دې باندي قياسيږي چې بې سببه درول اونه بندول اوورباندي سپريدل غلط کاردی ځکه دپټرولو اونورومصرف اسراف دی اودالله ﷻ ته ناخوښه ده ـ رفعت قاسمي) کله چې منزل ته ورسيږي له څارووڅخه کجاوي اوزينو نه ليري کړي اوبيانفل لمونځ وکړي ياپه بل کارلګياشي. د صحابه کرامو ﷺ همداعمل ؤ. [ابوداؤد]

که دشپې له خواپه ځنګله کښې واړوئ،له لاري څخه ګوښه اړوي ځکه دشپې ځناوران اوخزندي راوزي اوپه لاره کښې ګرځي راګرځي. [مسلم]

دڅاروي په غاړه کښې(زيړه)رسی يابل ته مه تړی ځکه دهغه غاړه ورباندي تپي کيږي. [بخاري]

کله چې يوځای واړوي يوځای اوسي،بيل،بيل هستوګنه مه کړی. [ابوداؤد]

که ڇاته ستادڅاروي سواري خوښه وه اومخته دسپريدلوغوښتنه وکړي ورته ووايه چې مخته سپريدل ستاسي حق دی که بياهم هغه مخته ستاکښينستل غواړي وبې منه. [ترمذي اومظاهرحق صفحه ۵۴۵ جلد۴]

سفرد عذاب یوه ټوټه ده، تاسي له خوب، خوراک اوڅښاک څخه باسي نوکله چي هغه کارپوره شوچي ورته اوسي ژرکورته لاړشي. [بخاری- مسلم اواسلامي آداب صفحه ۲۲-۲۵]
مسئله: که په کوم څاروي سپریدل وي نودهغه تروس زیات بار باندي اینبودل جائزنه دی. [احیاء]
مسئله: څاروي په مخ مه وهی چي په حدیث کښي یې ممانعت شوی دی.
مسئله: دڅاروي ګیډه مه تړی چي څاروي ته تکلیف رسیږي.
مسئله: سهاراوماښام له څاروي څخه کوزیږی څه پیاده ځي داد پخوا نیو صالحانوسنت دی. په دې کښي څاروي څه ارامیږي اوستا. سو پښې هم غو ړیږي.
مسئله: داضروري ده چي کوم څاروي په کرایه نیول کیږي داهم ورته ویل کیږي چي داداسامانورباندي وړل کیږي.
مسئله: په حدیث شریف کښي دي چي کوم سپورذکرکوي ملائکه ورسره وي اوکه فضول اشعاروایي شیطان ورسره ملګری وي.
مسئله: که چیري اړوي مه ډیرزیات ځای نیسی اومه لاره بندوی. [مظاهرحق صفحه ۱۴۲ جلد ۴]
دسفرتراراده کولووړاندي که کوم حقوق درباندي وي هغه اداکړ دپوروړیو پوروړکړی، که دچاخرڅ اولګښت ستاسوپه غاړه وي هغه ورتا برابرکړی. که دچاامانت درسره وي هغه ورکړی. دسفرلګښت له حلال مال څخه دومره چمتوکړي چي ملګروته دورکړي جرګه وي. [احیاءالعلوم صفحه ۴۱۲ جلد ۲] دادې لپاره مي په مړینه اعتبارنشته ترڅوحقوق پاته نشي.
رفعت قاسمي.
مسئله: رسول الله(ص)چي به کله سفرکووپنځه شیان به یې له ځان سر وړل:
۱: ائینه ۲: رنجومي ۳: مسواک ۴: ږمونځ ۵: دګنډلوتار او قینچي (بیاتي [احیاءالعلوم صفحه ۴۲۰ جلد ۲]

ديوازي سفركولود ممانعت وجه

عبدالله ابن عمر ﷺ وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل :«كه خلگ په هغه څه چي په يوازي سفركښي پيښيږي دومره پوهيدلای لكه څومره چي زه پوهيږم هيڅ سپاره به دشپې دسفركولوتكل كړی نه ؤ» [بخاري]
تشريح : له هغه شي څخه مقصد ديني اودنيايي زيانونه دي . ديني زيانونه دادي چي په يوازي سفركښي دجماعت لمونځ نه پيداكيږي . دنيايي زيانونه دادي چي كوم غمخوراومرستندوي نه وی . ترڅوضرورت ياپيښه رامخته شي اومرسته وكړي . دسپاره اوشپې قيددې لپاره دی چي سپاره ته خطر زيات وي ترپياده په تيره دشپې له لوري . [مظاهرحق صفحه ۵۳۵ جلد ۴]

دسفرملگری اميركول

ابوسعيدخدري(رض)روايت كوي چي رسول الله(ص)فرمايي : كه«مثلاً په سفركښي»درې كسان وونوپه هغوی كښي دي يواميركړای شي . [ابوداؤد]
له دريوكسانوڅخه مطلب جماعت «دله»ده چي ادنی يې درې كسه دي . دلته همداحكم دهغه صورت متعلق هم دی چي دوه كسان هم سفركوی . دحديث شريف حاصل دادی كه څوک په سفر كښي تريوه زيات سره ملگري ؤو په هغه صورت كښي دي هغه څوک په ځان باندي اميروټاكي كوم چي ترټولو افضل وي . دامير جوړولوحكم ددې لپاره شوی دی چي كه په سفركښي كومه معامله پيښه شي نوهغه اميرته به مراجعه كوي اوچي هغه كومه پريكړه وكړي هغه ومني نزاع به ختمه كړي .اميراومشرته داضروري ده چي دخپلوټولوملگرولپاره خير غوښتونكی وي،مهربانه اوغمخوروي يوازي دخپل مشرتوب په وياړ گنلو كښي په بدي كښي ونه لويږي بلكي په رښتياسره خادم وبلل شي .
[مظاهرحق صفحه ۵۴۲،جلد ۴]

دسفرغوره ملګري

ابن عباس رضی الله عنهما له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې فرمايي : (مثلا په سفرکښي) ښه ملګری هغه دی چې (لږترلږه) دڅلوروپه شمير کښي وي

تشریح : څلورملګري يې دڅلوروپه شميره په دې اعتبارغوره بللي دي چې که فرضًاله هغوی څخه يوناروغ شي اوله خپله ژونده ناهيلی شي اويوه ملګري ته وصيت وکړي نوردواړه به ورباندي شاهدان شي . همداسي علماء ليکي چې ترڅلوررو ملګروپنځه غوره دی اوچې څومره ډيريږي هغومره ښه دی . دلته چې په حديث شريف کښي څلوريادشوي دي ګواکي کمه درجه يې ښودلې ده . [مظاهرحق صفحه ۵۴۲،جلد۴]

په سفرکښي به لږترلږه څوتنه ملګري وي

دحديث شريف حاصل دادی چې په سفرکښي به اقلادرې تنه وي يوخوبه په جماعت سره لمونځ کوي بله داخبره ده چې که يوه ته ضرورت پيښ شي؛ باقي به دوه پاته شي يوبل ته به دډاډاوتسلي ذريعه وي اوکه دهغه بل راتلل وځنډيږي په دې دواړوکښي به يودهغه حال واخلي اودځنډ په سبب يې خبرشي اودريم به سامان ته پاته اوهغه به ساتي . [مظاهرحق صفحه ۵۴۲،جلد۴]

(داټول په مستحباتوکښي دي . رفعت قاسمي)

په سفرکښي درسول الله ﷺ له خپلوملګروسره معمول

جابر ﷺ وايي : رسول الله ﷺ به (دسفرپه مهال) دتواضع په وجه اودنورودمرستي اوحال اخستلوپه مقصدترکاروان وروسته تګ کاوو .

له دې حديث څخه څرګنديږي چې درسول الله ﷺ تواضع په څومره سترمقام کښي وه اودخپلوملګروپه هکله څومره مهربانه اوخيرغوښتونکی و خپل راحت ته يې دهغوی ترراحت هيڅکله ترجيح ورکړې نه ده . [مظاهرحق صفحه ۵۴۴ جلد۴]

مسئله : منزل ته په رسیدلو دسفرملګروته په یوه ځای اوسیدلو حکم شوی دی . په دې حکم صحابه وو ؓ داسې عمل کاوه چې که به په کوم منزل کښته شول دومره به سره نژدې ووچې که به یوکالی ورباندې ولویده ټول به یې پټول .

په سفر کښې به رسول الله ﷺ له خپلوملګروسره اومشره او نوروسره به یې کارهم کاوو . مثلا که به ډوډی یانورپخیدل رسول الله ﷺ به هم په کارکښې ضروربرخه اخستله . په یوه سفرکښې اصحابو دغذا دپخولو اراده وکړه هریوه بیل بیل کارکاوو رسول الله ﷺ دلرګیو دټولولو کارپه ذمه واخست . [زادالمعاد]

(په هغه وخت کښې په ځنګله کې دلرګیو دټولولو عامه اجازه وه اوس هم په ځینو سیمو کښې همداسې ده .) [محمدرفعت قاسمی]

که چې دسفرمقصدپوره شي

ابوهریره ؓ وایي چې رسول الله ﷺ فرمایي : سفردعذاب یوه ټوټه ده نه تاسوته (دارام) خوب وي اونه (په ماړه نس) خوراک څښاک وي نوکه له تاسوڅوک سفرته لاړشي اودسفرغرض پوره کړي (یعني دځه لپاره چې یې سفرکړی وي هغه مقصدپوره شي) هغه ته ښایي چې خپل کورته په راتللوکښې بیړه وکړي . [بخاري اومسلم]

(سفردعذاب یوه ټوټه ده) ددې مطلب دادی چې سفردخپل ډول په اعتباردوزخ دعذاب یوډول دی په جسمي تکلیف اوروحاني اذیت سره دچاپه هکله سفردپریشانیو اوستونزویو سبب دی . په تیره هغه وخت چې دنن په څیرتیزاوډادمن وسائل نشته . خلګوبه څه ډول ستونزې ګالې اوپه څه ډول مصیبو تونوبه اخته کیدل چې دهغې اندازه نن درک کیدلای نشي .

په حدیث کښې ددې ځانګړیو پریشانیو یادونه شوې ده چې دسفرپه مهال نه په خپل وخت دطبیعت مطابق خوراک څښاک موندل کیږي اونه دآرامی

خوب کیدلای شي،دایوازې دمثال په ډول یادشوی دی کنه په سفرکښې ځومره دیني اودنیایي امور پاته کیږي لکه دجمعې لمونځ،دکوروالوحقوق چې په وخت نه اداکیږي اودگرمی اویخنی ستونزې اوهمداسې نورې پریشانی زغمل. [مظاهرحق صفحه ۵۳۷ جلد ۴]

په سفرکښې دشپې مهال درسول اللهﷺ داستراحت کیفیت

درسول الله ﷺ معمول داوچې کله به په سفرکښې ؤ اوچیرې به یې وارول اودشپې به څه برخه پاته وه په ښې اړخ به پریوت لکه په غیرسفرکښې چې داستراحت عادت ؤ اوکه به یې داسې وخت وارول چې شپه په پوره کیدلوه اوسهاربه نژدې ونوداستراحت په ځای به یې مبارک لاس ودراوه اودلاس په ورغوي به یې سر کښیښوددادې لپاره چې دغفلت خوب رانسې اودسهارلمونځ قضانشې که څه هم دښې اړخ په خوب کښې هم غفلت نه پیښیده. [مظاهرحق صفحه ۳۹۱،جلد۵]

درخصت کیدلوپه مهال سلام کول

قتاده ﷺ وایې چې رسول اللهﷺ فرمایې: (کله چې دکوردننه ځې دکور والو ته سلام اچوئ)

تشریح: په حدیث شریف کښې د(فودعوااهله) الفاظ راغلي دي چې له وداع څخه دي اومطلب یې دادی له کورڅخه په وتلوکښې کوروالوته دسلام په واسطه وداع وایه. نه همدې څخه ځینې علماء وایې چې دهمدې رخصت کیدلودسلام جواب واجب نه دی بلکې مستحب دی ځکه داسلام په اصل کښې دعا اووداع دی اومعنی یې داهم کیدلای شي چې خپل اهل اوعیال ته یې داسلام ودیعت (امانت) پریښود. ددې به مطلب داوي چې کله رخصت شې خپل أهل اوعیال ته یې سلام وکړگواکې دسلام خیراوبرکت یې خپل اهل أوعیال ته امانت کښیښود چې په اخرت کښې یې

بيرته واخلي لکه څوک چي څه شی له چاسره امانت ږدي اوهغه بیابيرته ورېي.

داهم مطلب کيدلای شي چي تاخپل سلام کوروالوته امانت وسپاره اوچي بیرته راوگرځي اوهغوی ته راځي هغه ودیعت(امانت) بيرته واخي لکه امانتونه چي بيرته غوښتل کيږي . داخبره له دې نيک فالي سره مترادف ده چي له کورڅخه رخصت کيدونکی له سلامتی سره بيرته راوگرځي اودبیاسلام کولوموقع ورته وموندله شي ـ انشاء الله ـ (مظاهرحق صفحه ۳۲۹ جلد۵)

دمسافررخصت کولوطريقه

مسئله : دميلمه درخصت کولوپه مهال ترکوروسره وتل ياکه څوک دسفراراده لري ترښاروتل یاترلږي ورسره تلل سنت اومستحب دی . عمر اونوروصحابه اوپه خپله رسول الله ﷺ به چي څوک په سفرتلل له هغه سره به

ترڅه لري سيمي ورسره تلل .

ابوهريره وايي : له ميلمه سره تردروازې پوري تلل سنت دی . يعني رسول الله ﷺ همداسي کول . [ابن ماجه،الجواب المتين،صفحه ۴۴]

درخصت کولودوخت دعا

دچادرخصت کولوپه مهال درسول الله ﷺ معمول وچي دهغه لاس به يې په خپل مبارک لاس نيواودعابه يې کوله : (استودع الله دينک وامانتک وخواتيم عملک)(ستاسودين،ستاسوامانت اوداعمالوخاتمه خدای ﷻ ته سپارم،هغه دي حفاظت وکړي)له دې حديث څخه داهم څرگنديږي چي درخصت کيدلوپه مهال مصافحه (لاس ورکول)هم درسول الله ﷺ معمول و .

[معارف الحديث صفحه ۲۲۳ جلد۵]

اوچي مسافرروان شي نوورته دادعاکيږي . «اللهم اَطْوِلَهُ اَبْعَدَهُ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ اَلسَّفَرَ»اى الله په خيراوعافيت سره ورته واټن لنډکړي اوسفرورته اسان کړي . [حصن حصين صفحه ۲۸]

که دچادادعاياده نه وه نولږترلږداقراني ايت دي ولولي«فالله خير حفظا وهو ارحم الراحمين»يادي خداى په اماني ووايي . [محمدرفعت قاسمي]

دسپريدلودوخت دعا

له عبدالله ابن عمررضی الله عنهما څخه روايت دى چي درسول الله ﷺ عادت وُچي کله به په سفرروانيده اوپه اوښ به سپريده نولومړى به يې درې ځله الله اکبرويل اوبيابه يې ويل : «سبحان الذي سخرلناهذاوماکناله مقرنين وانا الى ربنالمنقلبون . اللهم انانسئلک فى سفرناهذاالبروالتقوى ومن العمل ماترضى اللهم انت الصاحب فى السفروالخليفة فى الاهل والمال،اللهم انى اعوذبک من وعثاءالسفروکابة المنظروسوءالمنقلب فى الاهل والمال .»

تشريح : ددې دعاپه جزءجزءکښي سترمعنويت پروت دى . لومړنى خبره په دې حديث کښي داشوې ده چي رسول الله ﷺ به په اوښ دسپريدلوپه مهال، درې ځلي الله اکبر ويل . په هغه زمانه کښي چي به پراوښ څوک سپريده ،سپاره به دلوړوالي احساس کاووبيابه وسوسه ورته پيداکيدله لوليد نکوته چي به له هغه څخه دلويووالي خيال پيده کيده . رسول الله ﷺ به درې ځلي الله اکبرويلوسره گواکي هغه احساس اوتخيل درې ځله واهه ځان اونوروته به يې ښودله چي عظمت اوکبريائي يوازي الله ﷻ لره ده اوبيابه رسول الله ﷺ ويل سبحان الذي ... ترپايه . په دې کښي دااعتراف اوڅرگندونه ده چي داسپرلى يې راته مسخرکړى اودهغې داستعمال قدرت راکول هم دالله ﷻ کرم دى . زموږکوم کمال نه دى . بيابه رسول الله ﷺ ويل واناالى ربنالمنقلبون يعني لکه نن چي سفرکوو همداسي به يوه

ورځ له دې نرۍ ځخه سفرکوو، دخدای ﷻ لورته به ځوچي هغه موخپل مقصوداومطلب دی اوهغه به رښتونی سفروي نوله هغه ځخه غافل پاته کیدل بنده ته نه ښايي اوبيابه رسول اللهﷺ دادعاکوله: (ای الله په دې سفرکښي نيکي، پرهيزګاري اودهغه اعمالو توفيق راکړه چي ته ورباندي راضي کيږې) بې شکه په الله اوداخرت په ورځ دايمان لرونکوخلګولپاره همدامهه مسئله ده نوځکه يې لومړنی دعاهمداوه. بيايې دسفر داسا نتيا ادسفر د ژر پوره کيدلودعاکوله. وروسته به يې دالله ﷻ په حضورکښي عرض کاوو. (ای الله په دې سفرکښي زموږحقيقي ملګری يې ستاپه ملګرتيااومرسته زموږباوردی. کور، اهل اوعيال چي مي پريښود او سفر کوم دهغوی ساتونکی هم ته يې اوستاپه ستاينه مواعتماددی يعني په سفر کښي موهم عافيت اواساني په برخه کړې اوبياراتلوکښي خيراوعافيت راباندي ووينې.) [معارف الحديث صفحه ۲۱۷ جلد ۵]

يادونه: که دچاداوږده دعايادنه وه لږترلږه خودي داايت شريف يادکړي يادي په خپله ژبه ژباړه يادکړي. ﴿سبحان الذی سخرلنا هذاوماکناله مقرنين واناالی ربنالمنقلبون﴾ [پاره ۲۴ سورة الزخرف]

په سفرکښي دويري په مهال دعا

که چاته دسفريا حضرپه مهال له دښمن يانورو ځخه دناڅاپي زيان درسيدلوويره وه نودلايلف قريش سورة دی تراخره ولولي.

ابوالحسن قزويني وايي داسورة له هرزيان اوضررځخه ساتونکی دی داازمويل شوی عمل دی. [حصن حصين صفحه ۱۷۰]

دسفرپه مهال چي کومي دعاوي ويل کيږي

﴿اللهم انت الصاحب فی السفروالخليفة فی الاهل. اللهم اصحبتنافی سفرنا واخلفنافی اهلنا﴾ (ای الله! ته مودسفرملګری يې او اهل اوعيال لپاره

موقائم مقام یې ای الله ! په سفرکښې موملګری شه اوداهل اوعیال مو ساتونکی شه»
[حصن حصین صفحه ۱۷۴]
۲-کله چې په لوړه خیژي الله اکبر دی اوچې کښه کیږي سبحان الله دي وایي
۳- که سپارلي تکرشوله«یاولویدله»نوبسم الله دي وایي «اناالله واناالیه راجعون»وایي
[حصن حصین صفحه ۱۷۳]
۴- اوترڅوچې په سفرکښي وي نووقتًافوقتًادي داپنځه سورتونه تلاوت کوي :
قل یاایهاالکافرون ،اذاجاء،قل هوالله احد،دفلق سورة،اودالناس سورة
.داهرسورت په بسم الله پیل کوي اوپوره دي وایي . ددې په تلاوت سره په
سفرکښي خیراوبرکت اوخوشحالي یې ورته په برخه کیږي[حصن حصین صفحه ۱۷۷]

دمسافردعاقبلیږي

ابوهریره ﷺ فرمایي : درې دعاوي قبلیږي،په قبلیدلوکښي یې شک نشته
.یودپلاردعا ،دوهم دمسافردعااودریم دمظلوم دعا[ترمذی،ابوداؤد ،ابن ماجه]
تشریح : دمسافرددعاپه هکله دوه احتماله دي یوداچې د مسافردعادهغه چاپه
هکله قبلیږي چې له ده سره یې احسان کړی دی یاهغه ښراچې دهغه چاپه هکله
یې کوي چاچې ورته زیان رسولی وي یامطلقًاداخبره ده چې دمسافردعاقبلیږي
که هغه یې دڅان په هکله وي اوکه دبل . [مظاهرحق صفحه ۹۲ ،جلد۳ ،باب الدعاء]

دسفرپه مهال رسول الله ﷺ له کوموشیانوڅخه پناه غوښتې ده .

عبدالله ابن سرجس ﷺ وایي : رسول الله ﷺ چې به سفرکاوونو پناه به یې
غوښته هغه دسفردستونزواومحنت څخه دبیاراتلوله بدحالت څخه او
دنیکواعمالو ،اهل اومال په زیاتوالي کښي له بیانقصان څخه،دمظلوم له
ښیرااوپه راتلوکښي داهل اومال دبدحالت له لیدوڅخه . [مظاهرحق صفحه ۲۱۸ جلد۲]

کوم کلي ته دننوتلودوخت دعاء

عبدالله ابن عمررضی الله عنهما څخه روایت دی : موږله رسول الله ﷺ سره
سفرکاوو ،کله چې به رسول الله ﷺ هغه کلی ولیدچې ورته ورتلواراده به

يې وه نودرې څلي به يې ويل اللهم بارک لنافيهااوبيابه يې دادعاويله . اللهم ارزقناجناهاوجنبناالى اهلهاوحبب صالحی اهلهاالينا .
[معارف الحديث صفحه ۲۲۰ جلد۵ وحصن حصين صفحه ۱۷۲]

دقيام کولودعاء

خوله بنت حکيم رضي الله عنها وايي : ماله رسول الله ﷺ څخه واوريدل هغه وفرمايل :واره څوک چي نوي ځای ته(که په سفرکښي وي که په حضرکښي)ورشي اوداکلمې وايي،له هغه ځای څخه به ورته هيڅ زيان نه رسيږي اوداترهغه څوچي هلته هستوګنه لري . هغه کلمات دادي اعوذبکلمات الله التامات من شرماخلق .دترميذي په يوه روايت کښي دي : څوک چي همدا کلمات سهاراوماښام درې درې ځله وايي هغه ورځ به دځاروولة ضررڅخه ساتلی اوخوندي وي . [معارف الحديث صفحه ۲۲۰ ج ۵ مظاهرحق صفحه ۲۱۹ ج۲]
(يعني دريلوې په ستيشن،دبس په تم ځای،هوايي ډګرکښي دکوزيدلوپه مهال که همدادعاولوستله شي نوانشاءالله هم به يې حفاظت وشي اوهم به يې په سنت عمل وشي ـ محمد رفعت قاسمي .)

دقصرواټن حد

په قران اوحديث کښي دقصرمسافې حدبيان شوی نه دی بلکه مطلق سفر ذکرشوی دی .دلمانځه دقصرپه اړه که په راغلواحاديثونظر واچوو . درسول الله ﷺ دلمانځه بيان چي شوی دی په هغوی ځايونوکښي فرق دی،ځيني فاصلې کمي اوځيني ډيري دي . وروسته صحابه کرامو ،تابعينو اونورو امامانو د امت داسانی لپاره ترغوراوفکرکولو وروسته دخپل اجتهادپه واسطه ويلي دي چي تردې حددي په کم واټن کښي قصرنه کيږي بلکه پوره لمونځ دي کيږي په هغې مسافه ياترې ډيره کښي قصرواجب دی .

امام ابوحنیفه(رحمه الله)دقصرمسافه درې منزله مقررکړې ده . یومنزل دومره دی چې په وړوورځوکښې یوکاروان سهارروان شي اوترغرمې ورو سته ورسیږي .په دې هکله که دڅلورواماما نومسلک ته وکتل شي ،معلومیږي چې دهغه حقیقت اوپایلی په اعتباردټولومسلک یوډول دی ځکه داحنافوپه نزددقصرمسافه ۴۸ میله (پاوباندی ۷۷ کیلومتره)ده .دطحاوي په وینادشوافعوپه نزددافاصله شپاړس فرسخه ټاکل شوې ده شپاړنس فرسخه دحساب په اعتبار۴۸ میله یاپاؤباندی ۷۷کیلومترکیږي همداشان دامام مالک اواحمد(رحمه الله)همدامسلک دی . نوپه څلورو سره مذهبو کښې دقصرحد ۴۸ میله دی ـ والله اعلم . (مظاهرحق جدیدصفحه ۲۳۲ جلد۲)

مسئله : زموږپه نزددقصرلپاره دسفرمعمول ۴۸ میله (پاوباندی ۷۷ کیلو متره)شپاړس کیلومتره یومنزل تعین شوی دی .

[فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۴۴ جلد۴ آپ کی مسائل ـ درمختار]

(اوس مهال دمسافرانولپاره داسهولت دی چې ټکټ اخلي پکښې فاصله لیکلې وي چې ترهغه ځایه څوکیلومتره ده ـ محمدرفعت قاسمي غفرله)

دقصرموده

مسافرپه لمونځ ترهغه مهاله قصرکوي ترڅوخپل اصلي وطن ته رسیدلی نه وي یالږترلږه د۱۵ ورځواقامت نیت یې بل ځای کړی وي . شرط دادی چې هغه ځای داقامت لپاره برابروي . که څوک په سمندر،دارالحرب یاځنګل کښې داوسیدلونیت وکړي هغه اعتبارنلري . خوکوچیان (خانه بدوش) خلګ که په ځنګله کښې هم دپنځلس ورځواقامت نیت وکړي صحیح کیږي . ځکه هغوی دځنګله له ژوندسره عادي دي .

مسئله : که څوک دسفرترفاصلې وړاندې اقامت غوره کړی یابیرته کورته را وګرزي هغه مقیم ګرځي که څه هم ترپنځلس ورځویې دکمې هستوګنې نیت کړی وي ځکه ددې معنی داده چې دسفراراده یې پرې ایښې ده (مظاهرحق صفحه ۲۲۰ جلد۲)

په دې زمانه کښې دقصرواټن

پوښتنه : ددين پوهان دسفردمسافې په هکله څه وايي علامه شامي رحمه الله درې قولونه رانقل کړي دي . ۱۵ فرسخه،۱۸ فرسخه ۲۱ يوفرسخ درې ميله کيږي . داخبره هم ښکاره ده چي په فقه کښې دکوم ميل ذکرراغلی دی هغه شرعي ميل دی نه انګريزی ميل . ۱۵ فرسخه ۴۵ ميله،۱۸ فرسخه ۵۴ ميله،او ۲۱ فرسخه ۲۳ ميله کيږي . ۱۲ ميله هم په يوه قول راغلي دي . دامهال دميل حساب په کيلومترباندي خورا ضروردی : که د ۱۲ فرسخه خبره راواخلو۴۸ ميله کيږي اويوشرعي ميل دوه زره ګزه دی . يوانګريزی ميل ۱۷۶۰ ګزه دی . مفتي بشيراحمدصاحب دشاهي مدرسې مفتي دتحقيقاتوپه نتيجه کښې دميل اوکيلومتر تطبيق کړی دی . هغه ليکي دشرعي ميل په حساب ۴۸ ميله ۸۲ کيلومتره او۲۹۲ متره کيږي . خو۴۸ شرعي ميله ۸۷ کيلومتره ۷۸۲ متراو ۴۰ سانتي متره کيږي . دانګريزي ميل په اعتبار۴۸ انګريزي ميله ۷۷ کيلومتر۲۴۸ متر۵۱ سانتي متر۲ ملي متر کيږي . ځيني مشرانو۴۸ انګريزي ميله هم معتبربللي دي خود فقهي په کوم کتاب کي داتحقيق نشته . خوداخبره شته چي که چيري اختلاف وي نوداتمام قول ته ترجيح ورکوله کيږي نو۴۸ شرعي ميله چي له ۸۲ کيلومتر۲۹۲ مترکيږي که واټن ترې کم وي قصرنه کيږي . [مستفادايضاح المسائل صفحه ۲۸ تر۷۱]

همدا رازمولانامفتي رشيد احمدلدهيانوی په احسن الفتاوی کښې نژدې همدې ته تائيدکړی دی . که څه هم هغه دانګريزي ميل خبره تانوي رحمه الله ته منسوب کول غلطه بللې ده اوبيايې ورته رجوع کړې ده خوهغه په خپل تحقيق ولاړدی . آيادې دواړومفتيانوپلټنه سمه ده اوکه دهغوی پلټنه سمه نه وي نوتاسي مهرباني وکړئ دميل اوکيلومتردتحقيق په

هکله مونږ خبرکړئ . اوس مهال مسافه دکیلومترپه حساب څومره ده
جواب راکړئ مننه . «والسلام محمدرفعت قاسمي خادم دار العلوم دیوبند»
ځواب : باسمه سبحانه وتعالی وبالله العصمة والتوفیق حامدا ومصلیا
دشرعي سفرد مسافې په هکله دصحابه،تابعینو،مجتهدو امامانو (رحمهم
الله)ترمنځ اختلاف شته - په عمدة القاري شرح بخاري اونوروکښې یې
تفصیل موجوددی . دامام ابوحنیفه رحمة الله روایتونه هم په دې هکله
مختلف دي . خودامام صاحب صحیح اوراجح قول دادی چې دمیل
اونورڅه تحدیدپکښې نشته . بلکه درې ورځې په هوارسیمه کښې پیاده
تګ کولوواتن معتبردی چې هغه مسافه دشرعي مسافه تاکله شوې ده .
دهدایې صاحب لیکي چې ددې حاصل هم دادی چې پاس یې یادونه وشوه
«درې ورځې مسافه» الغرض - داضافومشایخوپه نزددمیلونوپه لحاظ
دمسافې تعین اعتبارنلري نوځکه ددریو ورځومسافه معتبره ده چې
دااصل مذهب دی . چې دلاري په څرنګوالي سره اختلاف پکښې راځي .
له دې سره ډیرعلماء رحمهم الله په میل اوفرسخ هم دااټکل کوي اودهغوی
اقوال هم مختلف دي . په هندوستان کښې په عامه توګه چې لاري یوډول
دي هندي محققوعلماومیلونه ټاکلي دي چې ۴۸ انګریزي میله یې دقصرواټن
ښودلی دی ځکه دعلماوپه نزدهمدومره واټن په عادي حالت کښې پیاده وهل
کیږي . پا غونډیواوډبروکښې دلاري له څرنګوالي سره دمتوسط الحاله سړي
تګ دفتوی څښتنانوتقریبي واټن ټاکلی دی . ددتفصیل لپاره وګورئ جواهرالفقه جلداول
اته څلویښت انګریزي میلونه ۷۷ کیلومتردوه سوه اته څلویښت متر
اودوه ملي متره کیږي (نژدې پاوباندې ۷۷ کیلو متر) په همدې فاصله
علماووقصرواجب ګڼلی دی اوداقول له پنځه لس فرسخه سره نژدې دی .
تنبیه : داخبره هم په خیال کې ساتل په کاردی چې دفرسخ خ
داحنافواصل مذهب نه دی بلکه هغه تقریبي اندازه ده . نودهغوی

قولونو ماعدابالکل منفي کول دروایت اودرایت مخالف دی ،. څیني علما وتراته څلویښت میله کم اوځیني ترې زیات قائل دي . نو انګریزي ۴۸ میله خبره اعدل اوپه قولونو کښې اوسطه خبره ده .

نومورېته یې هم ترجیح حاصله ده اوپه احسن الفتاوی کښې هم ۴۸ انګر یزي میلونوته میلان اورجوع شوې ده [اوګورئ احسن الفتاوی جلد۴ باب صلاة المسافرصفحه ۱۵] فقط والله سبحانه تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم

هذاماکتبه احقرالزمن العبدمحمودحسن غفرله،بلندشهري خادم دارالافتاء دارالعلوم دیوبند ۱۲/۲۹/۱۴۱۴یوم الجمعه

اصاب الی الحق العبدنظام الدین غفرله . الجواب صحیح محمدظفیر الدین،وکفیل الرحمن نشاط،الجواب صحیح محمدطاهر،الجواب صحیح حبیب الرحمن عفاالله عنه

قصرپه کومولمونځونوکښې ؟

مسئله : په درې اودوه رکعته لمونځونو کښې قصرنشته قصر یوازې په څلوررکعته لمونځونویعني ماپښین،مازدیګراو ماخستن کښې کیږي .
[علم الفقه صفحه ۱۳۰ جلد ۲ مظاهرحق کتاب الفقه]

دمابنام،سهارپه فرضولمونځونواوټولوسنتواووتروکښې قصرنشته .
[معارف القران صفحه ۵۳۴ جلد ۲]

دمسافرشرعي تعریف

شرعي سفرهغه چي احکام ورپوري ځانګړی دی . تردریو شرطونوپوري موقوف دي :

لومړی داچي سفربه لږترلږدومره کړی وي چی په پیاده تګ سره په آساني په درې ورځوکښې ووهل شي . که څه هم دریل ګاډی په واسطه هغه په دووساعتونوکښې ووهله شي . ددې مسافې اندازه په نني حساب اته څلویښت میله ده خوپه غونډیواوسیندونوکښې دااندازه معتبره نه ده .
بلکه په تجربه سره به علته ددریوورځومسافه ثابتوي .

دوهم شرط دادی چې دسفرله پیل څخه به دتللواراده همدومره لري وي . که په لس شلو میلو کښې ورته دسفراراده وه له کور څخه ووت هلته ورسید بیا ورته ددیرش میله نوره اراده هم پیداشوه هلته هم ورسید خودبیانوري لاړي تللوازتیاپیداشوه،داشخص مسافرنه دی . هغه به یوځل اته څلویښت میله سفرکوي . (که پاوباندي ۷۷کیلومترقصدونکړي که هغه ټول عمرګرځي اوټوله نړۍ وګوري مسافرنه دی . شامي)

دریم شرط دادی چې که دسفرقصدوکړي داقامت دځاي له ودانیوڅخه به ووزي بیامسافردی یوازي په نیت سره مسافرنه بلل کیږي،بلکي له خپل کلي . به وزي بیادسفراحکام ورپوري تړل کیږي که دریلوې شتیشن (دبس تم ځای) دکلي په باغونویاابادیو کښې وي هم مسافرنه بلل کیږي بلکه له کلي به وزي [احکام سفر صفحه ۳۵]

مسافرله کوم ځای څخه بلل کیږي

مسئله : که کوم مسافرد قصرپه اندازه یعني ۴۸ میله یاپاوباندي ۷۷ کیلومترسفراراده وکړي . روان شي اودکلي له ودانیووزي لمونځ به قصرکوي،که دهغه ښاراوکلي هستوګن وي اوکه نه وي .نوکه کوم شخص له خپل کلي څخه ووت ترڅوله ودانیووتلی نه وي لمونځ به نه قصرکوي که څه هم بل لورته وداني وي ..یعني دخپل کلي اوښارڅخه وتل ضروري دي اوډټولوودانیوترتیریدلو وروسته دسفرتحقق ورباندي کیږي . که څه هم ودانۍ متفرقي وي خودهغه ښارودانۍ بلل کیږي .

مسئله : که داسي محله وه چي له ښارڅخه غوڅه وه لومړی په ښارکښې وه ترڅوترې وتلي نه وي لمونځ به نه قصرکوي خوکه هغه ودانۍ ابادي نه وي بیایې سفرتروتلوموقوف نه دی .

مسئله : دسفردتحقق لپاره ضروري ده چي له ښارسره متصل کوم دهستو ګني ځايونه وي اوهغه کلی له ښارسره لګيدلی وي چي له هغوی ووزي مسافربلل کيږي . (دخپل ښارله اباديوڅخه چي ووزي هغه په شريعت کښي مسافرګڼل کيږي چي په خپلو ودانيو کښي دننه ځي هغه مسافرنه بلل کيږي . خودا دهغه ودانيوپه خلاف دي کومي چي له ښارڅخه نه وي يوازي دښارله بهرنيوميدانونوسره تړلی وي له هغوی څخه تيريدل ضروري نه دي .

مسئله : دمسافرلپاره داهم شرط نه دی چي دهغه کلي وداني له نظره ووزي بيابه سفربلل کيږي . مثلا څوک له خيريوياله خيموڅخه روان شي کومي چي له کلي څخه بهروي نوترڅوچي بهرتريږ وتلی نه وي مسافرنه ګڼل کيږي که داخيمي نژدې وي اوکه متفرق . [کتاب الفقه صفحه ۷۲۲ جلداول۔فتاوی رحيميه صفحه ۲۳۸ جلداول]

(نن سبا په هرښاراوقصبه کښي دحدودوپه اړه حکومتي بورډونه لګيدلي وي ميل اوکيلومتروربادي ليکل شوي وي . له هغوی څخه څرګنديږي چي فلانۍ سيمه شروع ياختمه شوه ـ محمدرفعت قاسمي .)

په ځنګله کښي هستوګن له کوم ځای څخه مسافرګڼل کيږي ؟

مسئله : که څوک په درياب سيمه ياځنګله کښي هستوګنه لري ترڅوله دريايي سيمي ياونووتلی نه وي مسافرنه بلل کيږي . که ځنګل خوراپراخ وياددرياب منبع کړي په دې صورت کښي له ودانيوڅخه په تيريدلو سفر معتبردی .

مسئله : دسفردتحقق لپاره يوشرط دادی چي مسافردخپلي هستوګني دسيمي له فناء (ميدان) چي ورته نژدې وي تيرشي . له فناء څخه هغه ځای مطلب دی چي دکليوالورفاهي مقصدونو لپاره تيارشوی وي . لکه داسونودځغلولو ميدان،هديره،وران ځايونه،ډيرانونه . که دافناء دکښت

اوکروندې څخه څلورسوه لاسه اوږدمیدان په فاصله وي نوله هغه څخه تیریدل دسفردتحقیق لپاره شرط نه دی.
[کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة صفحه ۷۲۷ جلد اول، بهشتي زیور-مجمع]

کوچیان له کوم ځای څخه مسافرګڼل کیږي؟

مسئله: په خیمو(اوکیږدیو)کښې هستوګنولپاره دسفرپیل له هغه ځایه دي چې هغوئ دخیموله اړونده ځایونوتیریږي لکه د ماشومانو دلوبوځایونه ،دڅغاستي ځایونه یادځارووددرولو ځایونه .داهم ضروري ده که کیږدی په لوړه وي نودهغوی ټیټ لوري او که کښته وي نولوړلوري څخه به تیریږي بیابه سفرګڼل کیږي. دوادي پساره سره که تیرشي یایې له لوړي واوړي سفربلل کیږي. داپه هغه صورت کښې چې لوړوالی اوکښته والی یادوادي پراختیاداعتدال له حدڅخه ډیرنه وي. که داپراختیازیاته وي نوبیاهغه سیمه معتبره ده چې دشپې له خواخلګ دخبرواترولپاره سره یوکښې راغونډیږي. یامثلاهغه ځایونه چې خلګ سره راغونډیږي اوخپل ضروریات ترلاسه کوي.
مسئله: هغه مسافرچې هستوګنه یې نه په ودانیوکښې وي اونه په خیمو کښې دهغه سفردهغه دهستوګنې دځای له اړوند ځایونوله تیریدلو څخه پیل کیږي. [کتاب الفقه صفحه ۷۲۵ جلداول]

دکوچیانودنیت حکم

هغه کسان چې کوچیان دي اوتل په ځنګلونوکښې په خیمو کښې هستوګنه کوي. هغوی ته خیمې هم داقامت ځای ګڼل کیږي نوځکه به هغوی خپل لمونځ پوره څلوررکعته کوي. داچې عادتانوروټه منتقل

کیږي نو که هم داسي کوي او د ۴۸ میلونو سفر اراده په یوځل وکړي او وزي نو مسافر ګڼل کیږي (چي د قصر مسافه وي نو مسافر وي)

[احکام، سفر صفحه ۴۰ بدائع صنائع صفحه ۱۰۱ ج ۱ امداد الفتاوی]

که ودانۍ ډیري شي، له کومه ځایه مسافر بلل کیږي

پوښتنه : اوس مهال ښاردومره پراخ شوی دی چي ډیر کلي کوم چي پخوا بیل وو اوس له ښار سره لګیدلي دي او د ښار یوه برخه ګرځیدلي دي. مثلاً د دهلي ،بمبی (یا کابل،کندهار) او نور ښارو نه . خو ښار په مختلفو محلونو ،ناحیو او کالونیو مشتمل وي چي بیل بیل نومونه لري نو په سفر تلونکي چي له خپلي محلې ووزي مسافر ګڼل کیږي او که ټول ښار څخه ؟

که د مسافر سفر د ښار په وتلو پیل کیږي نو یوه پوښتنه دا پیدا کیږي چي نن د هلي ودانۍ له بل ښار،غازي اباد سره لګیدلی دی او د ودانیو تسلسل راځي خو نوم ان د صوبې او ضلع نومونه یې بدلیږي . نو اوس د ښار حدود کوم ځای بلل کیږي ؟ هغه چي په حکومتي ډول حد ټاکل شوی دی او که دودانیو د تسلسل پای ؟

جواب : د اصلي یادهستوګني له سیمي څخه په وتلو د شرعي سفر اطلاق کیږي،نوري ودانۍ کهٔ څه هم ورسره نښتي وي خو نومونه یې بیل دي . حکومت او د ښار والۍ د دوارو ودانیو حدود بیل ټاکلي دي .

نو دواړه ودانیي له مستقل ابادیو څخه تجاوز کوي خو که د نږدې والي له امله حکومت هغه سره یو کړی وي نو بیا د ښار محله ده او محله د ښار جز دی نو که له هغه حد څخه تیر شي د سفر احکام ورباندي جاري کیږي .

[فتاوی رحیمیه جلد ۲ د شامي صفحه ۲۷۷ جلد اول په حواله]

د ریلوې د تم ځای او هوایي ډګر حکم

پوښتنه : په هوایي ډګر،ریل تم ځای یا نورو کښې لمونځ قصر کیږي کنه؟

جواب که ترتم ځای پوري ودانۍ مسلسلي وي(په همدې کلي اومحل کښي داخلي وي)نوهلته مسافرنه دی پوره لمونځ لازم دی له هغه ځایه چې سفرپیل کړي،مسافر بلل کیږي [فتاوی محمودیه صفحه ۲۲۸ جلد ۱۴]
(یعني که تم ځای په ښارکښي داخل وي هلته دقصراحکام نه پیل کیږي (رفعت قاسمي غفرله)

په شرعي مسافردسفرپه حال کښي قصرواجب دی

پوښتنه : څوک دلري ښار (مثلاکندهارڅخه دکابل) اراده کوي. په کورکښي لاداقصدکوي چې هلته څلورمیاشتي تیروم،دا شخص به قصر کوي کنه ؟

جواب : داشخص به په لاره کي قصرکوي ځکه په شرعي سفر (۴۸میله پاؤباندی ۷۷ کیلومتره) له کورڅخه وتلی دي . نودقصرعلت ورته پاته دی خوچي هغه لرې ښارته ورسیږي اوهلته دڅلورومیاشتودهستو ګنې قصدلري نوهلته به لمونځ پوره کوي . (په لاره کښي چې هغه سفر۴۸ میله وي قصربه کوي اوهلته چې ورسیږي اوترپنځلس ورځودزیاتي هستوګنې اراده وکړي لمونځ به پوره کوي) [فتاوي دارالعلوم صفحه ۴۷۳ جلد ۴ روالمحتار]

مسئله : دشرعي سفرحیثیت یوازي داقامت په نیت نه ختمیږي یعنې دقصرحکم نه باطلیږي ترڅویې په واقعي توګه اقامت غوره کړي نه وي مثلاڅوک له قاهرې څخه استانبول ته ځي هلته دپنځلس ورځوهستوګنې یازیات وخت تیروي نوترڅو چې په لاره کښي په سفروي قصورباندې واجب دی ترڅوهلته و نه رسیږي اواقامت غوره نکړي .
[کتاب الفقه صفحه ۷۲۲ جلد اول فتاوي دارالعلوم ۴/۴۸۴]

دلمانځه له قصرله پاره کومه لاره معتبره ده

پوښتنه : زموږله کلي، څخه کابل ته درې لارې تللي دي یوه لاره

۴۸میله ده دوهمه ۴۰ میله اودریمه پیاده لاره ده چې ۳۵ میله ده . ددې دریو لارو شرعي حکم څه دی ؟

جواب : په کومه لاره چې سفرکوې هغه اعتبارلري داهغه ۴۸میله وي قصر لازم دی که څه هم بله لاره لنډه وه

[اپ کی مسائل صفحه ۳۸۰ جلد ۲-فتاوی دارالعلوم دیوبند ۴/۴۵۲]

که سفرد قصرپه لاره وشي اوراتگ په غیرقصرلاره

پوښتنه له یوه ځایه دوې لارې دي . که په ریل گاډی کښې لاړشې قصرلازمیږي خو که پیاده په لنډه لاره لاړشي لمونځ پوره کیږي . که دیل په لاره لاړشي اوپه پیاده لاره راشي نوترکوره پورې به قصرکوي که نه؟

جواب : په دې صورت کښې په راتلوکښې هم قصرکوي ترهغه چې کورته راورسیږي ځکه ده هلته دپنځلس ورځواقامت کړی نه ؤاوهغه کلی ورته داقامت وطن نه دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۲۴ جلد ۴]

په یوه وخت کښې په دووښارونوکښې داقامت حکم

پوښتنه : زمامستقله هستوگنه په سمندري کښې ده چې له فیصل ابادڅخه دیرش میله لري ده . زه په فیصل آبادکښې دنده لرم اوهلته مې دهستوگنې ځای دی . دسفرپه مهال دسفرلپاره کوم ځای معتبردی . مستقل کورنی هستوگن ځای اوکه زماد دندې ځای ؟

جواب : دواړوته اعتبارورکول کیږي که کوم ځای څخه چې سفرپیل کړي هغه ته هم اوهغه بل ته هم . دمثال په توگه تاسوله فیصل آبادڅخه سرگودې ته سفرکوی . هغه له فیصل آبادڅخه ۴۸ یاډیرمیله لیري دی نوته مسافرېږې اوکه ته له فیصل آبادڅخه گوجره ته سفرکوې نوستاښار(سمندري)راځې ته هلته مقیم یې،که دي راتلونکی ځای له سمندرې څخه ۴۸ میله لري وي نوته مسافرېږې اوکنه نوبیامسافرنه یې .

همداسي که له سمندرې څخه دفيصل آباد په لورځې . هلته چي ورسي
مقيم يې بيا که راتونکي واټن ۴۸ ميله ؤنو مسافريې او کنه بيانه يې . [آ
کی مسائل صفحه ۳۸۳ جلد ۲]
مسئله : که شرعي مسافر په لاره کښې خيني ځايونه ځنډوکړي
مثلا يو ځای لس ورځي، هلته پنځه او بل ځای دوولس ورځی وکړي خو
پنځلس ورځي چيري دتيرولو اراده ونکړي ترهغه پوري مسافردی يعنې
لمونځ به قصر کوي [بهشتي زيور صفحة ۴۹ جلد ۲]
(که يې د سفرو روستنی هدف ۴۸ ميله وهمدايې حکم دی او که يې له پېښ
څخه دقصر د مسافې نيت نه ؤنو مسافرنه دی - رفعت قاسمي)
مسئله : که شرعي مسافر په لاره کښې معطله شي که يې ددې ځنډ نيت
ترپنځلسو ورځو کم ؤ دی مسافردی او څلور رکعتي فرض لمونځ به دوه
رکعته کوي خو که ددې ځنډ نيت يې پنځلس ورځي يا زيات ؤ بيا مسافر
دی که وروسته نيت بدل کړي او ترپنځلس ورځو وړاندي دتللو اراده وکړ
هم مسافرنه دی . لمونځ به پوره کوي ترڅو له هغه ځای څخه روان نشي
له هغه ځايه ۴۸ ميله لري روانيده مسافردی او کنه، نه مسافر کيږي .
[بهشتي زيور صفحه ۴۸ جلد ۲ دمراقي الفلاح صفحه ۲۳۱ په حواله]
مسئله : که څوک د۴۸ ميله سفراراده په کورکښې ولري خو دايې
قصدوي چي په لارکښې فلانی ځای پنځلس ورځي پاته کيږم داشخ
مسافرنه بلل کيږي (يعني قصدي وي چي په فلاني کلي کښې چي يو د
منزله ليري وي دهستو گني نيت ولري مسافرنه بلل کيږي)
تو له لاره به پوره لمونځ کوي، که هغه کلي ته ورسيد او پنځلس ورځي پ
نشو بيا هم مسافرنه دی [بهشتي زيور صفحه ۴۹ جلد ۲]

دبندي لپاره دقصرحکم

مسئله : دلمانځه دقصرلپاره دارومدارپه اختياراواضطرار کنبي نه دی بلکي په يقيني پنځلس ورځني اقامت سره دی . لکه دميرمني، خادم، غلام اوبندي اقامت اختياري نه دی بلکه دخاونداومالک داقامت تابع دی، غيراختياري دی . نوکله چي دخاونداومالک دپنځلس ورځني اقامت حال ورته معلوم شي نو پوره لمونځ لازم دی . لنده داچي که بندي په قرائينوپوهيده چي پنځلس ورځي په هغه ځایٔ کنبي پاته کيږي نووربا ندي پوره لمونځ کول لازم دي قصرنشته . [احسن الفتاوی صفحه ۷۸ جلد ۴]

مسئله : که په قيدي قصرلازم ؤ خوپه غلطي سره يې لمونځ پوره وکړ . په دوورکعتونوکنبي يې قاعده وکړه نوفرض يې ادا شول خوکه سهوسجده ونکړي دلمانځه راګرځول لازم دي خوکه يې قاعده هيره شوه نو لمونځ يې صحيح نه شو [رحيميه صفحه ۸ جلد ۵]

مسئله : په ښارکنبي داميرداقامت په نيت دپوځ سرتيري په ځنګله کنبي مقيم ګرځي . [فتاوی عالمګيري صفحه ۷۰ جلد ۳]

دپوځي لپاره دقصرلمونځ

پوښتنه : موږدجنګ په ډګرکنبي يو، کله لس ورځي، کله شل ورځي پاته کيږوموږته وراندي اطلاع نه وي کله په يوه ورځ کنبي کورته لاړشوکله لس کلونه هم نه ځوپه دې صورت کنبي به لمونځ قصرکوو، که نه ؟

جواب : په دې صورت کنبي لمونځ قصرکول دي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۷ جلد ۴]

مسئله : که اسلامي پوځ دچيري تللوقصدوکړي، وړې چترۍ، خيمې ورسره وي . په لاره چي په ځنګله کنبي واړول اودپنځلس ورځوپاته کيدلونيت يې درلودمقيم نه بلل کيږي ځکه داټول دسفرو سائل دي مسکن يې نه دی . [عالمګيري صفحه ۵۹ جلد ۳]

په سمندري جنګي مشقونوکښې دقصرحکم

سمندري بېړۍ چې په سمندرکښې تمرین یاګزمه کوي هلته به لمونځ قصرکوي که پوره ـ دبیړیوتفصیلي حالات دادي :

په بیړۍ کښې دخوراک څښاک هرڅه دکورپه څېرچمتووي هلته یوه اوني اولس ورځې پکښې وي په اوبوکښې په پرله پسې توګه وي ـ له کراچي څخه دیرش څلویښت میله لري . دسفرپه حساب په یوه ورځ په سل ګونومیله لاره په ورځ کښې ګرځي ـ مثلا کله دهمدې تمرینونوپه دوران کښې شمال،غرب اوجنوب لورته ۲۰- ۲۵ یادیرش میله قطرپه دایره کښې ګرځي آیادلته ټول حساب کیږي اوکه له کراچي څخه فاصله .

۲- کله خودرې منزله (۴۸ میله) له کراچي څخه لري ځي بیادوه یادرې ورځي ترهغې په کمه فاصله کښې ګرزي اومختلفولورو ته ځي آیادلته قصرکیږي ؟

۳- کله بیړۍ له بندرڅخه لیري ۴۸ میله ځي اوبیرته نیغه کراچي بندرته راګرځي ددې حکم څه دی ؟

۴- بیړۍ دڅوساعتونولپاره له کراچي څخه روانه شي بیاسیده یوه لورته نه بلکه مختلف لوروته ګرځي اوترپنځوس میله ډیره لاره وهي اوهمداسي بیرته راګرځيٍ خوځیني ځایونه له کراچي څخه ۴۸ میله نه نه وي نوحکم یې څه دی .

۵- بیړۍ له بندرڅخه شل پنځه ویشت میله لري دوه درې ورځي مشق اوتمرین کوي بیادریمه یاڅلورمه ورځ تر۴۸ میله ډیري فاصلې ته ځي اوبیرته راځي نوتربندرپوري به لموځونه قصرکوي کنه .

۶- له کراچي څخه ترپنځوس زیات میله تللوازاده وکړي خولاره خرابهٔ وي یادیوه بل مصلحت په خاطربیړۍ بیرته راوګرځي لمونځ به پوره کیږي اوک قصر؟

۷- کله کله بېړۍ جنګي مشقونوته ځي خوله له څوکسانوپرته نوريې نه دتګ په لوري پوهيږي اونه په واټن،هغه کسان چې پوهيږي هغوی منع شوي وي چاته نه وايي . په دې صورت کښې به لمونځ څرنګه کوي ؟ سربېره په دې که موله شرعي احکاموڅخه خبرکړي چې په کړي سفرکښې په څوميله فاصله کښې، قصرکيږي ؟

جواب (۱) دمشق په حال کښې که بېړۍ تر۴۸ ميله په کم قصرفاصله کښې شمال،جنوب شرق اوغرب ته هرڅومره فاصله ووهي لمونځ به پوره کوي قصرنه کيږي .

(۲) که يوځل له ساحل څخه ۴۸ ميله فاصله سفروکړي يا۴۸ ميله يازيات واټن نيت وکړي بيا له روانيدلوتربيرته رارسيدلو قصرکيږي .

(۳) قصرکيږي . (۴) لمونځ پوره کيږي .

(۵) که دسفردپيل په مهال د۴۸ ميله ياترهغه زيات سفراراده وه نوله شروع څخه دي قصرکوي . که يې په شروع کښې ۴۸ ميله اراده نه وه،نو۴۸ ميله رسيدلوسره به قصرشروع کوي ترڅوبندر ته رارسيږي .

(۶) هغه مهال چې اراده تبديله شي،لمونځ دي پوره کوي اوتردې وړاندې دي قصرکوي .

(۷) ښکاره ده چې دبېړۍ عام ملازمين دکماندر (قوماندان) تابع دي په دې لړکښې مسئله داده چې دمتبوع يعني قوماندان نيت معتبردی اوکه يې نيت معلوم نه وي نوکه پوښتنه چې شوې ده، دنيت اواردې معلومول مشکل وي که افسران لمونځ والاوي هغوی ته دي ګوري چې څرنګه لمونځ کوي قصرکه پوره اوکه نه تابع يعني نورملازمين دي ګوري خپل حالت يې معتبردی که ۴۸ ميله سفرشوی و لمونځ دي قصرکوي اوترهغه وړاندې دي بشپړ کوي . والله اعلم [احسن الفتاوی صفحه ۸۳- ۸۵ جلد ۴]

دمسافردکورحال احستل

حج اوجهادخوراسترعبادتونه دي خوکه څوک دخپلي کم وسي له امله په خپله داعبادتونه سرته رسولای نه شي دهغه لپاره الله تعالی دثواب دبرخي دپيداکولوغوره لاره ښودلې ده . هغه داده چي څوک له مجاهدسره دجهادپه لاره کښي مرسته کوي ياله حاجي سره دحج په تياري کښي برخه اخلي الله ﷻ هغه دجهاداوحج په ثواب کښي برخمن کوي . همداسي که څوک دجهاد يا حج(يابل څه ته)سفرکوي،اوڅوک دکورله حال احوال څخه ځان خبروي، اړتياوي يې ورته پوره کوي په دې عمل سره هغه دجهاداوحج په ثواب کښي برخه وړي . په سنن نسائي کښي راغلي چي زيدبن خالد رضي الله عنه روايت کوي چي نبوي ارشاددی :(من جهزغازيااوجهزحاجااوخلفه في اهله .الخ)

څوک چي مجاهد(دجهادلپاره)چمتوکړي ياحاجي(دحج لپاره) تيارکړي (يعني داسبابوپه چمتوکولوکښي ورسره مرسته وکړي)يادهغه دکورحال احوال واخلي يا روژه نيونکی ته افطاروركړي ده ته ددي ټولوپه څيرثواب ورکول کيږي . پرته له دې چي دهغوی ثواب کم يې (يعني هغوی ته هم ثواب رسيږي) [اسان نيکيان صفحه ۱۲۲]

دسفردملګري حق په توبه سره هم نه معاف کيږي

لکه څرنګه چي الله ﷻ دهستوګني دځای دګاونډي حقوق ښودلي دي همداسي يې دسفر دملګري حقوق هم بيان کړي دي اوله سفرله ملګري مطلب کښي هم دي چي له پخوا څخه که څه هم بلدتيانه وي خوپه سفرکښي ورسره ملګري شي لکه په بسونو،ريلونواو الوتکوکښي چي ورسره نژدې کښيني اوقران په اصطلاح ورته (صاحب بالجنب – پنځمه سپاره)(وايي يعني هغه دسفر ملګری چي دڅه وخت لپاره درسره ګاونډی شي)داسي

ګاونډي حق دادی چي له تاڅخه ورته تکليف ونه رسيږي ځيني کسان دځان دارامی په خاطردسفردملګري دتکليف څخه ځان نه ساتي خودافکرکول په کاردی چي سفردلږمهال لپاره وي په يوډول تيريږي خوکه دسفرملګري ته ناحقه ستونزه پيښه کړي دتل لپاره به يې ګناه داعمالوپه پاڼه کښي ليکلي وي.

داګناه چي ترحقوق العباد(انساني حقوقو)پوري اړه لري نويوازي په توبه نه معاف کيږي ترڅويې هغه دسفرملګری ونه بخښي. خوله دې کسانوسره چي په سفرکښي ملګرتياکيږي له هغه سره بياليدل نه وي اونه يې ادرس معلوم وي ترڅوبخښنه ترې واخستله شي. نودسفرترختميدلووروسته ددې ګناه د معافي کومه لاره نه پاته کيږي نوځکه هم دسفروملګري ته د تکليف رسولوګناه ستره اومعافي يې مشکله ده. له بلي خواکه دسفرله ملګري سره ښه رويه وشي اوترممکن حده له ايثارڅخه کارواخستل شي،دهغه دارامی هڅه وشي لږترلږه ورسره په ورينه تنده معامله وشي نودادخوراثواب عمل دی اوپه لږپاملرنه يې په بدن کښي ډيوې خزانې جمع کيدل د ی. (اسان نيکيان)

په سفرکښي دحقوق العباداهميت

انسان چي په ځانګړي ژوندکښي دشريعت پابندي همداسي په ټولنيزوچاروکښي هم دشريعت له لوري مکلف دی. نوکه دسفرملګری ديوه اوبل خيال وساتی نوبه دنياکښي هم ورته ارامی پيښيږي اوپه اخرت کښي هم. په قران اوحديث کښي ځای ځای دملګري اوپه ټولنه کښي دګډ افرادو دحقوقودخيال ساتلوتاکيدشوی دی. که هغه له هرمذهب اوملت سره اړه لري.

په قران کريم کښي چي چيري دالله ﷻ دعبادت يادونه شويده هلته دنورو انسانانودحق هم يادونه شويده. په پنځمه پاره کښي (والصاحب باالجنب

... الخ»راغلی دی په دې کښې هغه کسان هم شامل دي چې په بس ریل یاالوتکه یابل کوم مجلس کښې درسره ناست وي .له همدې امله په مسافرباندې ضروري ده چې دسفرله ملګري سره ښه ګزاره وکړي،لږترلږه له تکلیف رسولوخویې ځان وساتی په سفرکښې داسې کارکول جائزنه دی چې ملګروته ترې تکلیف ورسیږي مثلاًدسګریټ اوبیړی دودداسې پریښودل چې ملګروته تکلیف ورباندې ورسیږي .
همداسې،چټلې جوړول،تف کول دمیووپاته شونې اچول . دریل یابس له هنداروڅخه داسې تف کول یااوبه اچوّل چې نوروته ورسیږي یافرش اونورځایونه ناولې کول . داسې ځای خپل سامان ایښودل چې نوروته تکلیف وي جوازنه لري اوداګناه ده په هغه ځای کښې چې دټولوحقوق برابروي لکه په عامه مسافرخانه یابل دانتظارځای،هلته ډیرځای نیول یانوروته دکښیناستلوسهولت نه ورکول داهم ناوړه کړه وړه دی . همداوړې وړې خبرې ملګري ته غوره اخلاق وریادوي اوکیدلای شي چې دهغه اخلاق هم ښه شي اودا داخیرت ذخیره جوړه یي . [محمدرفعت قاسمي]

په دارالحرب کښې دسفراحکام

مسئله : که یوشخص په دارالحرب کښې امن وغواړي ورشي اوډهستوګني په ځای کښې دسکونت نیت وکړي،صحیح دی [خلاصه]

مسئله: که په کوم دارالحرب کښې یومسلمان وي،کافران یې په اسلام خبرشي اودده دوژلواراده وکړي هغه وویریږي اواته څلویښت میله دسفرکولواراده وکړي اوهلته وتښتي نومسافرګرځي،که څه هم هلته یوه میاشت یازیات وخت پټ شي ځکه هغه دجنګ په حال کښې دی . ددې شخص حکم دهغه چادی چې امن وغواړي دارالحرب ته ورشي اوبیاهغه خلګ خپله وعده ماته کړي اودده دوژلوقصدوکړي .

مسئله : که کوم مسلمان ددارالحرب په یوه ښارهستوګن و اوخلګوهغه واژه اودی په همدې ښارکښي ورڅخه پټ شونودا شخص به پوره لمونځ کوي . ځکه هغه په همدې ښارکښي مقیم دی نوچي بهرترې ونه وزي،نه مسافر کیږي

مسئله : همداسي که ددارالحرب په یوه ښارکښي خلګ مسلمان شول، اوددارالحرب خلګوورسره جګړه پیل کړه که همدامسلمانان په خپل ښارکښي ورسره جنګیدل نولمنځونه به پوره کوي .

مسئله : که چیري کافران ددې ښارپه مسلمانانوغالب شول اودامسلمانان یومنزل لري لاړل لمونځونه به پوره کوي خوکه درې منزله (اته څلویښت میله)لري لاړل یادانیت وکړاووتل لمنځونه به قصرکوي .

مسئله : که همداخلګ بیرته خپل ښارته راشي اوکافران ورسره مقابله ونکړي لمنځونه به پوره کوي . که مشرکان دمسلمانانوپه ښارغالب شول اوهلته هستوګن شول بیامسلمانان بیرته راغلل اومشرکانوهغه خالي کړنوکه مسلمانان هلته کورونه جوړي اودوتلواراده نلري . دادارالاسلام بلل کیږي ارهلته به پوره لمونځ کوي خوکه دکورجوړولواراده ونلري اویوازي یوه میاشت پاته کیږي اودارالاسلام ته دتللواراده کوي نولمونځونه دي قصرکوي

مسئله : که دمسلمانانولښکردارالحرب ته ننوزي اوپه کوم ښارغالب شي هلته خپل کورونه جوړوي نولمونځونه به پوره کوي . (فتاوی عالمګیری صفحه ٢٠ جلد٣)

په سفرکښي دنیت احکام

مسئله : که مسافردلمانځه په وخت داقامت نیت وکړي نوپوره لمونځ به کوي،که هغه منفردوي اوکه مقتدي،که مسبوق وي اوکه مدرک . که لاحق واودامام ترفراغت یې وروسته نیت وکړی اوکه لاحق ترقیام وروسته داقامت نیت وکړاووخت هم پاته وڅلوررکعته دي اداء کړي اوکه دلمانځه وخت تیرشوی وُبیادوه رکعته وکړي،که وخت تیرشوی واوده لالمونځ کاوه اوداقامت نیت یې وکړنوقصردي وکړي . (خلاصه)

مسئله : که مسافرترسلام وروسته داقامت نیت وکړاودسهو سجده وربانديِ واجب وه نوپه دې لمانځه کښې دده نیت نه صحیح کیږي ځکه دی له لمانځه څخه فارغ شوی دی اوبیایې نیت کړی دی . دامام ابوحنیفه اوابویوسف رحمهماالله په وینادسهوسجده ورڅخه ساقطه ده ځکه که هغه بیرته سجدې ته وګرځي لمونځ یې څلوررکعته کیږي اوسجده یې په منځ کښې راځي . نولمونځ باطلیږي .
اوکه دسهوسجده وکړي بیاداقامت نیت وکړي،دانیت صحیح کیږي اولمونځ یې څلوررکعته کیږي . که یې یوه سجده کړې وي اوکه دوې . که دسجدې په مهال نیت وکړي بیایې هم داحکم دی . ځکه چې سجده وکړي نودلمانځه تحریمه بیرته راګرځي اوصورت به یې داډول شي لکه دلمانځه په منځ کښې یې نیت کړی وي .
مسئله : که څوک دلمانځه دوخت په پیل کښې مسافروُلمونځ یې قصرو کړبیایې په همدې وخت کښې داقامت نیت وکړنوفرض یې نه بدلیږي خو که یې لمونځ کړې نه ؤاودلمانځه دوخت تراخره یې داقامت نیت وکړنو لمونځ یې څلوررکعته کیږي که څه هم دومره وخت نه ؤچې پوره لمونځ اداکړي یوازې لږلمونځ کولای شي اوکه یې دوخت ترتیریدلووروسته داقامت نیت وکړنودسفر دلمانځه قضادې راوړي . (فتاوی عالمګیری صفحه ۲۱ جلد ۲)
مسئله : څرګنده ده،ترڅوچې دسفرنیت ونشي لمونځ نه قصرکیږي،په دې باندې دټولواتفاق دی چې دقصردصحیح والي لپاره دسفرنیت شرط دی . خودسفرلپاره دوې خبرې شرط دي . یوه داچې دسفرپه پیل کښې به دشرعي سفر (۴۸ میله) نیت کوي . که څوک نیت ونکړي اونه پوهیږي چې چیرې ځي دهغه قصرنه کیږي که څه هم په ټوله نړۍ راوګرځي ځکه دقصرتر فاصلې تللواراده یې کړې نه ده . (داهم اتفاقي خبره ده)

نوهم دارادې استقلال ده،داسي چي په دې اراده کښي به دچاتابع نه وي . که څوک په سفرکښي دبل چاتابع ؤنيت يې نه کيږي ترڅويې متبوع نيت ونکړي . مثلا کومه ميرمن له خپل سړي سره سفرکوي ياکوم پوځي له خپل مشرسره ياملازم له خپل اميرسره سفرکوي . که ميرمن دقصردمسافې د سفرنيت وکړي خوخاونديې نيت ونکړي نوميرمن قصرکولای نشي . همداحال دپوځي اوملازم هم دی (دهغوی په اراده قصر نه کيږي) که يې پخوادانيت وي اوکه نه وي چي له متبوع څخه به بيليږم .
مسئله : داحنافوپه نزددسفردنيت لپاره بالغ توب شرط دی،دنابالغ ماشوم دسفرنيت نه صحيح کيږي . [کتاب الفقه صفحه ٧٢٢ جلداول]

دنيت شرطونه

مسئله : داحنافوپه نزددسفردنيت لپاره درې شرطونه دي :
١ : په پيل کښي به دپوره واټن دتللونيت کوي . ٢ : اراده به يې مستقله وي . ٣ : بالغ به وي . [کتاب الفقه صفحه ٧٢٣ جلداول]

دبې نيته سفرحکم

پوښتنه : يوشخص دتفريح نيت کوي خودکوم ځای نيت نه کوي مياشتي اوکلونه په سفرکښي وي آياقصربه کوي ؟
جواب : داشخص چي له پيله يابله موقع د٤٨ ميله سفراراده ونکړي لمونځ به پوره کوي قصربه نه کوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ٤٥٤جلد ٤]

دلمانځه په منځ کښي دقيام نيت کول

مسئله : که څوک دلمانځه په اخروخت کښي چي يوازي تحريمه پکښي ځاييږي داقامت نيت وکړي هغه مقيم بلل کيږي . که يې ترهمدې مهاله لمونځ کړی نه ونوورته قصرجوازنلري خوکه يې لمونځ کړی ؤدراګرزو لو ضرورت يې نشته . [ردمحتار]

مسئله . که څادلمانځه په دننه کښي داقامت نیت وکړکه هغه دلمانځه په پیل،منځ یاأخرکښي وي خود سهوترسجدې اویاسلام وړاندي ونو هغه به لمونځ پوره کوي،قصرړرته جوازنلري څوکه یې دلمانځه تروخت وروسته نیت وکړیالاحق (په لمانځه کښي یې اودس مات شوبیاورسره شریک شو) ئنودهغه په لمانځه ددې نیت اثرنشته . که همدالمونځ څلورړکعته ئقصرکول یې واجب دي خوترديي لمانځه وروسته ورته قصرجوازنلري

مثلا ۱ :-څادماپښین لمونځ پیل کړیورکعت یې اداکړاودلمانځه وخت تیر شواوبیایې داقامت نیت وکړنودانیت په دې لمانځه اغیزنه کوي دالمونځ به قصرکوي .

۲ :-کوم مسافردمسافرامام مقتدي ئلاحق شوبیایې پاته شوی رکعت اداکواوداقامت نیت یې وکړنوددې نیت اثرپه همدې لمانځه نشته.که لمونځ څلوررکعته ئ،قصردي کړي . [درمختاروعلم الفقه صفحه ۱۳۴ جلد۲]

مسئله : که څوک د۴۸ میله سفرپه نیت سفرپیل کړي بیادسفر ترپوره کولووړاندي بیرته راغی،کله چي یې دراګرځیدلواراده وکړه پوره لمونځ وربانديي لازم دی . داحکم په هغه صورت کښي دی چي دسفرترمسافې وړاندي دراګرځیدلواراده وکړي . په دې صورت کښي چي چیري رسیدی لمونځ پوره کول وربانديي واجب دی (داداسي ده ګواکي دسفراراده یې فسخ کړه)[کتاب الفقه صفحه ۷۷۰ جلداول]

په لمانځه کښي دلمانځه دوخت ترتیریدلووروسته داقامت نیت کول

پوښتنه زیدپه سفرکښي دی دلمرترغروب څه مهال وړاندي یې دمازیګر لمونځ پیل کړخوتردوه رکعته پوره کولووړاندي یې لمرلویده اوپه لمانځه کښي زیدپه هم هغه ښارکښي دپاته کیدلونیت وکړنو همدا لمونځ به همدا دوه رکعته کوی اوکه پوره؟

جواب : که يې دلمرترغروب وړاندي داقامت نيت کړی ؤپوره دي وکړي اوکه يې وروسته يې نيت وکړقصردی . [احسن الفتاوی صفحه ۸۱ جلد ۴]

دناڅاپه قيام حکم

مسئله : که کوم مسافر(په شرعي واټن کښي)ترتنځلس ورځودلږپاته کيدلواراده وکړي يابيله نيته پاته کيږي نوهغه مسافردي اوقصروربانديواجب دی که څه هم په دې حال وربانديکلونه تيرشي خوکه مثلاً دکاروان په انتظارکښي واوپوهيده چي ترپنځلس ورځووړاندي نه راځي نودمقيم په څيردي لمونځ پوره کوي . [کتاب الفقه صفحه ۷۷۰ جلداول]

مسئله : که څوک پرته له قصداوارادې څخه چيري ترپنځلس ورځوزيات پاته شولمونځ به قصرکوي . [مظاهرحق صفحه ۲۲۷ جلد ۲]

مسئله : که په ناڅاپي اسبابوتلل ونه شي بياهم دپنځلس ورځوځنډ قصد ونکړی تل دتللواراده ولري او کومه وجه مخته راشي قصربه کوي که څه هم ډيري ورځي اومياشتي تيري شي . [فتاوی محمديه صفحه ۹۹]

که يې لومړی دقيام نيت وکړبيايې بدل کړ

پوښتنه : زيدمسافروپه يوه قصبه کښي يې دپنځلس ورځو هستوګني نيت وکړڅلوررکعته لمونځ يې وکړخومازديګريې بيرته اراده بدله کړه اوبيايې څلوررکعتي لمونځونه دوه دوه پيل کړل نوامامت اولمونځ يې صحيح دی اوکنه ؟ که مسافر وروسته دقيام نيت بدل کړلمونځ به پوره کوي اوکه قصر؟

جواب : زيدچي لومړی يې دقيام په نيت لمونځ پوره کاووروسته چي په کومه وجه دقيام نيت فسخ کړي نوورته قصرکول صحيح دي . مسافرکه وروسته دقيام نيت بدل کړي قصرلمونځ دي کوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۷۳ جلد ۴]

دغیرشرعي سفرپه مهال دشرعي سفرنیت کول

پوښتنه : زیدچي کله له خپل کور څخه بهرکیده دشرعي سفر (۴۸میله)نیت یې نه وخودسفرپه مهال هغه دشرعي سفرنیت و کړ،هغه به له څه مهال څخه قصرکوي ؟ مثلازیدله دهلي څخه شاهدرې ته لاړاوبیرته راوگرځیده خو هلته ورته داسي څه ورته پیښ شول چي کلکتي ته لاړشي نوهغه چي له شاه درې ووزي قصربه کوي اوکه په شاهدره کښي به هم قصرکوي ؟

جواب :حامداومصليا . داشخص په شاهدره کښي مسافرنه دی بلکه له دې ځای څخه له سفرپیل کولووروسته مسافردی هوچي له شاهدرې څخه ووزي قصربه کوي اوپه شاهدره کښي مقیم دی لمونځ به پوره کوي .
[فتاوی محمودیه صفحه ۲۲۰ جلدلسم]
(که له شاهدرې دهلي ته راشي نوله دهلي څخه په وتلومسافربلل کیږي ځکه په لارکښي یې وطن دهلي دی . محمدرفعت قاسمي)

دقصرلپاره یوه ضابطه

پوښتنه : زیددتکسي ډرایوردی په میرټهـ کښي هستوګن دی . دامعلوم دي چي مثلازیدله میرټهـ څخه مظفرنگر ته روان دی چي دامسافه ۳۵ میله ده هلته قصرنه کیږي خوکه له هغه ځایه دیوبندته راځي نودقصروا تېز دی(یعني له میرټهـ څخه ۴۸ میله دی)نوپه دې صورت کښي به قصرکوي؟
جواب : که میرټهـ دزیداصلي وطن وي یایې داقامت وطن دی اوله هغه ځایه یوازي مظفرنگر ته ځي چي ۳۵ میله ده قصربه نه کوي . بیاکه له مظفرنگر څخه ددیوبنداراده وکړي . قصربه نه کوي،که له دیوبندڅخه دسهار نپور قصدوکړي بیابه هم قصرنه کوي که څه هم له میرټهـ څخه ترسهارنپورپوري دقصرمصافه (۴۸ میله)ده چي له پیل څخه یې دشرعي

سفرنیت کړي نه دی اوپه مابین دلاري کښې یې هم دقصردواتن دسفرنیت کړی نه دی اود قصر ترسفرکم نیت کړي دی .
ضابطه داده : چې دپوره مسافې دتللواراده وکړي نوقصر لازمیږي اوکه دلږي لږي مسافې دتللواراده کوي که په ټوله دنیاراوګرځي قصربه نه کوي . [فتاوی محمودیه صفحه ۲۲/۱ جلداول]

دقصردممانعت صورتونه

مسئله : په څواموروسره قصرکول (دوه رکعته لمونځ کول)منع کیږي مثلاکه څوک چیري دپنځلس ورځوهستوګنې نیت وکړي نوقصرورته منع ده . که یې دپنځلسوورځودلږهستوګنې نیت درلودکه څه هم یوساعت کم وي نوهغه مقیم نه ګڼل کیږي لمونځ به قصرکوي . ددې لپاره څلورشرطونه دي لومړی داچې په عملي توګه به سفرختموي(که روان وي سفرکوي دځند نیت نه صحیح کیږي که یوازې دپاته کیدلواراده وکړي خوسفریې لاجاري وو مقیم نه بلل کیږي قصرواجب دی) .
دوهم شرط دادی چیري چې دپاته کیدلواراده لري دهستوګنې وړبه وي . مثلاکه په صحرا(ځنګل)کښې دپاته کیدلونیت وکړي هغه چې دهستوګنې وړنه وي یاپه وړانه جزیره یاسمندرکښې نیت وکړي،قصرواجب دی .
دریم شرط دادې چې که چیري دپاته کیدلونیت وکړي هغه به یوځای وي . که یې په دووښارونوکښې دهستوګنې لپاره کوم یو شخصي نکړاودقیام نیت یې وکړ (چې هغه دقصرمانع دی) نه صحیح کیږي .څلورم شرط دادی چې نیت کونکی به دخپلي ارادې واک لري که څوک تابع وي اونیت وکړي نودهغه نیت نه سمیږي اولمونځ به پوره کوي ترڅویې دمتبوع نیت معلوم نه وي . [کتاب الفقه صفحه ۷۷۰ جلداول]

مسئله : که مسافراصلي وطن ته ورسيږي سمدستي مقيم ګڼل کيږي که څه هم ديوې دقيقې لپاره هلته ورشي اوبياسمدستي يې دبيرته تللواراده وي. [احکام سفرصفحه ۴۰]

آياپه سفرکښي قضايي لمونځ قصرکيږي ؟

مسئله : ځيني کسان په سفرکښي لمونځ قضاکوي عذريې داوي چي په دې ګڼه ګونه کښي څرنګه لمونځ وکړي . داخوراکم همتي اوغفلت دی . په ريل کښي خوخوراک،څښاک اونورطبعي اړتياوي هم نه پوره کيږي اوستونزمني وي خوله ستونزوسره دي يې پوره کوي . نوکه څوک لږهمت وکړي مسلمان څه چي غيرمسلم هم ورته دلمانځه ځای ورکوي . اودافسوس غټه خبره خولاداده چي ځيني کسان دحج په مقدس سفرکښي هم دلمانځه اهتمام نه کوي . هغه په خپل خيال يوه فريضه اداکوي خوپه يوه شپه اوورځ کښي پنځه لمونځونه پريږدي . حاجيانوته په خاص ډول دالازمه ده چي يولمونځ هم پرته له جماعت څخه ونکړي بلکه په ريل ګاډی کښي هم داذان،اقامت اوجماعت اهتمام وکړي . [آپ کی مسائل صفحه ۳۸۹جلد ۲]

مسئله : په عامه توګه په ريل کښي خوګڼه ګونه وي خوکه څه همت وي نوپه لوی تيشن کښي لمونځ کيدلای شي . په هرحال که داسي حالات رامنځته شي چي دهجوم اوازدحام له امله تګ راتګ ناممکن شي نوبياخوچاره نسته چي لمونځ قضانشي داپه هغه صورت کښي چي اودس دامکان له حده وتلی کاروی او لمونځ کول په هيڅ صورت ممکن نه وي .

[اپ کی مسائل صفحه ۳۹۰ جلد ۲]

په سفرکښي تروخت وراندي لمونځ کول

مسئله : لمونځ قضاډول جوازنه لري . يوصورت دادی چي مثل اول په ختميدلودمازيګرلمونځ وکړي اوسپاره شي مابنام که په اخروخت ځای ته

ورسيدی لمونځ وکړي دماښام وخت د ماخستن تروخت پورې شته . که دما خوستن دلمانځه تروخت وړاندې ماښام لمونځ وشي نه قضاکيږي [آپ کی مسائل صفحه ۳۵۲ جلد ۲]

دسفرد مجبوري له امله ترېوچندسيوري وروسته مازيګرلمونځ کول

پوښتنه : دبس دتللووخت داسي دی چي که دحنفي مذهب موافق دما زيګرلمونځ کووبس راځخه ځي بياداسې وخت نه مونډل کيږي چي لمونځ وشي دداسې پريشاني په مهال که دامام شافعي رحمة الله دمسلک مرابردسيوري ديوبرابرکيدوروسته د مازيګرلمونځ وشي دالمونځ صحيح دی ؟

جواب : که دبس سفرداجنجال درلودپه ريل کښي سفروکړي، که هلته هم داستونزه وه بيادسيوري تريوبرابرکيدلووروسته دمازيګرلمونځ وکړي دادصاحبينوقول دی . [فتاوی رحيميه ص ۱۳ ج ۵]

په سفرکښي دوه لمونځونه يوځای کول

پوښتنه : ايادسفرپه مهال تروخت وړاندې ديوه لمانځه سره د بل وخت لمونځ کيدلای شي ؟

جواب : ددوولمونځونويوځای کول داحنافوپه مسلک جواز نلري بلکي هرلمونځ يې په وخت کښي کول لازم دي خودسفرد اړتياله مخي داسي کيدلای شي چي لومړنی لمونځ دوخت په اخر کښي اووروستنی لمونځ دوخت په پيل کښي وکړي، په دې ډول دواړه لمونځونه په وخت کيږي حرپه ښکاره يوځای شوي وي . خوکه لومړنی وخت دومره وځنډيږي چي رحت يې تيرشي نوقضاکيږي اوکه وروستنی لمونځ دومره وختي کړي چي وخت يې لاداخل شوی نه وي نودالمونځ نه اداکيږي اوبياکول يې ضروردی . [آپ کی مسائل صفحه ۱۰۹ جلد ۲]

مسئله : که يې داسې سره يوځای کړي چي ماپښين په اخروخت کښي وکړي اومازيګرپه اول وخت کښي نوداجمع کول صحيح دي . داجمع

صورتاده حقیقتاًنه ده یعني داسي کول چي له مازیګرسره یوځای وشي داسي صحیح نه دی . [مظاهرحق ص٣٣٩ج٢]

مسئله : داحنافوپه نزدپه حج کښي دعرفات له ورځي پرته چي دظهر او عصر لمونځونه یوځای کیږي اوماپښین یې کوي بل هیچیري اوهیڅ وخت په سفراوحضرکښي دماسپښین او مازیګرلمونځونه په ماسپښین کښي یوځای کول جوازنلري . همداشان داحنافوپه نزدپرته له مزدلفې چي دماښام اوماخستن لمونځونه یوځای کیږي بل ځای نه یوځای کیږي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ٨٢ جلد٢]

په سفرکښي تهجداونورلمونځونه کیدلای شي ؟

پوښتنه : ایاپه سفرکښي دتهجد ،اشراق،ځاښت اودجمعې په ورځ صلوة التسبیح کیدلای شي کنه ؟

جواب : که وخت اوفرصت ؤبیشکه کیدلای شي . [آپ کی مسائل صفحه ٣٩٢جلد٢]

ایادقصرپه لمانځه کښي درودویل کیږي ؟

مسئله : لکه دسهارپه لمانځه کښي چي التحیات تراخیره بیادروداودعاویل کیږي اوسلام ګرزي،دقصرپه لمانځه کښي هم همداسي کیږي .

[آپ کی مسائل صفحه ٣٩٢ جلد ٢]

په سفرکښي دسنت اونفلوحکم

که مسافرپه سفرکښي وي اوچیري دلمانځه لپاره ودریږي دسنت په کولوکښي تاکیدنشته اوضرورنه دی خوکه بیړه نه وه بیاکول افضل دی خوچیري هستوګن ؤمثلادرې ځلوورځي اوسیده بیادي سنت پوره کوي داقول راجح دی . [فتاوی محمودیه صفحه ١٢٣ جلد٧]

مسئله : دبیړی په صورت کښي دسهارله سنتوڅخه پرته دنورو سنتو پرینبو دل جائزدی . داطمنان په حالت کښي دموکده سنتوکول ضروري دي. له رسول اللهﷺ څخه په سفرکښي دسنتوکول ثابت دی .

[اعلاءالسنن صفحه ١٩٠ جلد٧]

په سفرکښې دوتروحکم

مسئله : وتر واجب دي دهغوی پریښودل په هیڅ حال کښې جائزنه دی که څوک مسافروي اوکه مقیم . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۷۵ جلد ۴]

مسئله : دسهار، ماښام اووترپه لمونځونوکښې هیڅ کمي نشته هغوی تل کیږي . [بهشتي زیور صفحه ۴۸]

په سفرکښې اذان اواقامت

مسئله : مسافرچې په سفرکښې لمونځ کوي نواذان اواقامت دې وایي که څه هم یوازې وي . دآذان له برکته فرشتې راځي ورسره شریکیږي . که اذان اواقامت دواړه نه وایي یوازې اقامت ویل هم جائزدي .

مسئله : که په سفرکښې له ټولوخلکولمونځ قضاشواذان اوتکبیردې ووایي اولمونځ دې په جماعت اداکړي . [الجواب المتین صفحه ۱۵]

مسئله : سفرکه شرعي وي یالغوي، که ټول ملګرې حاضروي اذان مستحب اواقامت ویل سنت مؤکددی . په سفرکښې که یوازې لمونځ کوي هم حکم یې دادی . دریل په ډبه کښې چې خلک یوځای وي نوپه جماعت مونځ کوي اوکه یوازې په دواړوصورتونوکښې اذان ورته مستحب اواقامت سنت مؤکددی . نوپه جماعت لمونځ کوي اوکه تعلق له بلې ډبې سره نه وي نوپه هره ډبه کښې دې مستقل اذان اواقامت ویل کیږي که څه هم په بله ډبه اذان واوریدلی شي . [احسن الفتاوی صفحه ۲۹۴ جلد ۲]

دمسافرلپاره دجمعې دلمانځه، اوتراویح حکم

مسئله : په مسافرباندې دجمعې لمونځ فرض نه دی، خوکه موقع پیداکړي اودجمعې لمونځ وکړي، غوره ده، ضروري نه ده . که دجمعې لمونځ وکړي دماسپښین لمونځ یې له ذمې څخه ساقطیږي . که جمعه ونکړي دماسپښین لمونځ به کوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۷ جلد ۴]

مسئله : تراويح دې هم په سفركښې كوي . كه دتراويح په وخت كښې چيرې پاته كيږي نوپه جماعت سره دې كوي اوكه نه يوازې دې كوي . كه دسفرله امله دقرآنكريم ترتيب ورته پاته نشي نومعذوردی .
[فتاوی محموديه صفحه ۷۳جلد ۱۳]

مسئله : كه څوتنه په سفركښې وودجمعې په ورځ دماسپښين لمونځ كولای شي،هغوی چې دجمعې لمونځ يې كړی نه وي،د ماسپښين لمونځ دې په جماعت اداكړي . [فتاوی دارالعلوم قديم ص۵۸ج۱]

مسئله : مسافرد جمعې دلمانځه امامت كولای شي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۹ جلد ۴]

مسئله : دمسافرواوقيديانولپاره دجمعې له لمانځه څخه د امام ترفراغته لمونځ ځنډول مستحب دي . [فتاوی عالمګيري صفحه ۷۱ جلد ۳]

دجمعې تراذان وروسته دمسافرلپاره پيرل اوپلورل

مسئله : دجمعې په ورځ دمسافرلپاره خريد ،فروخت ياپه هوټل خوړل څښل خوجائزدي خوله تهمت څخه دځان ساتلوپه منظورځان ساتل ترې واجب دي څكه چاته نه معلوميږي چې دامسافردی . [احسن الفتاوی صفحه ۱۱۷ جلد ۴]

په مسافرباندې دجنازې دلمانځه حكم

مسئله : دجنازې لمونځ فرض كفايي دی يعني كه يې څوک اداكړي دنوروله ذمې څخه ساقطيږي . نوكه دجنازې لمونځ وشي نومسافرته يې ضرورت نه پاته كيږئ . كه لمونځ شوی نه وُغوره داده چې مسافري هم وكړي خوكه ورته ستونزې وپيادتللوبيره وه اولمونځ ځنډيده دجنازې لمونځ دې نه كوي،نه ګنهګاريږي . همداحال دخښولوهم دی كه يې موقع ومونډله په خښولو كې دې ونډه واخلي اوكه نه،نه ګنهګاريږي
[فتاوی محموديه ص۲۱۹ج۷]

دقبرونودزيارت کولولپاره سفرکول

مسئله : دقبرونوزيارت کولوترغيب په حديثونوکښې راغلي دي . داقيدنشته چې دخپل ښاردقبرونوزيارت دي وشي نود زيارت لپاره دسفرممانعت هم نشته . عائشې رضی الله عنها د خپل ورورعبدالله ابن ابی بکر ﷺ زيارت کړی دی هغه له مدينې څخه بهرپه لويه مسافه کښې و . په حديث شريف کښې د مسجدپه نيت سفرکول منع دي چې يوه مسجدته په بل فضيلت ورکړي ،داسفرمه کوي . يوازې درې مسجدونه دي چې په نورو فضيلت لري دهغوی دفضيلت لپاره ورته سفرکول جوازلري . افتاوي محموديه ص ۱۷۵ ج ۱]

دلمانځه لپاره سفرکول

پوښتنه : په برهان پورکښې دنظام الدين رحمة الله عليه له زمانې څخه دمغرب لمونځ دهغه کورترڅنګ کيږي . خلک له لرې ځايونه ورته سفر کوي . داخبره مشهوره شوی ده چې که څوکاله دلته دماښام لمونځونه وشي ديوه حج ثواب ورته رسيږي ايادا لمونځونه جوازلري .

جواب : داطريقه کوم اصل نلري په شريعت کښې يې کوم حقيقت اوبنا نشته . ددريومسجدونودثواب په هکله په حديثوکښې صراحت راغلي دی

۱- مسجدحرام ۲- مسجدنبوي ۳- مسجداقصی .

له دې څخه پرته دنورومسجدونولپاره دسفرکولومخالفت دی

[فتاوي محموديه ص ۲۱۲ جلد اول]

پرته له اجازې په سفرکښې دلوټو(ډبرو)استعمال

پوښتنه : دخپلې مدرسې داستنجاه لپاره ډبرې،دهغې مدرسې طالب العلم له ځان سره سفرته وړي . ايادااستعمالولای شي " که متولی ورته اجازه ي،دااجازه شرعااجازه بلله کيږي،که نه .

جواب : حامداً ومصلیاً . داډېرې دمدرسې داستعمال لپاره دي دسفر دور لو لپاره نه دي . دمتولي داجازې په اړه بايددامعلومه شي چي هغه ته ددې اجازه ورکولواجازه شته . که نشته . [فتاوی محمودیه صفحه ۴۹۸ جلداول]

دمسافرلپاره دمسجددفرش استعمال

پوښتنه : مسافرکه دمسجدفرش دپرېوتلولپاره استعمال کړي ایادفتوی له مخي صحیح اودتقوی له مخي ناجائزدی ؟

جواب : حامداً ومصلیاً . دفتوی له مخي صحیح ده خودتقوی له مخي احتیاط غوره دی حرام نه دی . [فتاوی محمودیه صفحه ۷۹ ۴جلد ۱]

دریل دسفراحکام

مسئله : پرته له عذره په ریل کښې په کښیناستلولمونځ کول صحیح نه دی . ځکه قیام (دریدل)فرض دی . پرته له کوم عذره کښیناستل اولمونځ کول جوازنلري .[شرح منیه اوامدادالفتاوي صفحه ۳۵۱ جلداول]

مسئله : که چا دناروغې یاکمزورې له امله دریل له حرکت سره لمونځ په ولاړه کولای نه شوای دلویدلوویره یې وه هغه ته جائزدی چي په ناسته لمونځ وکړي لکه په ځمکه چي دلمانځه حکم دی چي که څوک په قیام قادرنه ؤپه ناسته دي لمونځ وکړي خوتجربه داښيي چي په روان ریل کښې خلک په ولاړه لمونځ کولای شی . ډېرخلک دنه پوهیدلوله امله سمدستي کښیني اولمونځ کوي،دهغوی لمونځ نه کیږي،دلمانځه راګرځول وجب دي . (دامسائل دکم رفتاره ریل ګاډوپه هکله دي هغه چي ګړندي دي هلته په ولاړه لمونځ ناممکن دی هلته په کښیناستلوجائزدی .

مسئله : که په ریل کښې په [redacted]ریدلوقادرؤخودومره ځای نه ؤ چي په ولاړه لمونځ وکړي نودلمانځه لپاره دي کښیني خو وروسته دي داقضاراوړي ځکه دځای دتنګوالي له امله دقیام فرضیت نه ساقطیږي . [بحرالرائق]

مسئله : ریل ګاډی که روانه وي که ولاړه لمونځ پکښې صحیح دی .
[آداب السفرصفحه ۲۱ وعلم الفقه صفحه ۱۳۰ جلد ۲]

مسئله : په بس کښې په ناستولمونځ نه کیږي،بس والادي مناسب ځای ودروي که ونه دریدنو دلمانځه قضاګرځول ضروري دي . غوره داده چې په هرډول وي په بس کښې دي لمونځ اداکړي خوکوردي بیرته راوګرځوي .
[آپ کی مسائل ص ۳۹۰ ج ۲]

مسئله : چې دخپل ښارله ودانیووزي مسافرګڼل کیږي خوتر څوچې په اباديو کښې دننه روان وي مسافرنه بلل کیږي . که تم ځای په ودانیو کښې دننه وي دابادي حکم لري اوکه تريې وتلی وي نوهلته په رسیدلو مسافردی
[بهشتي زیورص۴۸ج۲]

مسئله : دریل په سیټونولمونځ صحیح دی،که په سفرنه کولو کښې حرج وُ
[امدادالفتاوی ص۵۲۴جلداول]

دټکټ، محصول اونورومسائل

مسئله : دریل دمسئولینوله لوري چې دڅومره سامان دلیږلواجازه وي ترهغه زیات وړل جائزنه دي .

مسئله : رشوت ورکول اودسامان وزن لږلیکل ناجائزدي . مثلاستا سو سا مان لس کیلوګرامه وي تاسووزن کوونکي یامنشي ته رشوت ورکړی هغه یې پنځه کیلوګرامه ولیکي دوه ګناوي مووکړې . یودرشوت ورکولواوبل پرته له محصول څخه دسامان وړلو .

مسئله : که په کوم صورت کښې پرته له استحقاق څخه په ظلم سره درڅخه محصول یوسي نوشرعًادرته اجازه ده چې مفت سپاره شئ اوتراجازې زیات اسباب یوسي دومره چې خپل حق موحصول شي . خود دوو خبرو خیال ساتل په کاردی : لومړی دکومي کمپنۍ ریل چې دریاندي ظلم کړی دی له هغه ریل څخه دااصول کول جائزدی له بل ریلوې څخه جوازنه لري .

دوهمه خبره داده چي په دې صورت خوستاسودحق دحصول جوازشته اماکه دماموړينودنيولوفکرؤچي هغوی مومال ونيسي اوتاسوبې عزته کړي بياستاسوهم څوک پوښتنه ونکړي نوغوره داده چي صبروکړي اوداالله ﷻ له خزانيې څخه درته ډير اجردرکړل شي.

مسئله: که په ناڅاپي توګه له ټکس څخه پرته سپاره شوي يا موټراجازه ډيرسامان يوورې خوطبيعت موغوښتل چي دريل د مسئولينوحق ورکړي خوشرميدلاست نواسانه لاره داده چي څو مره زيان موريل ته رسولي هغومره ټکټ واخلي اوپري دي کړي په دې توګه مودريل دکمپني حق ورکړ . مثلاله دهلي څخه لکهوته پرته له ټکټ څخه لاړې بيادخدای په توفيق په کار پښيمانه شوي نوهمداټکټ واخلي اوضائع يې کړي خوپه داسي خيال خلک خوراکم دي.

مسئله: که مودريل له مامورينوسره اړيکي وي اوهغوی تاسو ته ووېل چي ترفلاني ځايه له ټکټ څخه پرته سپورشه داکار شرعاً جائزنه دی. همداسي که له چاسره په خپل نوم پاس وي او قانوناً ورته اجازه نه وي چي بل چاته ورکړي نوبل ته په هغه پاس (کارډ) دسفرکولواجازه نشته.

مسئله: دکومي درجې چي ټکټ وي ترهغه په لوړه درجه سفر کول جوازنه لري. خوداجائزده چي ترخپله درجه په کم ځای کښي کښيني . په دې صورت کښي داجوازنلري چي څومره دهمدې ټکټونوپه پيسوکښي فرق دی له ريل والوته څخه په کومه طريقه هغه وصول کړی ځکه هغه تاسومنع کړي ياست تاسوپه خپله خوښه هلته ناست ياست . [رفيق سفرصفحه ۲۷-۴۰]

دريل متفرق مسائل

مسئله: ترڅوپوري چي په ريل کښي ځای وي دخلګوپوري وهل اومنع کول جوازنلري که تعدادپوره شي بيا يې حصارول او منع کول جائزدي

خوله کمزوري ،غریب ،پریشانه اومسافر وغیره سره نرمي کول اوپه تنګي کښې خای ورکول ډیرثواب لري.

مسئله : که دنورشریکانوخوښه نه وه ترخپل استحقاق ډیرځای نیول جائزنه دی. مثلادلسوکسانویوسیټ دی اولس تنه سپاره دي نودهر سوا ري برخه دسیټ (چوکی یاتختې) لسمه حصه ده. ترهغه ځای پرته دنوروله خوښې نیول صحیح نه دي اوکه اته کسان کښیني یودیوې تختې اتمه برخه دهره یوه حق دی.

مسئله : که کوم مسافردضرورت له امله بهرلاړشي،دهغه اسباب آوبستره لیري کول په خپله کښیناستل نه ښایي خوکه یې ترخپل استحقاق زیاته برخه نیولې وه هغه کمول صحیح دی.

مسئله : په ریل کښې که دچاڅه شی پاته شول هغه اخستل اوپه خپله کارول جائزنه دی. که یې دمالک له موندلوبې وسه شوبیادي صدقه کړي اوکه په خپله اړؤبیادي په خپله استعمال کړي.

مسئله : په ریل (یابس) کښې که له چاڅخه قران کریم پاته شواوداویره وه چي که یې پورته نکړي بل څوک یې بې احترامي کوي نوهغه دي واخلي اوپه صدقه کښې دي ورکړي.

مسئله : که موپه تم ځای کښې څه واخیستل اوبیه موورنکړه. دهغه شي خوړل اواستعمالول صحیح دي خوکه څرنګه ممکن وي دهغه بیه دي ورته ورسوي. که هلته څوک راتلل یادی هلته یوبااعتماده شخص ومومي اووردي کړي. که بیاهم ونه موندل شو،همدابیه دي دصدقې په توګه ورکړل شي که بیاهغه شخص پیداشواوبیه یې غوښته هغه پیسې ورکړي. دصدقه شویوپیسو صدقه ستاسوګرځي.

مسئله : که تاسودڅه شي بيه وړاندي ورکړه اوبس (یاریل) لاړخرڅوونکي پیسې درکوي خوونه رسید ،ضائع شوې ستاسوهغه مبلغ دخرڅوونکي په ذمه پاته دی . شرعاًدهغه دحصول حق لري خوغوره داده چي هغه وبخښي اوثواب ترلاسه کړي . [رفیق سفر صفحه ۳۰- ۳۲]

مسئله : که موپه تم ځای کښي څه شی واخستل . ناشته یانورڅه مودبې وزله شخص ترڅنګ خوړه لولږڅه ورته ورکړي، ترکورورکولوداثواب لري . که داسي ګنجائش نه ؤیاهمت او توفیق نه ؤنوګوښه اوپټ يې خوري په تیره دوړوماشومانوخیال ساتي .

مسئله : که دغریب سړي زوی ترسره ناست وي اوخپلوماشوما نوته موڅه واخیستل نوهغوی ته څه ورکړئ ډیرثواب لري اوکه نه لري دي لاړشي هلته يې واخلي ويې خوري ترڅوغریب ماشوم ته غم ونه رسیږي په دې کښي هم ثواب دی انشاء الله . [رفیق سفرص ۳۰]

مسئله : په پلیټ فارم (تم ځای) کښي چي کومه طریقه اولاره قانوني ده دهغې خلاف کول جوازنلري . مثلا په تم ځای کښي قانوني دي چي داستیشن دمشراجازه ضروري ده نودهغه له اجازې پرته هلته تلل جوازنلري اوکه قانون وي چي هلته پلیټ فارم پرته له ټکټ څخه تلل اجازه نلري نوبیاټکټ اخستل ضروري دي او خلاف ورزي ورڅخه جوازنلري [رفیق سفر صفحه ۳۰]

مسئله : په هوائي ډګرکښي چي کومه برخه دحکومت له لوري ممنوع شوي وي هلته پرته له اجازې ورتلل شرعاً منع دي[اداب ملاقات صفحه ۵۳]

مسئله : په ریل یابیړه یادریل اوهوائي جهازدانتظارپه خونه چي هرڅوک برابرحق لري که څوک داسي کارکوي چي نورورته تکلیف رسیږي جائزنه دي . مثلا ناپاکي اچول ، میوې پاته شوې غورځول دپان یاسګریټ پاته

شوي اچول یایې داسي دودول چي نوروته زیان رسوي داسخته ګناه ده .
په حدیث شریف کښي په داسي کوونکو لعنت ویل شوی دی .
مسئله : دریل (یابس)له کړکیوپان یاناړي داسي توف کول چي دنوروکړکیوپه کسانوورتویږي داهرڅه په همداضررکښي راځي
مسئله : دریل اوبیړیودغسل ځایونوداسي ناپاکه کول چي دنورو ورځخه کرکه وشي همداسي ګناه لري[اداب السفرصفحه ۲۰]
همداسي دریل ،بېړۍ یانوروله غسل ځایونوڅخه صابون ،تیل نورسامان وړل ناجائزدي اودادوه برابره ګناه لري . یوه دغلا کولواوبله داچي نوروخلکوته زیان رسوي . [محمدرفعت قاسمي]

په ریل کښي دلمانځه غلطه طریقه

مسئله : په ریل کښي ځني کسان داسي لمونځ کوي چي په یوه چوکۍ پښي ځوړندي کړي اوپه بله سجده کوي خوداجوازنلري،داسي لمونځ نه اداکیږي ځکه یوه خوقیام پاته کیږي اوهغه فرض دی اوبل په سجده کښي زنګنونه په ځمکه لګول فرض دي دلته هغه پاته کیږي،په ریل کښي که قبله همدغسي وي نودلاندي دی څه اسباب کښیږدي په یوه سیټ دي ودریږي اوپه بل دي سجده وکړي . که دښودلولپاره سامان نه ؤد بل مسافرسامان دي دهغه په اجازه هلته کښیږدي . که سامان نه موندل کیده نولمونځ نه کیږي کله چي شټیشن ته راشي هلته دي لمونځ وکړي . که په ریل کښي مسافر دومره ووچي دلمانځه امکان په هیڅ ډول نه ؤ،رکوع اوسجده نه کیدله نوپه دې حالت کښي دي لمونځ وځنډوي په اشاره دي نه کوي . [بهشتی زیور]

په ریل کښې په سیټ کښیناستل اولمونځ کولو حکم

پوښتنه دریل په سفرکښې که په چوکۍ کښینې اولمونځ وکړي م
دقبلې لورته نه وي .لمونځ کیږي اوکه نه کیږي ؟

جواب : څوک چې دریل په چوکۍ کښینې اولمونځ وکړي په دریووجهوې
لمونځ نه کیږي :

۱- دلمانځه دځای پاک والی شرط دی خودریل دتختې (چوکۍ) پاکوالې
مشکوک دی، ماشومان وربانديې بولې کوي .

۲- په لمانځه کښې قبلې ته مخ اړول ضروري دي پرته له هغه لمونځ ن
کیږي . دبې خبره خلګوخیال دادی چې په سفرکښې دقبلې پابندي نشت
خوداخبره غلطه ده . په سفرکښې هم قبلې ته مخ اړول دومره ضروري د
لکه په اقامت کښې چې ضروري ده . د شریعت حکم خودادی چې ک
دسفرپه دوران کښې له قبلې څخه وګرځي دلمانځه په حالت کښې دي
قبلې ته وګرځي . اوکه په سفر کښې قبله نه معلومیدله اودسمت ښودلوه
څوک نه ؤپه خپله دې فکراوغوروکړي اوپه خپل اټکل دي دقبلې لوري ته
لمونځ وکړي . که ترلمانځه وروسته ورته معلومه شوه چې کوم لورته یې
لمونځ کړی دی هغه دقبلې لوری نه ؤلمونځ یې کیږي دبیاکولو ضرورت
یې نشته خوکه دلمانځه دننه ورته دقبلې سم لوری معلوم شوپه لمانځه
کښې دي هغه لورته راوګرزي .

۳- په لمانځه کښې قیام فرض دی که څوک په سفرکښې وي ی
کورترڅویې ددریدلوطاقت وي په ناسته یې لمونځ صحیح نه دی . په د
کښې یوازې دسرپوځانګړتیانه ده دمیرمنوپه هکله هم داحکم دی . خینې
میرمنی په ناستولمونځ کوي دانه صحیح کیږي . فرض اووترپه هغوی ه

په ولاړوکول لازم دي پرته له هغه عذرنه ؤلمونځ يې نه صحيح کيږي . البته نوافل په ناسته کيدلای شي . [آپ کی مسائل صفحه ۳۸۹ جلد ۲ احسن الفتاوی صفحه ۷۸ جلد ۴]

ایا په ریل کښي هم قبله ضروري ده ؟

مسئله : په ريل کښي دلمونځ کولوپه مهال قبلې ته مخ اړول ضروري دي، د قبلې لوري ته دي مخ اړوي اولمونځ دي پيل کوي . که لمونځ کونکی وپوهيده چي ريل وګرځيد په لمانځه کښي دي قبلې ته وګرځي که څوواري ريل وګرځيدورسره ودي ګرځي که په څلورركعته لمانځه کښي څلورځله دقبلې لورته وګرزيد هم څه ستونزه نشته،اوکه په لمانځه کښي دريل په ګرځيدلوونه پوهيده اويوه لورته يې لمونځ اداکړلمونځ يې کيږي .
[فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۵۳ جلداول]

مسئله : دريل په ګرځيدلوفورادقبلې لورته مخ ګرځوي که ونه ګرځيد ياد ګرځيدلوځای نه ودالمونځ دي بيرته وګرځوي خوکه ترلمانځه وروسته دريل په ګرځيدلووپوهيد ،لمونځ يې صحيح دی . [احسن الفتاوی صفحه ۸۷ جلد ۴]

دډرايورلپاره دلمانځه قصر

پوښتنه : زه دشګواوړوتړودوړلودټرک ډرايوريم ايالمونځ به قصرکوم ؟
جواب : که ته دکراچي (يادخپلي سيمي)له حدودوڅخه بهر ۴۸ميله يعني پاؤباندی ۷۷کيلوميټره.ياتردې هم ډيرليري لاړ شې . قصرکوه که دی په سفرکښي لمونځ قضاء شواوکوردي راګرځاوه هم قصروکړه.
[اپ کی مسائل ۲/۳۸۰]

مسئله : دټرک اوريل چلولوډريوران چي په ۴۸ميله فاصله کښي تر(۱۵) ورځوکمه موده مسافروي لمونځ دي قصرکوي. [احسن الفتاوی صفحه ۸۷ ج۴]
(يعني په ورځنې سفرکښي دي قصرکوي اودادبيرې د چلوونکی حکم هم دی)
[محمدرفعت قاسمي]

دريل وي د ماموړينو لمونځ

پوښتنه : زه په ريل کښې ماموريم . زماله ترين (ريل) سره ترېنه ده . زه له کراچي څخه کويټې ته له ريل سره ځم اوله کويټې څخه بيرته کراچي ته راځم زماهستوګنه اوکورنۍ په کراچي کښې دي ايا دسفرپه دوران کښې به لمونځ قصرکوم ؟

جوابﷺ : له کراچي څخه بهردسفرپه مهال قصرکوې اوچي کراچي ته راشې پوره لمونځ کوي . ستاسوسفرکه څه هم ددندی په توګه دی خو(که ۴۸ميله سفرکيږي)دسفراحکام درباندي تطبيق کيږي . (اپ کی مسائل صفحه ۲۸۱ جلددوهم)

که ډرايورته د مالک دنيت معلومات نه وُ

پوښتنه : يوچا سفرانه لمونځ کاوه په لمانځه کښې يې د اقامت نيت وکړپيل شوی لمونځ يې پوره وکړخوډرايورته يې علم نه و چي مالک يې داقامت نيت کړي دی تردې لمانځه وروسته يې مالک ورته وويل . ډرايوربه لمونځ راګرزوي ؟کنه؟

جواب : ملازم ته چي ترڅودمالک دنيت معلومات نه وي تر هغو به لمونځ قصرکوي نودډرايوردادوه رکعته صحيح دی . نور لمونځونه دي پوره کوي خوکه دالمونځ داحتياطاً راوګرځوي غوره ده - که دادواړه په جماعت لمونځ کوي اومالک يې امام وي دجماعت ثواب يې شته اودډريورلمانځه ته زيان نه رسيږي . [احسن الفتاوي صفحه ۷۷ جلد ۴]

دمحصول څخه ځان ساتل څرنګه دي

پوښتنه : ځيني خلک داسي کوي چي له محصول څخه دځان ژغورلولپاره خپل سامان نوروته ورکوي ترڅويې وزن کم وښيي اومحصولورباندي رانشي ياکم شي داڅرنګه دي ؟

جواب : که نورومسافرانوته ووایې چې له ماسره وزن ډیردی او له تاسوسره کم دی دازیات وزن ستاسوله سامان سره کښیږدی اوداحسان راسره وکړی زه به محصول نه ورکوم په دې کښې کوم حرج نه ښکاري لکه داچې خپل څه سامان بل مسافرته ورکړی چې دااسباب ستاسوله سامان سره حساب کړی. [فتاوي دارالعلوم صفحه ۲جلد ۲]

له ریل اونوروڅخه ضمانت اخستل

مسئله : دډیرمحصول مال دکم ښودلوغوښتنه حرامه اودلویو مامورینو خوشي یااجازه معتبره نه ده ځکه هغوی دریل مالکان نه دي.

مسئله : اصل مصارف لاس ته راوړل جائزدي اوضروري لګښت هم له اصل مصارف سره یوځای کیږي په هغوی کښې دلیکونوتکتونه هم داخل دی [امدادالفتاوي صفحه ۴۵۰ جلداول]

مسئله : دریل کمپنی ضمانه ده ،هغه به داموالوحفاظت کوي نوځکه ورڅخه ترلاسه کول صحیح دي .[امدادالفتاوي صفحه ۳۲۱ جلد ۳]

دریل ګاډی داوبوحکم

پوښتنه : دریل ګاډی په فلش کښې اوبه وي . هغه به پاکي ګڼو که ناپاکي که هغه اوبه وي بیاتیمیم کول جوازلري که نه ځکه په هغواوبواودس کول طبعیت نه خوښوي ؟

جواب : حامداً ومصلیاً هغه اوبه پاکي دي . په طبیعي کراهت سره دي شبه ورباندي نه کوي ،په هغه حالت تیمم جوازنه لري .[فتاوي محمودیه ۲/۲۴]

په ریل کښې دجنابت غسل څرنګه ده ؟

مسئله : عموماً په ریل کښې دومره اوبه وي چې ورباندې غسل کیږي خوکه اوبه له اوداسه لپاره وي اودغسل لپاره کافي نه وي نودغسل لپاره تیمم کیدلی شي خوداشرطونه لري :

۱:دټرین په کومه ډبه کښې به دومره اوبه نه وي چې دغسل فرائض ورباندې پوره شي.
۲:په لارکښې به تریومیل پوري تمځای نه وي،هلته چې اوبه موجودي وي
۳:دټرین په سیټونوبه دومره ګردراټول شوي وي چې تیمم ورباندې ووهل شي

که په پورتنیوشرطونوکښې کوم یوپوره نه ؤنوځرنګه چې کیدلای شي لمونځ دي وکړي بیاچې غسل وکړي لمونځ دي وګرځوي . «داپه هغه صورت کښې چې دغسل ارتیاپیښنه شوې وي» [آپ کی مسائل صفحه ۵۲ جلد ۲]

دسمندري سفردعاوي

په سمندري سفرکښې له ډوبیدلواوطوفان څخه دخوندي کیدلولپاره یوازنی زریعه داده چې دسپریدلوپه مهال داآیت ولوستل شي : بسم الله مجرهاومرسهاان ربي لغفوررحیم .[پاره ۱۳ سوره هود]

«وماقدرواالله حق قدره والارض جمیعاًقبضته یوم القیمة والسموت مطویت بیمینه سبحنه وتعالی عمایشرکون» [پاره ۲۴ سوره الزمر]

په سمندري سفرکښې له کومه ځایه مسافربلل کیږي ؟

مسئله : که سمندري سفروکه هغه سمندرله کوم ښارسره لګیدي و لکه له جدې څخه چې سفروشي ، په دې صورت کښې دبیړۍ له حرکت سره سفرپیل کیږي . په دې حالت کښې فصیل اونور اعتبارنلري که څه هم هغه ښارفصیل ولري «دحدودولپاره یې دیوال ودان کړي وي»خوکه بیړۍ دښاردودانیوترڅنګ روانه وي نوترهغه چې له ودانیوتیره شوي نه وي لمونځ نه قصرکیږي[کتاب الفقه صفحه ۷۲۵ جلد اول]

دسمندري سفراحکام

مسئله : په سمندرکښي که په بیړۍ څوک سفرکوي دهغه لپاره هم عام احکام هغه دي کوم چي په وچه کښي دي خوپه یوڅو حکمونوکښي یې توپیردي ،هغه بیانیږي .

مسئله : په وچه کښي ددریوورځود(۴۸میله) سفرپه شرعي لحاظ اعتبار لري خوپه سمندراوغرونوکښي دامسافه اعتبار نلري . بلکه ودي کتل شي چي په دریوورځوکښي متوسطه بیړۍ څومره مسافه وهي هغه اعتبارلري که څه هم ستره بیړۍ هغه په یوه ساعت کښي ووهي . همداسي په غرونوکښي تلل هم دمتوسط القوت شخص تلل معتبردي چي په دریو ورځوکښي څومره فاصله وهلای شوای،هغه دشرعي سفرمسافه ده او لمونځ قصرکول لازم دي . که څه هم الوتکه یابله دسپارلۍ ذریعه هغه په یوه ساعت کښي ووهي .

مسئله : دسمندرپه سفرکښي په بیړۍ کښي پرته له عذره دامام اعظم رحمه الله په نزدلمونځ په ناسته جوازلري خوکه په ولاړه وشي افضل اوغوره دی . [شرح منیه صفحه ۲۷۰ احسن الفتاوی]

مسئله : ریل په دې قیاس کول جائزنه دی . په ریل کښي پرته له عذره په ناسته لمونځ کول په اتفاق سره ناجائزدی . که څوک هلته پرته له عذرڅخه په ناسته لمونځ وکړي بیرته راګرځول یې لازم دي . که بیړۍ یاسمندري جهازپه څنډه کښي ودریږي هلته هم له عذرڅخه پرته په ناسته لمونځ کول جوازنلري

مسئله : لکه څرنګه چي په ریل کښي مخ قبلې ته ګرځول ضروري دي همداسي په بیړۍ کښي استقبال دقبلې فرض دی . په سمندرکښي دقبلې لوري معلوم په لمر،سپوږمۍ اوستوروهم کیږي اوپه قطب نماهم کیدلای شي .

مسئله : که په جهازيابيړۍ کښې چاته قې ورته يايې سرګرځيده اوکښيناستلوېې هم دلمانځه قدرت نه وُيه پروتودې په اشاره لمونځ وکړي. [احکام سفرصفحه ۴۵]

دهوائي سفراحکام

مسئله : دهوايي سفرهم عام احکام هغه دي چې دوچې په سفرکښې دي خوپه هوايي سفرکښې داتفصيل شته چې کله الوتکه په ځمکه روانه وي هغه درېل حکم لري . لمونځ پکښې په اتفاقي دول جائزدی خوکه هغه په هواوي هلته هم دعذرله امله لمونځ کول نه دی پکار کنه دفقهي دقوانينوپه لحاظ پکښې لمونځ کول جوازلري . خوداچې هلته عذردی ځکه الوتکه هرځای نه کښيني اونه دهغې کښته کيدل دمسافرپه واک کښې ده اونه دامکن دی چې الوتکه په هواکښې وي اوخوک ترې کښته شي نوکه داويره وه دجهازتررسيدلوپورې لمونځ قضاکيږي نوپه الوتکه کښې لمونځ جائزدی.

مسئله : که په هوايي جهازکښې په ولاړولمونځ کيدلای شي ودي کړي کنه په ناستودي وکړي .

مسئله : په الوتکه کښې اوبه موندل کيږي اودس دي کوي که اوبه نه وې بياتيمم جائزدی خوچې دلمانځه دوخت دتيريدلوويره وي .

مسئله : دچاچې هوايي سفراوږدوي اوداويره ورسره وي چې اوبه نه موندل کيږي اوتيمم وهلوته اړتياليدله کيږي نوورته ښايي چې خاورين لوښي له ځان سره واخلي په هغه تيمم وکړي يا دجاموپه کځوړه کښې ورسره خاوره واخلي په هغې کځوړه تيمم وهل کيږي چې دخاورو ګرد جاموته ورسيږي .

مسئله : لکه څرنګه چې په سمندري جهازکښې قبلې ته مخ اړول ضروري دی، همداسې په الوتکه کښې هم دقبلې استقبال ضروردی . که قبله نه

معلومیدله اوڅوک نه وچي ورته ویې ښیي. په اټکل دي معلومه کړي کوم لوري ته چي یې یقین راغی هغه لوري ته دي لمونځ وکړي. که وروسته دده اټکل غلط وخوت هم لمونځ یې کیږي، راګرځول یې ضرورنه دي.
[احکام سفرصفحه۴۸]

ایاپه بندرګاه کښي به لمونځ قصرکوي؟

پوښتنه: دکراچي هستوګن یادبیړی مامورکه په بیړی کښي سفرکوي نو دقصرلمونځ یې څه مهال پیل اوڅه مهال ختمیږي؟ ایاپه بیړی کښي په سپریدلوچي په ساحل کښي ولاړه وي اوکه هغه روانه شي قصرپیل کیږي ؟

جواب: بندرګاه اودانتظارځای یعني که ځای نه وي اوبیړی د انتظارلپاره پکښې ولاړه وي هغه دښارپه فناء کښي داخل وي که دښاردفناء اوښار تر منځ کرل شوي څمکه نه وي یا۱۲/۱۳۲ متر واټن نه ؤنو دسفر داحکامو په لحاظ همدافناء دښارحکم لري نودروانیدلو اورا رسیدلو پر مهال به هلته لمونځ پوره کوي خوڅوک چي دکراچي هستوګن نه وي اوهلته د پنځلس ور څوپاته کیدلونیت هم ونلري لمونځ به قصرکوي. [احسن الفتاوی صفحه ۹۰ جلد۴]

په تم ځای کښي دقصردحکم تفصیل

پوښتنه: زموږښاردسمندرپه غاړه پروت دی واټن ترپنځوس ګزه ډیرنه دی په سمندرکښي بیړی یوسل څخه تردرې سوو ګزو نوپوري نژدې دریږي. آیاله هغوی څخه قصرپیل کیږي؟

جواب: تم ځای دښارفناء ده. حکم یې دښاردی. حکم یې دادی که یې له ښارڅخه واټن تر۱۳۷/۱۲ متره کم وي یایې ترمنځ کرلې مځکه نه وي نوهلته قصرنه کیږي لږه ترلږه همدومره فاصله به وي اویابه کرلې مځکه وي چي قصرپیل شي. نوله تم ځای سره نژدې دسمندرپه غاړه کومه

ودانۍ له ښارڅخه په پنځوس ګزه کښې وي اوداتم ځای په سل ګزه کښې وي نو ترمنځ يې ۱۳۷/۱۲ متره واټن نشته ځکه يې حکم دښاردی اوکه دسمندر په څنډه کومه ودانۍ نه وي او ۱۳۷/۱۲ متره واټن لرې بیاقصرکیږي . [احسن الفتاوی صفحه ۷۴ جلد ۴]

په الوتکه کښې دلمانځه حکم

مسئله : دپروازپه حالت کښې په هوايي جهازکښې دلمانځه حکم درواني بيړۍ په څيردی يعني دعذرله امله لمونځ پکښې جائز دی . خوددريدلوپه حالت کښې ددواړوحکمونه توپيرلري الوتکه که په ځمکه ولاړه وي په اتفاق سره لمونځ پکښې صحيح دی خوکه بيړۍ دساحل له څنډې سره ولاړوي دلمانځه جوازپکښې اختلافي مسئله ده . خوعدم جوازيې غوره دی خوکه دبيړۍ مامورين دلمانځه لپاره دکښته کيدلواجازه نه ورکوله په بيړۍ کښې دي لمونځ وکړي خوبيادي راوګرزوي . [احسن الفتاوی صفحه ۹۰ جلد ۴]

که يې دماښام لمونځ وکړپه الوتکه کښې يې سفروکړاوبيا لمر څرګند شو

پوښتنه : که چادماښام لمونځ وکړاوپه الوتکه کښې سپورشو، الوتکه دلويديزپه لورروانه وه دومره چټکه روانه وه چې لمربياښکاره شودا شخص به دماښام لمونځ بياکوي ؟

که روژتي سړی روژه ماته کړه نوروژه يې صحيح شوه اوکنه ؟

جواب : دماښام لمونځ بياکول لازم نه دی، روژه هم صحيح ګڼل کيږئ خوله قواعدوڅخه څرګنديږي چې ترماښام پورې دڅه شي نه خوړل واجب دی . [احسن الفتاوی صفحه ۷۰ جلد ۴]

مسئله : چيرې چې شپږمياشتې ورځ اوشپږمياشتې شپه وي، هلته دې دلمونځونووختونه معلوموي اولمونځونه دې اداکوي .. مثلا ۲۴ ساعته شپه اوورځ ده دوی دې پکښې پنځه لمونځونه دمعهودفصل په توګه پوره

کوي اوروژه دي دقريب هيوادپه وخت ښيي اودهغه ځخه دي دروژې مياشت هم معلوموي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ٦٨ جلد ٢]
(هلته دي وخت اندازه کوي په ۲۴ ساعتونو کښې پنځه وخته لمونځونه بيل، بيل له فصل سره سم اداکول واجب دي اوداقول مختاردی . محمدرفعت قاسمي)

دقصردلمانځه معيار ﷻ

مسئله : دسمندري جهازکارکوونکي دژوندتول سهولتونه دارام سفرغوره خوراک ځښاک لري بياهم مسافردی خوکه بيړی له کوم ښارسره تم شي اوتم ځای له ښارښره يوتصورشي اوهلته دپنځلسوياديروورځوپاته کيدلونيت وکړي لمونځ به پوره کوي .

ستاسودالارښوونه په ځای ده چي (په سفرکښې دلمانځه د قصروجه دسفرتکليفونه اوستونزي دي) خوداچي په سفر کښې عموماًتکليفونه پيښيږي له دې امله شريعت دقصر دارو مدارسفرپللی دی چي يوظاهر سبب دی، کنه دخلګولپاره داپر ېکړه کول ګرانه ده چي په دې سفرکښې ستونزي شته اوکنه؟لنډه داچي ددې حکم اصل علت تکليف اومشقت دی خودهغه څه معيارمعلومول مشکل دی،له همدې امله د شريعت احکام دتکليف په اعتبارنه دي بلکي سفري معيار ښودلی دی که په هغه کښې ستونزي وې اوکه نه وې فرض لمونځ به قصرکوي پوره کول يې جائزنه دي
[آپ کی مسائل صفحه ۳۸۸ جلد ۲ امدادالفتاوی صفحه ۵۸۹ جلد ۱]

دجهازدعملې لپاره قصر

پوښتنه : زه دجهازپه عمله کښې يومامورېم . بيړی تل لري هيوادونوته ځي . کله يوځای لس پنځلس ورځي مياشت دوه مياشتي ولاړه وي . دانه معلوميږي چي له هغه ځايه به کله روانيږي ځيني جهازونه له يوه معلوم ځای ځخه بل معلوم ځای ته ځي . مورته شپږاوه مياشتي کله لايودوه کاله وروسته ځای ته دتللوامکان پيداکيږي . اياپه داسې حالاتوکښې به لمو نځونه قصرکوواوکه پوره ؟

جواب : په دې صورت کښې ترڅوچې خپل وطن ته رارسيدلې نه ياست لمونځ به قصرکوي کله چې هيوادته راورسيږې بيابه لمونځونه پوره کوی.
جهازچي له يوه معلوم ځای څخه بل معلوم ځای ته ځی هم داحکم لري لمونځ به قصرکوي[فتاوي دارالعلوم ۴۲۴-۴] (څکه مامورينوته روانيدلودوخت معلومات نشته څکه به قصرکوي خوکه جهازيابله واسطه په کوم ښارکښې تم کيږي او هلته پنځلس ياډيري ورځي پاته کيږي لمونځونه به پوره کوي) [محمدرفعت قاسمي]
مسئله : په شريعت کښې وهم اوخيال ته اعتبارنشته بلکه ظن غالب اعتبارلري که هغوی ته له کمپنې څخه په سفردتللوګمان غالب وي اومعياري دادي چې ډيري مياشتې ورته دسفرحکم کيږي نوورته داسې موقع نه ترلاسه کيږي چې په خپله اراده لس پنځلس ورځي تيري کړي په داسې حالت کښې ورته قصرکول صحيح دی. په دې شرط چې هغه ځای يې اصلي وطن نه وي . که يې غالب اټکل نه ؤيوازي خيال اووهم ؤچې ښايد دسفرامربه وشي دې ته اعتبارنشته . که داخلګ په رنګون کښې (جهازبه هم تم شوی وي) داقامت نيت وکړي ياورته په غالب ګمان دامعلو-ميږي چې ترپنځلس ورځوپوري له دې ځای څخه نه ځونومقيم دی اولمونځ به پوره کوي . خوکه په تيروورختونوکښې کله داسې پيښه شوې وي چې غالبًايې پنځلس ورځي تيروي اوده ته محققه نه وه يايې دپنځلس ورځونيت وکړاوپه غالب ګمان يې دپنځلس ورځودپوره .کيدلوهيله وه خودې کسانوپه غلطي سره لمونځ قصرکړی ؤنوددې ورځودلمانځه اعاده ورباندې ضروري ده . [امدادالاحکام صفحه ۷۱۵ جلداول]

هوايي سفرکښې که ورځ اوږده یالنډه شوه

ښتنه که په هوايي جهاز (الوتکه) کښې څوک دلویدیزپه لور
فروکړي،لمرنه لوېږي ولمونځ به څرنګه اداکوي . اوروژه به څه وخت ماتوي ؟
ددې په عکس څوک ختیزته تلل په هغه صورت کښې ورځ خورالنډيږي ؟
واب : دردالمحتارد ۳۳۹ مخ لومړی ټوک له عبارت څخه معلومیږي چې
یدیزته تلونکی شخص یو۲۴ ساعتونوکښې پنځه وخته لمونځونه
ولاتی شي نوهرلمونځ دی دوخت په داخلیدلوسره وکړي اوکه ورځ دومره
وږدیدله چې پنځه وخته لمونځونه په ۲۴ ساعتونوکښې نه راتلل بیادي
عامو ورځوپه څېردلمانځه وختو په هغه فصل سره اداکړي . همدادروژې
کم هم دی . که له سپیدوڅخه تر۲۴ ساعتونوپوري دافطاروخت راته
لمر لویدو وروسته یې افطاروکړی په هغوهیوادونوکښې چې په
قل ډول ورځې دومره اوږدې وي چې په ۲۴ ساعتونوکښې یوازې د
ت په اندازه دخوراک څښاک وخت موندل کیږي نوترغروب وړاندې
- افطار اجازه نشته،نوکه په شاذاونادرډول یوه ورځ اوږدېږي په اولی
وزه ماتولواجازه نشته . خوکه په ۲۴ ساعتونوکښې غروب نه
اعتونو کښې ورته دومره وخت نه موندل کیده چې خوراک
ردي وکړي . که دصبح صادق په مهال هم په سفرکښې ؤروژه
ده . بیادي قضاراوړي اوکه همدامهال مسافرنه ؤنوروژه نیول
دومره داوږدې ورځې تحمل ورسره نه ؤسفرورته ناجائزدی .
دختیزپه لورځې دلمانځه وختونه وړباندې تیریدل په هغه
ـبې دي لمونځونه وکړي اوروژه دي هم ترغروب وروسته ماته کړي

صوم (روژې) معنی ده له سهاره ترماښامه امساک . (احسن الفتاوی صفحه ۷۱ جلد ۴)

په هوایي سفرکښې که ورځ اوږده یالنډه شوه

پوښتنه : که په هوایي جهاز «الوتکه» کښې څوک دلویدیزپه لور سفروکړي،لمرنه لویږي نولمونځ به څرنګه اداکوي . اوروژه به څه وخت ماتوي ؟ یاددې په عکس څوک ختیزته تلل په هغه صورت کښې ورځ خورالنډیږي ؟

جواب : دردالمحتارد ۳۳۹ مخ لومړی ټوک له عبارت څخه معلومیږي چې لویدیزته تلونکی شخص یو۲۴ ساعتونوکښې پنځه وخته لمونځونه کولای شي نوهرلمونځ دی دوخت په داخلیدلوسره وکړي اوکه ورځ دومره اوږدیدله چې پنځه وخته لمونځونه په ۲۴ ساعتونوکښې نه راتلل بیادې دعامو ورځوپه څېردلمانځه وختو په هغه فصل سره اداکړي . همدادروژې حکم هم دی . که له سپیدوڅخه تر۲۴ ساعتونوپورې دافطاروخت راته ترلمر لویدو وروسته یې افطاروکړی په هغوهیوادونوکښې چې په مستقل ډول ورځې دومره اوږدې وي چې په ۲۴ ساعتونوکښې یوازې د کفایت په اندازه دخوراک څښاک وخت موندل کیږي نوترغروب وړاندې ورته دافطاراجازه نشته،نوکه په شاذاونادرډول یوه ورځ اوږدېږي په اولی طریقه ورته دروژه ماتولواجازه نشته . خوکه په ۲۴ ساعتونوکښې غروب نه کیده اوپه ۲۴ ساعتونو کښې ورته دومره وخت نه موندل کیده چې خوراک څښاک وکړي افطاردې وکړي . که دصبح صادق په مهال هم په سفرکښې وُروژه وربانديي فرض نه ده . بیادې قضاراوړي اوکه همدامهال مسافرنه وُنوروژه نیول فرض ده اوکه دومره داوږدې ورځې تحمل ورسره نه وُسفرورته ناجائزدی .

څوک چې دختیزپه لورځې دلمانځه وختونه وربانديي تیریدل په هغه وختونوکښې دې لمونځونه وکړي اوروژه دې هم ترغروب وروسته ماته کړي

ځکه دصوم «روژې» معنی ده له سهاره ترماښامه امساک . «احسن الفتاوی صفحه ۷۱ جلد ۴»

په بېړۍ کښې دلمانځه احکام

مسئله : په کشتۍ کښې که لمونځ کوونکی په دې قادرؤچې له کشتۍ څخه بهروزي نومستحب داده چې دلمانځه لپاره بهر ووزي . [محيط سرخسي]

مسئله که بېړۍ روانه وه اولمونځ کوونکی په دريدلو قادر ؤ د هغه سره يې په ناسته لمونځ وکړنودامام صاحب په نزد جائز خو مکروه دی .

مسئله : که بېړۍ ولاړه وه،روانه نه وه نوپه هغې کښې په اتفاق سره په ناستولمونځ کول جائزنه دی . [تهذيب]

مسئله : که بېړۍ ولاړه وه . لمونځ يې په ولاړه پکې وکړ،بېړۍ په خمکه ولاړه وه نوجائزدی خوکه بېړۍ په خمکه ولاړه نه وه اوبهروتل ورڅخه ممکن وونولمونځ پکښې جائزنه دی . [محيط سرخسي]

مسئله : که بېړۍ په سمندرکښې ولاړه وه خوښوريدله نواصح داده که له هواسره ښوريدله درواني کښتۍ حکم لري اوکه يې ښوريدل کم ؤدولاړې کښتۍ حکم لري .

مسئله : که په بېړۍ کښې په ولاړولمونځ کولوسردردکاوونوپه کښتۍ کښې په کښيناستلو په اتفاق سره لمونځ صحيح دی . [خلاصه عالمگيري]

په بېړۍ کښې دقبلې حکم

مسئله : په بېړۍ کښې دلمانځه دپيل کولوپه مهال مخ دقبلې لوري ته کول لازم دي .

مسئله : که کښتۍ وگرزي نولمونځ کوونکی دي قبلې ته مخ واړوي اوک يې له قدرت سره سره بياهم مخ ونه اړاولمونځ نه صحيح کيږي .

مسئله : که دکشتۍ په دننه کښې داقامت نيت وکړي،نه صحيح کيږ مقيم نه بلل کيږي . دملاح (کښتۍ چلوونکي) لپاره هم داحکم دی خوک کښتۍ دهغه ښارياکلي ته نژدې وه نوهغه مهال داصل اقامت له امله مقي گڼل کيږي . [محيط سرخسي]

مسئله : که مسافرپه کښتی. کښې ترښاربهرلمونځ پیل کړاو کشتی. په تلوتلوښارته دننه شوه نوهغه دي څلوررکعته پوره کړي ‎[عالمګیری صفحه ۲۲ جلد۳]

په ډولی. کښې لمونځ کول

مسئله : که چاته په ناستولمونځ کول صحیح وي،هغوی ته په ډولی (کجاوه ، تذکره) کښې هم لمونځ صحیح دی خوکه هغه دحمالانوپه اوږووي بیا لمونځ پکښې نه کیږي په ځمکه به یې ږدي .

مسئله که له اوښ یاګاډي. څخه په کښته کیدلوکښې دمال یاځان خطره وه نوپرته له کښته کیدلولمونځ صحیح دی . [بهشتي زیور صفحه ۵۱ جلد۲]

دنوي سپارلی. په هکله دعاء

که څوک نوې سپارلی. (سائیکل،موټرسائیکل،موټر،بس یابل څه) واخلي، نوپه هغه دي لاس کښیږدي اودادعادي ولولي انشاء الله خیر،برکت اوخوندیتوب به پکښې وي . دعاداده :

(اللهم انی اسئلک من خیرهاوخیرماجبلتهاعلیه واعوذبک من شرها وشرما جبلتهاعلیه) [حصن حصین صفحه ۱۲۵]

دخاروي وهل څرنګه دي ؟

مسئله آس اونوردسپارلي څاروي په تازیانه یابل څه وهل جائزدي . که سره له وسه په تللوکښې یې سستي کوله نوپه معمولي توګه وهل یې جائزدي خوپه مخ اوسرئ یې نه وهي تر وس زیات بارباروول یاکمزوری څاروی وهل اوتېښي کول سخت منع دي . [الجواب المتین صفحه ۴۴]

دغوايي په ګاډی. کښې لمونځ کول

پوښتنه : که ګاډی. په آس اویاغوایي تړلې وي په هغې کښې دریدل لمونځ کول که فرض وي که سنت صحیح دی که نه ؟

جواب : فرض اوسنت له عذره پرته پکښې کول جوازنلري، نوافل جائزدي . که قبلې ته مخامخ کیدل ستونزمن ؤهم معاف دی . همداسي داسې

پاسه هم نوافل روادي دسجدې په ځای دي اشاره کوي . نه دقبلې استقبال ضروري دی اونه هم دآس رکاب اوزین پاکوالی . په لمونځ کونکي به نجا ست نه وي . که ګاډی دآس وه چي وزن یې په څاروي نه ولکه داوښ ګاډی هلته فرض هم صحیح دي خوقبلې ته مخ ګرځول اوقیام شرط دی . [أحسن الفتاوی صفحه ۸۸ جلد ۴]

په سپارلې دپاسه دلمونځ کولو حکم

مسئله : په سپارلی دپاسه لمونځ کول جائزدی خوفرض نه دی داحنافو په نزد دسهار سنت هم واجب دي چي له سپارلی څخه کښته اداشي . څکه پرته له عذره په ناستوکول جائزنه دي . فرض لمونځ دسپارلی دپاسه جائزنه دی خوپه دې عذروسره جوازلري:

۱- که څوک په ځنګله کښې وي اودمال یاځان دضائع کیدلوویره پرې غالبه وه . مثلاویریده چي کښته شي اولمونځ وکړي . غل به مي مال اواسباب یوسي یابه کوم درنده ته زیان ورسوي یابه له کاروانه پاته شي یابه لاره ورکه کړي .

۲- یایې سپارلی دومره یاغي وي چي که ترې کښته شي بیاور باندې سپریدل ممکن نه وي .

۳- یالمونځ کوونکی دومره کمزوری وي چي نه په خپله کښته کیدای اونه هم سپریدلای شي اونه داسي څوک ورسره وي چي دی کښته پورته کړي .

۴- یاځمکه دومره چکړې وي چي لمونځ کول وربانذي ممکن نه وي .

۵- یادباران عذروي . په هرحال په دې صورتونوکښي فرض لمونځ دسپاري په حال کښي کولای شي څکه ضرورت اوعذر له شرعي قواعدو څخه مستثنی اووتلی دی .

مسئله : په سپارلۍ دپاسه دلمانځه جواز له ښارڅخه په بهرکیدلو مشروط دی ګه هغه مسافروي اوکه نه وي . که کوم مسافرهم په ښارکښې دننه ؤنوهغه ته په سپاري باندي نفل لمونځ جوازنلري .

مسئله : صحیح خبره داده چي له ښارڅخه بهردسپارلۍ په حالت کښي نفل لمونځ جوازلري لکه چې دقصردجوازپه هکله چي قاعده ده . (مظاهرحق صفحه ۲۲۲ جلد ۲)

سپارلۍ اودترافیکواړوندا احکام

که په لارکښي څه ناپاکه شي وي یاداسي څه وي چي تیریدل ور څخه سخت وي یاکوم اغزي،خنډیاداسي څه چي ورباندي دښویدلوویره وي که داشیان له لاري لیري کړای شي خوراثواب لري .

له ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایي : ﴿تمیط الاذی عن الطریق صدقة﴾ [بخاري ومسلم]

«له لاري څخه ناپاکي (ستونزمن شي) لري کول صدقه ده» یعني دصدقې دورکړې په څېرثواب لري .

له احادیثوڅخه ښکاره ده چي لاري پاکي ساتل اوخلګ له تکلیف څخه ژغورل په اسلام کښي څومره اهمیت لري . یواغزی له لاري څخه لري کول چي یووړوکی عمل دی ورباندي ددومره اجراوثواب وعده شوې ده اودتکلیف ورکوونکي شي دلري کولودومره ترغیب ورکړل شوی دی .

نوپه لاره کښي ناپاکه شیان اچول چي خلګوته ترې تکلیف رسیږي دابه څومره ګناه وي : له هم هغه څخه دې اندازه ولګوي . په لاره تیریدونکوته دتکلیف رسولوپه شیانوکښي داخبره هم داخله ده چي خپله سپارلي ،موټر، موټر سایکل اویابل څه داشي ځای ودرول شي چي دنوروخلګولاره تنګه کړي یایې په چلولوکښي مشکلات وي یاداسي بې قانونه موټرچلوي چي نوروته ورباندي تکلیف وي . داټولي خبري ګناه دي له هغوی څخه ځان ساتل دومره ضروري دی لکه له نوروکبیره

ګناهونوڅخه ځان ساتنه همداسي دترافيكوكوم قوانين چي وضع شوي دي له هغوی څخه دلارو نظم اوضبط مطلب دی . دهغوی پابندی یوازي دقانون غوښتنه نه ده بلکه یوه ديني وظيفه هم ده . که دهغوی پابندی وشي په ټولنه کښي نظم پيداکيږي خلګوته ارامی ورپه برخه کيږي له تکليف څخه دساتلوممکنه هڅه کيږي نوپه دې ټولواعمالو انشاءالله اجراوثواب موندل کيږي . که له قوانينوڅخه تخلف وشي نوپکښي دوې ستري ګناوي دي . يوداچي خلګوته تکليف رسيږي اوبل داچي په نظم کښي خلل پيداکيږي اوپه دې سره دمسئولو کسانو داحکاموخلاف ورزي ده .دافسوس خبره داده چي نن سباداخبري ګناه نه بلل کيږي . په ظاهره ديندار ه اوباسواده خلګ داډول ګناوي په خورابې پروايي سره کوي اللهﷻ دي مونږ ته په دين دپوهيدلو اوورباندي دعمل کولوتوفيق راکړي . (آمين)
[اسان نيکيان صفحه ۱۹۹مولاناتقی عثماني]

دميرمن لپاره اصلي وطن اباګنی که خسرخيل؟

مسئله : ترواده وروسته که ميرمن په مستقل ډول په خسرخيلو کښي هستوګنه کوي نواصلي وطن يې دخسرکوردی که ۴۸ميله لري دپلارکره لاړه شي اودپنځلس ورځودهستوګني قصدونلري نومسافره ده . دسفر دواټن په قاعده برابربه روزه اولمونځ اداکوي . اوکه يې هلته دتل اوسيد لونيت نه ونوهغه چي پخوايې اصلي وطن اوس هم هغه دی . بهشتي زيور صفحه ۵۰ جلد ۱۲]

مسئله : په کوم ښارکښي يوازي نکاح کول وطن اصلي نه بلل کيږي بلکه هلته يې کورنی پاته کيدل شرط دی . [امدادالاحکام صفحه ۷۹۲ جلد ۱]

مسئله : که چاپه کوم ښارکښي نکاح وکړه دده خپله اراده هلته داوسيدلونه وه خودميرمني يې هلته دپلارګنی کره داوسيدلو اراده وه ذي مقيم دی خوچي بيرته دلته(دزوم کورته)راشي لمونځ به پوره کوي . [امدادالاحکام صفحه ۲۹۷ جلداول]

په سفرکښې ميرمن دسړي تابع ده

مسئله : که کومه ميرمن له خپل سړي سره سفرکوي . په لاره کښې چې څومره هغه پاته کيږي دومره يې ميرمن هم پاته کيږي دهغه له خوښې پرته دېروخت پاته کيدلای نشي په داسې حال کښې دسړي نيت معتبردی که دسړي نيت دپنځلس ورځودپاته کيدلوؤنوميرمن مسافره نه ده که يې دپاته کيدلواراده کړې وه اوکه يې کړې نه وه . که سړی دلږوخت پاته کيدلواراده لري نوميرمن هم مسافره ده . [بهشتي زيورصفحه ۴۹ جلد ۲]

مسئله : ميرمن دسړي تابع ده . دهغې سړی چې چيرې هستوګنه لري هغه يې وطن دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۳ جلد ۴]

په سفرکښې دتابع اومتبوع احکام

مسئله : څوک چې دبل چاتابع وي اودهغه اطاعت ورباندې لازم وي نودهغه په اقامت سره مقيم کيږي اودهغه دسفرپه نيت سره مسافرکيږي . په دې کښې اصل دادی،څوک چې په اختيار اقامت کولای شي هغه په خپل نيت مقيم ګرځي اوکه څوک په خپل اختياراقامت کولای نشي هغه په خپل نيت مقيم نه ګرځي آن داچې که ميرمن له خپل سړي سره،غلام له مالک سره، شاګردله استاذسره،نوکر له بادارسره اوسپاهي له خپل افسر سره سفر وکړي نوپه څرګندروايت سره هغه په خپل نيت مقيم کيدلای نشي . [فتاوی عالمګيری صفحه ۲۱ جلد ۳]

مسئله : خوداخلک هغه مهال مقيم ګڼل کيږي چې هغوی.ته دخپل اميراويادا(سړی)داقامت دنيت علم وي اوکه ترعلم وړاندې هغوی خپل لمونځ قصرکړی ؤصحيح ده دراګرځولو ارتيايې نشته . [احکام سفرصفحه ۴۰]

اياميرمن يوازې سفرکولای شي؟

مسئله : که ۴۸ ميله(پاؤباندی ۷۷)سفرؤاوله سړيوځخه کوم يومحرم يامېره ورسره نه ؤنوهغه مهال سفرکول ورته جائزنه دي . پرته له مَحرمه

سفرکول سخته ګناه ده که کم سفرؤهم پرته له محرم سفرکول غوره نه دي
په حديث شريف کښې يې ممانعت راغلی دی .
مسئله : کوم محرم چې له خدای اورسول څخه ويره نلري اودشريعت پابند نه وي له هغه محرم سره هم سفرکول صحيح نه دی . [بهشتي زيورصفحه ۵۰ جلد
مسئله : زړې ميرني ته هم پرته له محرم ياميړه سفرکول مناسب نه دي
[بحرصفحه ۳۳۹ جلد ۲]

ايا په سفرکښې ميرمن له ملګرتيا څخه انکارکولای شي؟

مسئله : دماموريت ځای ته دميرمني بيول چې دهغې خوښه نه وي، جائز دی . په تيره که ميرمني ته دتکليف رسيدلو ويره وه . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۱۹ جلد
مسئله : دميرمني فريضه ده چې دخپل مونس اوملګری سړی ساتنه وکړي هغه ته راحت اوارام ورسوي . اماکه خپل کورپريږدي اوله خپل سړي سره ځي اوهلته دسړي له لوري ورته دتکليف رسيدلوويره وه نوسړی دی سفرکښې هغه په پاته کيدلونه مجبورروي . [شامي صفحه ۲۳۷ جلد ۲]
مسئله : ددې حکم په عدول سره نفقه يعني ضروري لګښت نه ساقطيږي
مسئله : دشپې په تيرولو کښې مساوات هغه مهال ضروري دی چې دواړه ميرمني سره يوځای وي . که يوه په کورکښې وي اوبله په سفرکښې وه نو دې حال کښې مساوات ضروري نه دی . [فتاوی محموديه صفحه ۳۲۲ جلد ۱۰

که ميرمن په سفرورسره نه تله دنفقې بندول؟

پوښتنه : زيدخپله ميرمن سفرته بيوله خوهغې له تللوڅخه انکاروکړ ايا زيد نفقه بندولای شي؟
جواب : دهمدې پوښتني په صورت کښې زيدخپلي ميرمني نفقه نشي بندولای . [فتاوی رحيميه صفحه ۴۱۲ جلد ۵]

په سفرکښې کومه يوه ميرمن له ځان سره کوي؟

مسئله : څوک که دوې ميرمنې ولري هغه اختيارلري چې کومه ميرمنه يې زړه وي په سفرورسره بوزي قرعه(پچه)اچول ضروري نه دی خوغوره اومستحب ده که قرعه ونه لويږي هم نه ګنهګاريږي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۰۲ جلد۸]

مسئله : که دسفراومجبوری له امله له ميرمنې سره مقاربت ونشي،په سړي کومه ګناه نشته . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۰۴ جلد۲]

په سفرکښې که دوهمه ميرمن هم يوځای شوه

مسئله : په سفرکښې که هره ميرمن وغواړي بيولای يې شي . په دې کارسړی ماخوذنه دی . خوکه په سفرکښې دوهمه ميرمن هم ورغله يايې وروغوښتله بيا په سړي باندې عدل اوانصاف ضروري دی خوکه کومه يوه ميرمن له خپل حق څخه تيره شوه اوبلې ته يې وبخښه بياکه يوځای وي هم مسافرسړی ګنهګارنه دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۰۷ جلد۸]

که دوهمه ميرمن ناروغه شي اواصل وطن ته لاړه شي

پوښتنه : که ديوه سړي سکونت اويوه ميرمن په اصلي وطن کښې وه . په دوهم ښارکښې يې بيوازې ددوهمې ميرمنې لپاره دهستوګنې ځای جوړکړی ؤ . څوکاله وروسته دناروغي له امله دادوهمه ميرمنه هم اصلي وطن ته لاړه ددې ښارکوريې بندکړ، څه سامان يې هم پکښې پاته وو . داشخص همدې ښارته ورغی خومشکوک وکه داشخص ددووروځولپاره دکوم ضرورت ياد ځای دکتلولپاره ورغی اوفاصله يې هم دسفروه . لمونځ به قصر کوي کنه ؟

جواب : که يې په دې دوهم ښارکښې دوطن په توګه دپاته کيدلواراده نه وه لکه پخواچې اوسيده نوبياداوطن نه پاته کيږي که هلته لاړشي لمونځ دې قصرکوي چې فاصله يې دسفر (۴۸ميله) وي . اوکه يې دبياهستوګنې اراده وه نودايې هم وطن دی اوداشخص به دوه وطنه ولري .

[امدادالفتاوی صفحه ۵۸۵جلد ۱]

ایامسافرته ضروري ده چې په میرمنوسه غاتونه وویشي ؟

پوښتنه : دیوه سړي دوې میرمنې دي ده کومه تحفه یابل څه له سفرڅخه راوړي هغه دوهمې میرمنې ته ورنکړي وایي په تحفه کښې مساوات ضروري نه ده . ایاداسي عمل صحیح دی ؟

جواب : ددواړومیرمنوترمنځ عدل کول ضروري دی . که یې څوک پریږدي هغه عاصي ،ګنهګاراوفرضوتارک دی فاسق دی (فرض پرېښوونکی ګنهګار) ددوومیرمنوڅښتن دی په هرکار، خوراک،جامه اوهستوګنه کښې مساوات کوي . په حدیث شریف کښې دئ څوک چې دوه میرمنې ولري اودهغوی ترمنځ مساوات ونکړي نودقیامت په ورځ به په داسي حال کښې راشي چې یوځنګ به یې نه وي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۰۴ جلد ۸]

دمیرمنولپاره تبلیغي سفر

مسئله : جامداًومصلیاً دتبلیغي جماعت مقصددین ښودل او نوروته دین ښودل اوپه هغه ټینګول اوورته اماده کول دي . دهمدې جذبې دپخولولپاره اوږده سفرونه هم کوي . څومره چې سړی دخپل دین زده کړي ته اړدي هغومره میرمنې هم محتاجي دي خوپه کورکښې داسي انتظام نشته . نوکه لندن یابل لري ځای ته له محرم سره دشرعي حدودودپابندي په مراعات میرمنې لاړې شي اودچاحق ضائع نشي نوشرعاًورته اجازه شته بلکې په دیني لحاظ مهم اوګټورکاردی .

که ماشومان دومره واړه نه وي چې پرته له موریې روزنه نه کیږي اودماشومانواناداهغوی ځارنه په ډاډمنه توګه کولای شي نوبیاورته دسفرکولواجازه ده . [فتاوی محمودیه صفحه ۱۰۸ جلد ۱۴]

میرمنې ته دحج سفرکول

مسئله : میرمن ته دحج تللوپرته له کوم محرمه اجازه نشته . په میرمن هغه مهال حج فرضیږي چې ورسره دومره پیسې وي چې خپل اودمحرم خرڅ په

پوره کولای شي او پرنارینه هغه مهال حج فرضیږي چي له خپل لګښت سره، سره دخپل اهل او عیال لپاره دده دسفردمودې پوره لګښت هم ولري او که ورباندي قرض وي هغه هم اداکړي .

مسئله : که میرمن پرته له محرم څخه لاړه شي حج اداکړي . حج یې کیږي اوفرض یې له ذمې ساقطیږي خوله محرم څخه پرته دسفرکولوګناه ورباندي شته . له هغه څخه دي استغفاروکړي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۵۲۲ جلد ۲]

مسئله : که په میرمن باندي حج فرض شوسړی دي هغه نه منع کوي که یې سړی ورسره نه ځي له بل محرم سره دي حج وکړي . ځیني وایي چي که له صالح کسانو سره سفروکړي صحیح ده . [فتاوی درالعلوم صفحه ۵۴۰ جلد ۲]

په عدت کښي دمیرمني سفرکول

پوښتنه : دسړي دمړیني، څه دپاسه یوه میاشت وسوه،زه دسورت په ښارکښي هستوګنه لرم اودسړي ملازمت مي دمدراس په ښارکښي ؤ.ایادفتردکاغذونودلاسلیک لپاره زه اوس هلته سفرکولای شم اوکه نه ؟

جواب دداسي ضرورت لپاره وتل اجازه شته . له دې څخه هغه ضرورت مراددی چي ورڅخه چاره نشته . خودطبیعت غوښتنه ضرورت بلل غلط دی اودعدت په موده کښي دفرض حج لپاره هم سفرکیدلای نشي .
[فتاوی عالمګیري صفحه ۱۲۲ جلد ۲]

که خپلوان دوستان ناروغه شول هم ورته دعیادت لپاره سفرکول جوازنلري . دحکومتي کاغذونولپاره دي له وکیل سره مشوره وشي که راغوښتل کیدلای شي راودي غواړي یادي وخت وغواړي . که دعدت عذردمنلووړنه ؤدداکنرتصدیق دي ورته واستوي چي دسفرکولووړنه ده که کوم عذردمنلووړنه ؤاو دزیان رسیدلوویره وه نوسفرکولای شي خوزیان منل (چي نعم البدل لري) غوره دی . [فتاوی رحیمیه صفحه ۴۰۰ جلد ۵]

که میرمن دسفرپه حال کښې کورته نږدې پاکه شوه

پوښتنه: کومه میرمن په سفرکښې حائضه وه. داسې ځای ته په رارسیدلو پاکه شوه چې هغه ځای کورته دسفرترمسافې کم وېه دې حالت کښې ور باندې دلمانځه وخت راغې دابه قصرکوي اوکه پوره لمونځ؟
اوکه دالمونځ ورځخه قضاء شونو قضاء رکعته راوړي او که پوره لمونځ؟
جواب: که اداکوي اوکه قضاء خود، لمونځ به پوره کوي داحکم هلته دی چې دسفرپه پیل کښې حایضه وي. که دپاکۍ په مهال یې سفرپیل کړی وُنو دحیض ترختم کیدلو وروسته به لمونځ قصر کوي (احسن الفتاوی صفحه ۸۷ جلد ۴).
مسئله: تر۴۸میله څلورمنزله له زیاته دکومې میرمنې دتللو نیت وُ. په لومړنیودوومنزلونو (۲۴میله) کښې دحیض په حال کښې وه. غسل دې وکړي اوداچې لامسافره نه ده پوره لمونځ دې وکړي. که دحیض ترپاکیدلووروسته که هغه ځای درې منزله (۴۸ میله) وُیاپه لاره پاکه وه خوحیض ورته ورسیدنومسافره ده لمونځ به دمسافرپه څېرقصرکوي.
[بهشتي زیورصفحه ۴۹ جلد ۲]

وطن درې ډوله دی

وطن درې ډوله دی. وطن اصلي، داقامت وطن اودهستوګنې وطن.
اصلي وطن هغه دی چې څوک له خپل اهل اوعیال سره هلته هستوګنه لري یاهلته زیږیدلی وي، اوهلته یې دهستوګنې اراده وي. (اوپه مستقله توګه هغه ځایه څخه نه ځي)
مثله: اصلي وطن، څوځایه هم کیدلای شي. مثلاً دیوچاڅو کورنۍ په تلفوښارونوکښې هستوګنه لري اوهلته یې دژوند تیرولوخیال وي. اتول ښارونونه ورته اصلي وطنونه دي. که داسړی هغوښارونوته داخل ي پرته له نیت څخه هلته مقیم ګرځي. [بدائع]

مسئله : که دچامور، پلاراونورخپلوان په یوه ښارکښې ؤواودده اهل اوعیال په بل ښارکښې په مستقله توګه اوسیدله اوهلته یې دهستوګنې خیال ونودده وطن اصلي هغه دی چې پکښې اهل یې وي . (احکام سفرصفحه ۴۱)

مسئله : ترڅوهمداوطن پرینږدي اوبل هم هغسې تیارنکړي هغه وطن اصلي پاته کیږي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۰جلد ۴]

دوطن دوهم ډول، داقامت وطن دی داقامت وطن هغه ته ویل کیږئ چې هلته مسافرترپنځلس ورځودزیات اوسیدلونیت وکړي . په دې شرط چې هغه ځای عادتًااوعمومًاداوسیدلوقابل وي . ځنګل، بیړۍ یابل څه نه وي . (داوطن، مستعاروطن یاحادث وطن هم بلل کیږي) [عالمګیري صفحه ۷۸۳]

دریم ډول وطن هغه دی چې مسافر ترپنځلس ورځو پکښې کم وخت تیروي . [احکام سفرصفحه ۴۱]

داصلي وطن احکام

مسئله : داصلي وطن حکم دادی چې که مسافرهلته داخل شي که هرډول وي مقیم بلل کیږي که داقامت نیت وکړي اوکه یې ونکړي . قصداداخل شي اوکه پرته له قصدڅخه .

مسئله : که په کوموښارونوکښې چې تم ځایونه دښارپه منځ کښې وي . دهغه ښارهستوګنی که په ریل ګاډی کښې، کښیني اوتیریږي هلته په (سیدلو مقیم بلل کیږي نوکه راتلونکې لاره دسفراوقصد(۴۸میله)ونوچې له ښارله کلیوتیرشي بیرته مسافر بلل کیږي خوکه ترهغه یې دکمې فاصلې اراده کړې وي نوبیا مقیم دی . مثلاًددهلي کوم هستوګن له بمبی څخه بیرته دهلي ته راځي خودڅه ضرورت په خاطرلومړی غازي آبادته ځي . (له بمبی څخه لومړی خپل اصلي وطن دهلي ته راځي وروسته یؤدوه تم ځایه لرې غازي آبادته ځي)اوبیابیرته راګرزي نوکله چې ریل ګاډی ددهلي تم

ځای ته راورسیږي دی مقیم بلل کیږي ترهغه چي غازي آبادته ځي هم مقیم دی خوکه دغازي آبادپه ځای مرادآباد ته ځي نودهلي دتم ځای ترحدودوپوري مقیم بلل کیږي خوچي ریل ګاډی ترتم ځای ووزي بیرته مسافرګڼل کیږي . ددهلي په تم ځای کښي که لمونځ کوي،پوره څلوررکعته به کوي خوترتم ځای وروسته به بیاقصرکوي یعني لمونځ به دوه رکعته کوي . په دې شرط چي دلمانځه وخت پاته وي،ځکه له دهلي څخه ترمرادآباده فاصله دقصرده نوځکه همدامقیم مسافرګرځي،

مسئله : که مثلامازیګرمهال ددهلي تم ځای ته راورسید لمونځ یې ونکړاولمردلته ولویده اودهلي ترتم ځای په تیریدلویې داقضالمونځ کا وو پوره به یې راګرځوي یعني څلور رکعته به یې کوي . [احکام سفرصفحه۴۲]

مسئله : اصلی وطن په سفرنه باطلیږی وکه څوک ټول عمر په سفروی بیاهم کوم چې دده اصلی وطن دی هغه وطن بلل کیږي هلته چې څنګه ورداخل شی ،مقیم ګرزی لمونځ به پوره کوی (بدائع)

مسئله : داصلي وطن دبدلیدلوصورت یوازي دادی چي هغه ځای پریږدي بل ښارياکلي ته له اهل اوعیال سره نقل شي اوهلته دژوندد تیرولونیت وکړی بیانوهغه وطن اصلي ګرځي اوداوطن چي پریښودهغه اصلي وطن نورنه بلل کیږي . هلته چي لاړشي لمونځ به قصرکوي . [بدائع]

که خپل وطن پریږدي خوپه بل وطن کښي یې ددایمي هستوګني نیت کړی نه وي نولومړنی وطن یې اصلي دی . [بدائع]

مسئله : داوراندي معلومه شوه چي دیوه سړي دوه یادیرځایونه اصلي وطن کیدلای شي . هلته چي دواړه ځایه یې اهل اوعیال وي اودعمردتیرولواراده یې پکښي وي . [احکام سفرصفحه ۴۳- عالمګیري صفحه ۲۳ ج۲]

اصلي وطن په بل اصلي وطن باطلیږي

مسئله: یواصلي وطن په بل اصلي وطن باطلیږي. یعني که څوک په کوم ځای کښې ټول عمردهستوګنې اراده لري خوبیاهغه ځای پریږدي اوبل ځای په همدې نیت ژوندکول غوره کړی نوبیایې همدادوهم وطن اصلي وطن دی اولومړنی ځای اصلي وطن نه پاته کیږي. آن تردې که ددواړوځایونوترمنځ واټن دسفرمسافه وه اوداشخص له دوهم ځای څخه لومړني ځای ته سفروکړی هلته مقیم نه بلل کیږي. [علم الفقه صفحه ۳۲ جلد ۲]

مسئله: دکوم اصلي وطن دباطلیدلولپاره داشرط نه دی چې ددواړوترمنځ به دقصرواټن وي. [کتاب الفقه صفحه ۷۷۳ جلد ۱]

مسئله: اصلي وطن داقامت په وطن نه باطلیږي. یعني که څوک په کوم ځای کښې دپنځلسوورځواقامت نیت وکړي اوبیااصلي وطن ته لاړشي نوله رسیدلوسره هلته مقیم ګرځي. [علم الفقه صفحه ۳۲ ج۲]

اصلي وطن دوه ځایه هم کیدلای شي

پوښتنه: یوڅوک له خپل اصلي وطن څخه خپل اهل اوسامان هرڅه بل ځای ته نقلوي هلته دمستقل ژوندکولواراده لري خوپه لومړني وطن کښې یې هرڅه جایداداوسامان موجودوي ایاددواړه ځایونه دهغه لپاره اصلي وطنونه دی؟

جواب: له دې سامان اوجایدادڅخه که څه هم په خپله ګټه اخلي ملکیت یې پکښې ختم نه وي بیاهم دهغه ځای وطنوالی ختمیږي ځکه بل ځای یې دمستقل ژوندکولواراده کړې ده اوله هغه ځایه له تللواراده نلري نودادوهم ځای ورته وطن اصلي دی،خوکه لومړنی ځای ته هم دکال په کوم فصل کښې راځي اوهلته دهستوګنې قصدلري نوبیایې دواړه ځایونه وطن اصلي دی. [فتاوی محمودیه صفحه ۲۲۲ جلد ۱۴]

یووطن پرېښودل بل ځای ته تلل

پوښتنه : یو شخص په امرتسر کښې اوسیده، بیالاهورته له اهل او عیال سره لاړ هلته یې ځلورکلونه تیرکړل خوپه امرتسر کښې یې څه ځمکه وه . که دا مرتسراو لاهورترمنځ دقصرمسافه وه داشخص په امرتسر کښې قصرکولای شي ؟

جواب : که دې شخص لاهورخپل اصلي وطن گرزولی وي اودامر تسر هستو گنه یې پرې ایښې وي . که په امرتسرکښې یې دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه ؤنو هلته به قصرکوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۴۴ جلد ۴]

داقامت دوطن احکام

مسئله : داقامت دوطن چې هلته دپنځلسو ورځو یادیروخت دتیرولونیت ولري داحکم لري چې هلته مقیم شي لمونځ به پوره کوي اوچې له هغه ځایه دشرعي سفر (۴۸ میله) قصدوکړي نو چې ووزي مسافرانه لمونځ به کوي . [ردمختار] کله چې همدې داقامت وطن ته داخل شي اودپنځلس ورځو یادیرمهال نیت ونکړي بیامسافردی لمونځ به قصرکوي . ددې مطلب دادی چې داقامت په وطن کښې که هرڅومره وخت تیرکړي خوچې سفرورځخه وکړي اقامت یې ختمیږي . [احکام سفرصفحه ۴۴]

مسئله : داقامت وطن په دریوڅیزونوباطلیږي . لومړی په اصلي وطن یعني داچې له اقامت له وطن څخه اصلي وطن ته لاړشي نومقیم گرځي . بیاکه له هغه ځایه داقامت وطن ته ورشي مقیم نه بلل کیږي . خوکه هلته په رسیدلو بیادپنځلس ورځو اوسیدلونیت وکړی بیامقیم گرځي .

دوهم داقامت وطن هم هغسي دبل داقامت وطن باطلوي . یعني که څوک یوځای دپنځلس ورځوتیرولونیت وکړی بیاهغه ځای پریږدي بل ځای ته لاړشي اوهلته همداسي نیت وکړي بیا همداوطن داقامت نه پاته کیږي . که بیرته ورته راشي مقیم نه گرزي . [کتاب الفقه صفحه ۷۷۴ جلد ۱]

ونه : دادي ښکاره وي داقامت دیوه وطن دختمیدلولپاره داشرط نه ده
ې دبل اقامت تروطن پورې به دقصرمسافه وي . اکتاب الفقه صفحه ۷۷۴ جلداول)
ییم چي داقامت له وطن څخه په سفرروان شي . نوکه څوک چیري چي
صرپه واتن لرې وي دپنځلس ورځوپه نیت واروي بیاله هغه ځایه بل
ې ته په سفرلاړشي، دسفرپه پیل هغه د اقامت وطن باطلیږي . که
یاراتلوورته ضرورت پیداشي نولمونځ به پوره نه کوي (قصربه کوي)
که دسفرپه پیل هلته اقامت ختم شو . خوکه له بل ځای څخه سفروکړي
اقامت نه باطلیږي . دهغه دبطلان لپاره دوه شرطونه شته یوداچي
سافربه له هغه ځایه نه تیریږي . که له هغه ځایه تیرشي نوداقامت یې نه
میږي . بل داچي له کوم ځایه چي سفرپیل کوي له هغه ځایه به داقامت
طنه دقصرمسافه وي . که مسافه کمه وه نوداقامت وطن یې نه ختمیږي
کتاب الفقه صفحه ۷۷۵ جلداول)

داقامت وطن تریوه زیات هم کیدلای شي

مسئله : داقامت دوهم وطن دلومړي لپاره هغه مهال مبطل (باطل کونکی)
بدلای شي چي دلومړي وطن‌والی ختم اوبل داقامت وطن غوره کړي
دکه لومړي اقامت ختم نکړي هلته یې هستوګنه باقي وي . کورنۍ
سامان یې پاتې وي اوبل ځای هم شرعي اقامت ولري دلومړي وطن
امت نه ختمیږي داهل اوسامان په پریښودلوداقامت وطن پاته کیږي .
عرف سره هم ددې تائیدکیږي لکه داچي څوک له اولادسره په کوم
ارکښې وي ګواکي دایې اصلي وطن نه دی یوازې ددووورځوپه
رتللو دانه وایي چي هلته یې سکونت پرې ایښی دی . اونه
سفرد سکونت ترک بلل کیږي اونه له دې سفرڅخه په راتلوتجدیدتوطن
یااستیناف کیدلای شي . (اصل مدارنیت دی)

څوکه اولاداومیرمن ورسره بوزي اودبیاراتلواراده یې نه وي نوپه یقیني توګه ویلای شي چې هغه دلته اوسیدل پرې ایښي دي . [احسن الفتاوی صفحه ۱۰۱ جلد ۴]

مسئله : ددې خبرې وضاحت ضروري دی چې داقامت دوطن دبقاحکم په دې صورت کښې دی چې هلته اهل اوعیال پرېږدي یاسامان په نیول شوي ځای کښې کښېږدي . که سامان له چاسره امانت کښېږدي داقامت وطن ختمیږي . ځکه هلته په عرف کښې هستوګنه نه بلله کیږي .
[احسن الفتاوی صفحه ۱۰۲ جلد ۴]

دسکنی دوطن حکم

دهستوګنې (سکنی) وطن هغه چې هلته ترپنځلس ورځودکم وخت هستوګنې نیت وشي هلته له هستوګنې سره سرې مسافروي حکم یې دادی چې لمونځ به قصرکوي داترهغه وخته چې په یوه وخت یې دپنځلس ورځو هستوګنې نیت کړی نه وي ترهغه به لمونځ قصرکوي .

مسئله : که لومړی دلس ورځې پاته کیدلونیت وشي،ترشپږو ورځوتیر و لووروسته دنوروپنځوورځوپاته کیدلونیت وکړي همداسي ددوو،دوو یا څلوروڅلوروورځونیت کوي خویوځای دپنځلسو ورځو تیرولو نیت و نکړي لمونځ به مسافرانه کوي که څه هم ټول عمرهغسي ورباندي تیریږي . [بدائع]

لنډه داچې دهستوګنې اوسکنی وطن کوم وطن نه دی . [احکام سفرصفحه ۴۴]
(داقیام په شرعي لحاظ وطن نه بلل کیږي)

په سفرکښې دنږدې پرتووډانیومعیار

پوښتنه : پنج ګوریوتحصیل (ولسوالی) ده دهغه دننه ۱۲ ځایونه دي یول بل څخه نیم میل،یومیل یادوه میله لرې پراته دي . هریوځای ډېر نفوس لري . څومره سیمه چې همداځایونه پکښې پراته دي ټوله پنج ګوربلل کیږي . له دې پورتني بیان ددې پوښتنوځوابونه څه ډول دي ؟

۱) که څوک سفرکوي، هغه چي دخپل کلي له ودانیووزي مسافربلل کیږي اوکه له ټولوکلیو ؟
۲) کله چي بیرته راشي نوچي خپل کلي ته داخل شي مقیم بلل کیږي اوکه مطلق پنجګورته داخل شي ؟
۳) که له بهرڅخه څوک پنجګورته دشلوورڅولپاره راشي، کله په یوه کلي کښې وي اوکله په بل کلي کښې داشخص به قصرکوي اوکه به پوره لمونځ کوي ؟

جواب : ددووکلیوترمنځ دکښت اوګروندي موجودیت یاد غلو په اندازه (۱۲، ۱۳۷ متر) فاصله دبیلوالي علامه ده . نوکه په یوه ښارکښې دوه ځایونه په عرف کښې بیل بلل کیدل له بیلوالي سره بیاهم یوځای ګڼل کیږي .
دپوښتني له تفصیل څخه ثابتیږي چي هرځای مستقل دی اوپنجګورپه همدې ټولوځایونوشامل دي اودټولي سیمي نوم دی نودسفرپیل اوپای اوداقامت لپاره هرځای بیل شمیرل کیږي . که لږترلږه پنځلس ورځي په یوه ځای کښې دتیرولونیت ولري اویوازي دورځي له خوابل ځای ته ځي مقیم بلل کیږي اوکنه بیامقیم نه دی . [احسن الفتاوی صفحه ۷۵ج ۴]
مسئله : په یوه ښارکښې مختلف ځایونه دمختلفوکلیوپه حکم کښې نه راځي بلکه یوځای شمیرل کیږي اوپه مختلفوځایونو کښې دپنځلس ورځودهستوګني په نیت مقیم بلل کیږي . خولږي لري کلي چي نوم اواحکام اوټول کاروباریې بیل وي یوځای نه شمیرل کیږي اوپه کوموښارونوکښې چي دښاراوولسوالۍ (چاونۍ) کلي، بازار، استیشن اونورڅه بالکل بیل وي هغه هم مختلف ښارونه بلل کیږي . [احکام سفر۳۹]

کومې ودانۍ چې له ښارسره لګيدلې نه وي

پوښتنه: څوک دلاهورله ښارڅخه ۱۵ ميله ليري په څنډه کښې هستوګنه لري . له کورڅخه ۴ميله ليري يې دموټرونوتم ځاى دى،داشخص به له کوم ځاى څخه مسافرشمېرل کيږي له لومړکي تم ځايه که له دوهم ؟

ودانۍ تردوهم لوى ستيشن پورې رسيدلې دي،که ودانۍ بيلې هم وي خوپه عرف کښې داپه لاهورکښې شميرل کيږي نوبيايې حکم څه دى . يعني دسفراواقامت په لحاظ ضلع اعتبارلري که بستۍ (کلي،محله) .

جواب : که له دې محلې څخه ترښارپورې پرله پسې ودانۍ نه وي لکه دغلوه (۱۲، ۱۳۷متر) په اندازه خالي ځاى وي يايې ترمنځ کښت اوکرونده وي نودامستقله ابادي بلله کيږئ . اوله همدې ودانيوڅخه په وتلو دقصرحکم پيل کيږي . که له ښارسره لګيدلى وي که هغه ځام کورونه وي اوکه خيري نوداپه ښارکښې داخل دى نوله ښارڅخه په وتلومسافربلل کيږي . ستيشن که له ښارسره لګيدلى وي يعني ترمنځ يې دکروندې ځمکه يا۱۲ ، ۱۳۷ متره فاصله نه وه دقصرحکم پکښې نشته .دفقهې په عباراتوکښې دودا نيو داتصال لپاره کوم معيارپه نظرنه راځي . په ښکاره ليدل اعتبارلري يعني چې په نظرسره لګيدلى وپريښې خوکښت يادغلوه فاصله دانقطاع موجب په هرحال ده . ځکه دښارفناء که دجمعې دلمانځه لپاره مطلقًا دښار حکم لري خودقصرلپاره کښت يادغلوه فاصله له الحاق بالمصرڅخه مانع ده . حال داچې فناء دمصرله متعلقاتو څخه ده اوداکلى چې بيل دى په اوله درجه سره له ښارسره دلګيدلومانع ده . خوکه له همدې بيلوالي سره په عام عرف کښې دوه ځايونه ديوه ښاردوه ځايونه بلل کيږي داتحادحکم لري اودريل تم ځاى دښارحدود(فناء مصر) بلل کيږي . (خيني ځايونه په حدودوکښې نه داخليږي) (احسن الفتاوى صفحه ۷۳جلد ۴) .

دکرځندوی لپاره قصرکول

پوښتنه : که څوک دوولس کاله سیاحت کوي . نن په دې کلي اوسبا په بل کلي کښې هستوګنه کوي هغه به تل قصرکوي؟
جواب : په دې هکله درې صورتونه دي : ۱- له کوم ځای څخه چې ځي درې منزله یعني ۴۸میله یازیاتي فاصلې سفرقصدبه لري اوچیرې به دپنځلسویاډیروورځوهستوګنې نیت نلري . په دې صورت کښې به قصرکوي . ۲- له کومه ځایه چې ځي د۴۸میله فاصلې قصدبه لري اوچیرې دپنځلس ورځوهستوګنې قصدلري په دې صورت کښې به په لاره قصرکوي خوچې هلته ورسیږي لمونځ به پوره کوي . ۳- له کومه ځایه چې روانیږي د۴۸میله سفرنیت نه کوي یعنې له کوم ځای څخه چې روانیږي نه هغه مهال اونه ترهغه وړاندې ددریومنزلونیت کوي نولمونځ به پوره کوي . (امدادالفتاوی صفحه ۵۷۳ جلداول)

ترشرعي مسافې وړاندې دبیرته ګرځیدلوحکم

پوښتنه : څوک په سفرروان شوخووړاندې تردې چې درې منزله سفروکړي بیرته راګرځي ایاپه دې حال کښې به قصرکوي ؟
جواب : په دې صورت کښې به قصرنه کوي ځکه چې تردرې میله کیلومتره وړاندې راوګرځي مسافرنه دی . (فتاوی رحیمیه صفحه ۲۳۸ جلداول)
دمسئلې صورت چې دادی که څوک دڅلورمنزله (تر۴۸ میله زیات) سفرکولوپه نیت له خپل ښارڅخه ووزي،دوه منزله لاړشي خوبیرته راګرځیدلونیت وکړي . له دې وخت څخه به لمونځ پوره کوي . اوکه ۴۸میله فاصله لاړبیاراوګرځیدکورته تررسیدلوپورې به قصرکوي .علامه شامي رحمه الله وایي لکه څرنګه چې دقصرلپاره له ښارڅخه وتل شرط دي همداسې دبقالپاره دسفردمودې پوره کول هم شرط دي .
(فتاوی رحیمیه صفحه ۵ جلد۵)

مسئله : ترشرعي مسافې (۴۸میله) وړاندي سفربس کوي اودبیرته راګر زیدلواراده کوي اوهاته دپنځلس ورځوهستوګنې نیت کوي په دې صورت کښې مسافرنه پاته کیږي . لمونځ به پوره کوي داچې سفرثابت نه دی نوقصرجائزنه دی . [فتاوی رحیمیه صفحه ۵ جلد۵]

غیرشرعي سفر، شرعي ګول

پوښتنه : زیدله خپل وطن څخه مظفرنګرته لاړچې تر۴۸میله کمه فاصله ده، هلته ورسید دسهارنپور(چې تر۴۸میله کمه فاصله ده) دتللوضرورت محسوس شواوله سهارنپورڅخه میرټهـ (چې له سهارنپورڅخه شرعي واټن لري) ته بیرته لاړ . میرټهـ څخه مظفرنګرشرعي واټن نه دی اونه له مظفرنګرڅخه سهارنپور شرعي واټن دی خوله میرټهـ څخه سهار نپورشرعي مسافه ده . نودسفردوې برخې له مستقل نیت سره دروانیدلوپه وخت سفربلل کیږي که نه ؟ یعني له سهارنپورڅخه ومیرټهـ ته تللو په وخت خوشرعي سفردی مګرله مظفرنګرڅخه ترسهارنپوره هم دسفرحکم لري اوکه نه ؟

جواب : له درمختارڅخه څرګندیږي چې داشخص به له مظفرنګر څخه سهارنپورته په تللوکښې قصرنه کوي ځکه داواټن شرعي نه دی . له سهارنپوره ترمیرټهـ پوري دې په راتلوکښې قصرکوي ځکه دافاصله شرعي ده . [امدادالفتاوی ۵۹۲ جلداول]

په اطراف کښې ددورې حکم

پوښتنه : زیدیوحکومتي ماموردی دهغه دهستوګنې ځای مثلاً دهلي دی خوهغه په اطرافوکښې په ۴۸ میله یاکم اوزیات واټن ګرځي راګرځي په دې دوره کښې شپږپالس ورځې ورباندې تیریږي اودهستوګنې ځای ته نه راځي په دې صورت کښې به لمونځ قصرکوي اوکه څرنګه ؟

جواب که له کور څخه دوتلوپه مهال دااراده کوي چې دسفر اخري برخه يې ترفلاني ځايه ده چې له هغه ځايه ۴۸ميله ياډيره فاصله لري قصربه کوي او که داسي نه وه بيابه يې نه کوي. [فتاوى دارالعلوم صفحه ۴۸۴ جلد ۴]

تبليغي جماعت اوقصرواتې

مسئله په دې هکله ددين علماء اومفتيان څه وايي چې که د تبليغي جماعت ګروپ له ديوبندڅخه دهلي ته لاړاوپه هغه ډله کښي دارالعلوم طالبان هم وي اوداشرعي سفردی. که هغوی په لاره کښي په کوم کلي کښي يوه اوپه کومه قصبه کښي دوه ورځي پاته شي بيادهلي ته ورسيږي،په دې خلګوقصرواجب دی اوکه نه؟دقرآن اوحديث په رڼاکښي مفصل ځواب راکړئ مهرباني وکړئ

مسئله : همداسي که تبليغي جماعت له نظام الدين کلي څخه چې ددهلي دجماعت تبليغي مرکزدی دسهارنپورتللواراده وکړي اود تيرپه څېرقيام کوي اوديوبندته لاړشي،په ديوبند کښي درې ورځي تيري کړي بياسهارنپورته لاړشي نوهغه طالبان چې په ديو بندکښي زده کړه کوي اوديوبندته ورسيږي، په هغوی هلته قصر واجبيږي اوکه نه واجبيږي. داچې دامسئله په عامه توګه پيښيږي نودقران اوسنت په رڼاکښي ځواب راکړئ. [المستفتى احقرسراج احمد المظاهرى مدهوبنى متعلم دارالعلوم ديوبند ۱۹ ذى الحجه ۱۴۱۴ هـ]

الجواب وبالله التوفيق. ۱- په سوال کښي په راغلي صورت په دې ګروپ قصرواجب دی.

۲- په همدې صورت کښي ديوبندچې دچالپاره داقامت وطن دی په هغوی په ديوبند کښي هم قصرواجب دی خودچاچې هغه اصلي وطن دی که هلته ورسيږي مقيم ګرځي لمونځ به پوره کوي.

والحاصل ان شاء السفريبطل وطن الاقامة امالوانشاه من غيره فان لم يكن فيه مرورعلى وطن الاقامة اوكان ولكن بعدميسر ثلاثة فكذلك «ردالمحتار» فقط والله اعلم

حبیب الرحمن عفا الله عنه مفتی دارالعلوم دیوبند ۲۶. ۱۱. ۱۴۱۴. هالجواب صحیح
نظام الدین الجواب صحیح محمدظفیرالدین .الجواب صحیح : کفیل الرحمن نشاط

پلاردزوی اوزوی دپلاردهستوګنې په ځای کښې

پوښتنه : څوک دپلاردهستوګنې له ځای څخه لرې هستوګنه لري، که زوی دپلارياپلاردزوی دهستوګنې ځای ته ورشي لمونځ به قصرکوي؟

جواب : که دهغوی اصلي وطن بیل بیل وي که هريودبل ځای ته ورشي نو مقیم کیږي،لمونځ به قصرکوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۲۹ جلد ۴]

چیرې چې جایدادوي

پوښتنه : دیوه سړي اودهغه دپلاراوورونوجایداداوودانی په یوه کلي کښې وي،پخوايې هلته هستوګنه کوله خواوس له څه وخت راهسې بل ځای اوسیږي،له هغوی څخه یوېې دفصل په وخت کښې هلته راځي اوحاصلات وړي داشخص به دلته قصرکوي اوکه نه؟

جواب : که یې ترپنځلس ورځودکمې هستوګنې قصرؤنوقصد به کوي اوکه یې ترپنځلسوورځودزیات وخت قصدوبیابه یې پوره کوي . که یې پخه اراده نه وه بلکه دائي وویل هلته دوه درې ورځې کوم اوحاصلات راوړم که یې له قصده داوخت ډیرهم ورباندې تیرشي قصربه کوي .

[فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۷۰ جلد ۴]

دهغه ځای حکم چیرې چې نکاح کوي

پوښتنه : په درمختارکښې اصلي وطن هغه هم ښودل شوی دی چیرې چې نکاح شوې وي ایامطلق هغه ځای ښیي چې هلته نکاح شوې ده اوکه څه نورمطلب هم پکښې دی،تفصیل یې څه دی؟

جواب : دوطن اصلي معنی داليکې چې هلته هستوګنه وي،هغه دقراروطن وي نودمیرمنې اصلي وطن هغه وخت وي چې هلته مستقله هستوګنه کوي اومیرمن یې هلته وي . دامطلب نه دی چې که چیرې نکاح

وکړي اومیرمن بې ترې راشي بیابه هم هغه دنکاح ځای وطن وي،حاصل دادی چیري چي یې میرمن هستوګنه لري اودده هلته هستوګنه مقصودوي هغه یې اصلي وطن دی . که یې دوې میرمني وي اوپه دووښارونوکښي اوسیدلې دواړه یې اصلي وطنونه دی ولوکانت ببلدتین فایتهمادخل صارمقیما .[شامي]

له دې عبارت څخه معلومیږي چي دمیرمني ژوندکول اوهلته پاته کیدل معتبردی یوازي نکاح کول داصلي وطن جوړیدلو سبب نه کیږي .
[فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۳ جلد۴]

یعني که میرمن په اباګنی کښي په مستقل ډول دهستوګني لپاره پریږدي نودخسرخیل هم اصلي وطن دی . [رفعت قاسمي]

څواصلي وطنونه اودمیرمني داصلي وطن تحقیق

مسئله : له فقهي نصوصو څخه څوامره څرګندیږي :

۱- اصلي وطن هغه دی چي هلته اهل اوعیال سره ژوندکوي اوله هغه ځایه داهل دانتقال نیت نه وي(بل ځای له اهل سره دمستقل ژوندلپاره دتللو قصدنه وي)

۲- که بل ځای ته دداسي انتقال اراده وي چي اهل اوعیال ورسره نه بیایي،لومړی وطن نه باطلیږي .

۳- اصلي وطن متعددهم کیدلای شي که څوک څلورنکاحوي په څلوروځایونوکښي وکړي اوهره میرمن یې هلته هستوګنه لري نودهغه لپاره داڅلورځایونه اصلي وطنونه دي(یوازي نکاح نه بلکه هلته دمیرمني هستوګنه شرط ده)

۴- په کوم ښارکښي چي دچااهل اوعیال وي که هغه په کرایه اوسي اوکه په خپل کورکښي اهل ته په رسیدلوورته دقصرحکم نه پاته کیږي لمونځ به پوره کوي . (په لاره که واټن شرعي وي قصربه کوي خوپه رسیدلوسره به

لمونځ پوره کوي»[قاسمي] څيني حکو متي مامورين له خپل اهل اوعيال سره چيري ژوندکوي اودوی مختلفوځايونوته ځي راځي داخلــک چي دخــپل اهل اوعيــال د هستوګني ځای ته ورسيږي مقيم ګرځي .

۵- يوازي په نکاح کولوسره هغه ځای اصلي وطن نه ګرځي بلکه داهل هلته پريښودل اوهلته مستقل ژوندکول شرط دی . [بحرصفحه ۱۲۳ جلداول]

دعثمان رضی الله عنه په قصه کښي هم دهغه دپوره لمونځ کولو سبب يوازي نکاح نه وه بلکه ترنکاح وروسته يې په مکه کښي د ميرمني هستوګنه وه . داعبارت په کفايه کښي په صراحت سره موجود دی .

که يوازي په نکاح کولوسره دپوره لمانځه کُولوامرکيدلای که هلته ميرمني هستوګنه کولای اوکه يې نه کولای نورسول الله صلی الله عليه وسلم به په مکه مکرمه کښي قصرنه کاو ځکه سوده رضی الله عنهاهلته نکاح کړې وه اودسوده رضی الله عنهادپلار کور هلته و،وروڼه اونور خپلوان هلته ووهمداسي ميمونه رضی الله عنهاهم رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه مکرمه کښي په نکاح کړې وه اوکورنۍ يې هم په مکه کښي وه خوپه صحيح روايتونوثابته ده رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه کښي لمونځ قصر کاو [فتح القديرصفحه ۴۷۰ جلد ۲]

داهم له صحابه څخه ثابته ده چي رسول الله صلی الله عليه وسلم په حجة الوداع کښي ټولي بيبياني له ځان سره بيولي وې چي د ځينواول وطن هم مکه ؤوخورسول الله صلی الله عليه وسلم به لمونځ قصرکاوو . (ځکه بيبياني رضی الله عنهن هم په مدينه کښي هستوګني وې)

دخبرولنډيز : نودمسئلې حکم دادی چي که کوم شخص په يوه ښارکښي نکاح وکړي ميرمن هلته نه پريږدي اوله ځان سره يې بوزي نودميرمني وطن دسړي لپاره اصلي وطن نه ګرځي که هلته مسافرورشي لمونځ به

قصرکوي . (ان چي میرمن به یې هم قصر کوي) اوچي میرمن اوسیږي نودسړي وطن یې اصلي وطن دی . که سړی په خپل وطن کښي مستقله هستوګنه لري اوکه بل ځای .

مسئله : که مسافرپه یوه ښارکښي نکاح وکړي اودده په خپله هلته داوسیدلواراده نه وه (خودمیرمني یې هلته داوسیدلواراده وه) نواوجه داده چي دی هلته مقیم دی ځکه له حدیث څخه معلومیږي چي عثمان رضی الله عنه په مکه کښي هستوګن نه ؤو یعني مقیم نه ؤبیایې هم قصرنه کاو ځکه یوه میرمن یې په مکه کښي مستقله هستوګنه وه . له دې څخه معلومیږي چي که دڅا ژوندیوځای مستقل وخومیرمن یې بل ځای هستوګنه کوله،دی که هلته ورشي مقیم بلل کیږي .

دسړي میرمن چي چیري هستوګنه کوي،داعملاً اقامت دی نودلته دعدم اقامت نیت اعتبارنلري . (یعني که میرمن چیري هستوګنه لري که سړی هلته ورشي مقیم ګرځي) که میرمن پخپله ورشي سړی مسافردی که یې میرمن طلاقه کړه هم سړی مسافردی . عثمان رضی الله عنه په مکه کښي ځکه دې امله قصرنه کاوچي یوه میرمن یې په مکه کښي پاته وه . [رفعت قاسمي]

زوم به په خسرخیلوکښي څه مهال لمونځ قصرکوي

مسئله : که هغه کورنی زوم وي یعني داچي شرط یې ورباندي لګولی وي چي میرمن به یې تل دپلارکره اوسیږي دخسرکره به نه اوسي،هغه که دخسرکره لاړشي قصربه نه کوي ځکه هغه یې وطن دی اوکه داشرط نه وي بیابه یې هلته قصرکوي مګرداچي داقامت نیت وکړي یعني لږترلږه هلته پنځلس ورځوهستوګني نیت وکړي بیابه قصرنه کوي بلکه پوره لمونځ به کوي . [فتاوی محمودیه صفحه ۲۲۸ جلد ۱۴]

مسئله : دچاکه خسرخیل دسفرپه واټن (۴۸میله) کښې ووهلته مسافرګرځي . که میرمن هم ورسره تللې وه که هغه هم دپلارکره ورشي هغه هم هلته مسافره ده . که یې هلته دپنځلس ورځوهستو ګنې نیت نه وو [آپ کی مسائل صفحه ۳۸۳ جلد ۲]

په خسرخیلوکښې دهستوګنې حکم

مسئله : که میرمن دسړي په اجازه دموراوپلارپه کورکښې اوسیدله اوپلاریې په خپله خوښه مصرف ورکاونوپه سړي باندي یې څه نیوکه نشته . که یې زوم ته هم په خوشحالي ډوډۍ ورکوله څه خبره نشته خوکه ورته احساس ووچي داخوراک ورباندي بارده اوورباندي خوښ نه دی نوهغه دي هلته خوراک څښارک نه کوي .. که دزوم په هستوګنه خوښ نه وهم هلته یې هستوګنه مناسب نه دی. [فتاوی محمودیه صفحه ۴۷۰ جلد ۱۲]

هغه ځای چې دخسرخیلولپاره وطن نه دی

پوښتنه : که میرمن دموراوپلارکره لاړه شي اوهغه ځای دموراوپلاروطن نه وي خوهغوی هلته مقیم وي . که سړی هلته په عارضي توګه دپنځلس ورځوترهستوګنې کم وخت لپاره هلته لاړ شي هلته به لمونځ قصرکوي اوکه نه ؟ که میرمن هلته وي خومستقله هستوګنه پکښې نه کوي میلمنه ورغلې وي په دې صورت کښې به یې سړی لمونځ قصرکوي که پوره ؟

جواب : که میرمن په خپل وطن کښې هستوګنه نه کوله بلکه له سړي سره اوسیدله نوسړی اومیرمن یې دواړه مسافردي اودخسر خیلوکره به لمونځ قصرکوي . په دې دلیل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم قصرکړی دی اواهل یې په مکه کښې ؤ. په کوم ښار کښې نکاح کول دپوره لمونځ کولولپاره سبب نه ګرځي . بلکه هلته دزوجینویایوازي دسړي هستوګنه شرط ده . (یوازي په نکاح سره دمیرمن وطن دسړي لپاره وطن نه ګرځي بلکه له دواړي څخه دیوه هستوګنه غوره کول شرط ده .)

په پوښتل شوي صورت کښي دهستوګني صورت نشته نه دسړي لپاره اونه هم دميرمني لپاره . دادماموريت دځای په خلاف ده چي هلته هستوګنه کوي څکه هلته سړی کورپه کرايه نيسي اوډوډنډتيرولو اسباب چمتوکوي . ددې مثال دهغي جزيې دی چي له مجتبي څخه پاس نقل شوخاوندکه لاړشي هلته په رسيدلو مقيم ګرزي څکه هلته دسړي اهل اوعيال مقيم دی . [امدادالاحکام صفحه ۷۱۹ جلداول]

دميرمني داقامت وطن اودسړي لپاره يې حکم

پوښتنه : که ميرمن چيري ديوې مياشتي لپاره اوسيدله،داله وطن اصلي څخه پرته ځای وه اوسړی هلته ورغی اياهغه ځای چي ميرمن يې اوسيږي دسړي لپاره داقامت وطن کيږي .

جواب : دامشهوره ده چي داقامت وطن په سفرسره باطليږي . دامطلق نه ده . بلکه داپه هغه صورت کښي ده چي داقامت په وطن کي يوازي دخاونداوسيدنه وی اوکه په وطن اقامت کي دسړی قيام له اهل اوعيال سره ؤنويوازي دسړی په سفراودوره داقامت وطن نه باطليږي داهل اوعيال قيام دسړي لپاره حکمًادقيام په معنی ده نوکه چيري دسړي لپاره داقامت ځای نه ؤيوازي دميرمني داقامت وطن ؤاوميرمن دخپل ضرورت (ياماموريت يابل څه) له وجهي هلته شل ورځي يازيات وخت تيروي هلته سړی مسافرشي ورشي نودميرمني په قيام نه مقيم کيږي .
[امدادالاحکام صفحه ۷۲۳ جلداول]

(يعني دميرمني داقامت وطن ته که سړی په شرعي واټن ورشي نولمونځ به قصرکوي اودميرمني داقامت له امله نه مقيم کيږي خودسړي داقامت ځای ميرمني ته دسړي دمتابعت له امله داقامت ځای کيدلای شي .)

[رفعت]

مسئله : یوازي دمیرمن دعارضي قیام له امله هغه ځای دسړي لپاره په شرعي سفرکښي دپوره کولوموجب نه دی یعني قصربه کوي .
[امدادالاحکام صفحه ۷۱۹ جلداول]

دهغوکسانوحکم چي په اونۍ کښي دوه ورځي په کورتیروي

پوښتنه : زه دبلسار هستوګن یم . کاروبارمي په بمبی کښي دی هلته په یوه کرایي خونه هستوګنه کوم له دوشنبې ترجمعې یعني پنځه ورځي په بمبې کښي اوسیږم . دشنبې اویکشنبې ورځي په وطن بلسار کښي تیروم اوس مي پوښتنه داده چي :

۱- له دوشنبې ترجمعې په بمبی کښي دیروخت دجماعت لمونځ راځخه پاته وي،یوازي په کوټه کښي لمونځ کوم،نولمونځ به قصر کوم اوکه پوره ؟

۲- دهفتې په ورځ چي کورته ځم په لاره کښي به پوره لمونځ کوم که قصر؟

۳- دشنبې اوییکشنبي په ورځوکښي په خپل کورکښي اوسیږم هلته به لمونځ قصرکوم که پوره ؟

جواب : په لومړني اوذوهم صورت کښي به لمونځونه قصرکوئ تاسو مسافریاست اوپه دریم صورت کښي به لمونځ پوره کوئ ځکه بلسار (دیوې سیمي نوم دی) ستاسواصلي وطن دی اواصلي وطن ته په داخلید لوسره مقیم ګرځي ځکه پوره لمونځ کول ضروري دي . [فتاوی رحیمیه صفحه ۱۱ جلد۵]

پوښتنه : زمااحقروطن سورت دی . په دیوبند کښي دعلم د تحصیل لپاره تول کال هستوګنه کوم دروژې میاشت تولة په سهارنپور کښي دشیخ الحدیث مولانازکریارحمه الله په خدمت کښي تیروم بیادشوال په لومړۍ ورځ دیوبندته راځم دلته دوه درې ورځي تیروم بیادخپل وطن سورت اراده کوم نوپه دیوبند کښي به پوره لمونځ کوم که قصر؟

دپوښتني منشاداده چي داقامت وطن داقامت په وطن سره باطلیږي نودهغوی ترمنځ دسفرمسافه ضروري ده اوکه نه ؟

یادونه : ددیوبند او سهارنپور ترمنځ فاصله شرعي نه ده .
جواب : داقامت وطن داقامت په بل وطن سره باطلېږي که دهغوی ترمنځ مسافه شرعي وه او که نه وه نو که ته په شوال کښې دیوبندته لاړشې دوه درې ورځې تیروې او بیا کورته ځې،ته هلته مسافریې (ځکه ستاداقامت وطن چې دیوبند دی په سفرباطلیږي) لمونځ قصر کوه . [فتاوی رحیمیه صفحه ۷ جلد ۵]

په لیلیه کښې دهستوګنو دقصرلمونځ

پوښتنه : زه په پوهنتون کښې لوست وایم . کورمي له دې ځای څخه ۴۹ میله لرې دی . زه په لیلیه کښې هستوګنه کوم هره پنجشنبه کورته ځم ایالمونځ بۀ قصرکوم ؟
جواب : که تاسویوځل په لیلیه کښې دپنځلس ورځوپاته کیدلو نیت وکړنولیلیه ستاسولپاره داقامت وطن دی نوترڅوچې تاسوهلته دلو ستونکي په توګه یاست نومقیم یې هلته به پوره لمونځ کوي اوکه تاسوهلته یوځل هم دپنځلسوورځولپاره قیام ونکړنوهلته مسافریې اولمونځ به قصرکوې . کورخوپه هرحال لمونځ پوره کوې کۀ څه هم دیوه ساعت لپاره ورشې . [آپ کی مسائل صفحه ۳۸۴ جلد ۲]

یووطن پریښودل اوبل غوره کول

پوښتنه : زمااصلي وطن راندیردی . په بمبی کښې دهستوګنې په خاطرمي راندیرپریښودخونن سبادکاروبارلپاره په حیدرآبادکښې مقیم یم اوس که بمبئ ته ددوودریوورځولپاره لاړشم . لمونځ به قصرکوم که پوره ؟
جواب : دراندیرپه هکله چې اصلي وطن دي دی . کومه خبره نشته . که یې دی هغه پرې ایښی وي څه اړیکي دي ورسره نه وي او حیدرآباددي دتل هستوګنې لپاره غوره کړی وي نودراندیراصلي وطنوالی باطل شو . که راندیرته دمیلمه په توګه یادضرورت لپاره ورشې اودپنځلس

ورځوترهستوګنې دې دکم وخت تيرولواراده وي نوقصردرباندې لازم دی اوکه دډيراقامت نيت لرې لمونځ به پوره کوي . دبمبی هم داحکم دی . څوکه دې راندېرداصلي وطن په توګه پاته وي حيدرآباديابمبی دتل اوسيدلولپاره غوره کوې نو دواړه ځايونه «راندېراوبمبی ياراندېراوحيدرآباد» اصلي وطنونه دي . اصلي وطنونه متعددکيدلای شي که دې دتل اوسيدلولپاره حيدرآباديابمبی اصلي وطن نه دی جوړکړی اوله راندېره دی اړيکي نه دی ختمی کړی نوراندېردی اصلی وطن دي حيدرآباداوبمبی دي داقامت وطن دي . کوم حکم چي ستالپاره دی هغه ستاميرمن ته هم دی . [فتاوی رحيميه صفحه ۹ جلد ۵]

دماموريت په ځای کښي دلمانځه قصر

پوښتنه : زه دبهاوالدين په منډۍ کښي خطيب يم اومستقل ماموريت لرم يودهستوګني ځای هم راته پيداشوی دی . زماميرمن اواولاددکورله سامان سره راسره دلته دي خوزمااصلي وطن سرګوده دہ،هلته مي هستوګنه وه خوداقامت وطن مي منډۍ ده . يوه عالم وويل که زه په کوم شرعي سفرلاړشم اوبيرته منډۍ ته راشم نولمونځ به تر هغه قصرکوم ترڅومي دلته بيادپنځلس ورځو اقامت نيت کړی نه وي . يعني څوک له شرعي سفرڅخه راوګرځي اوپه اوه يالس ورځوکښي بيرته په سفرځي نوبه دلته قصرکوي او پوره لمونځ به نه کوي ؟ اياپه داسی صورت کي له شرعی سفرڅخه تړراتلووروسته دشرعی اقامت لپاره دپنځلسوورځونيت کول شرط دی اوکنه ؟

جواب : څوک چي په کوم ښارکښي له ميرمني اواولادسره هستوګنه لري اودهغه دژوندذريعه هم په هغه ښارپوري اړه لري . نودهغه داوطن هغه مهال باطلیږي چي دلته هستوګنه ختمه کړي يوازي په عارضي

سفرونوداداقامت وطن نه باطليږي . که داقامت له وطن څخه کډه وکړي يعني ميرمن اواولادهم ورسره بوزي اوبل ځای ژوندکول غوره کړي بيا باطليږي . نودپوښتني له صورت سره سم که سائل بيرته منډی ته راورسيږي مقيم بلل کيږي اولمونځ به پوره کوي . له ځيني عباراتومعلوميږي چي دلته داصلي وطن شبه کيدلای شي . [احسن الفتاوی صفحه ۹۸- ۱۱۰ جلد ۴]

ايادماموريت ځای وطن اصلي دی

مسئله : دفقه له نظره دسړي لپاره اصلي وطنونه متعدکيدلای شي . اوشرعًايوازي هغه ځای اصلي وطن نه بلل کيږي چيري چي زيږيدلی دی،بلکه هرهغه ځای داصلي وطن درجه حاصلولای شي چي سړی هلته دژوندکولوله لوازمو،ميرمني اواولادسره مستقل ژوندکوي . مثلًاکه څوک دماموريت په ځای کښي له ميرمني اواولادسره هستوګنه کوي هغه ځای ورته داصل وطن درجه لري نوکه له هغه ځای څخه په شرعي سفرلاړشي کله چي بيرته راشي لمونځ به نه قصرکوي،پوره لمونځ به کوي که څه هم دپنځلس ورځواوسيدلواراده ونلري . [ايضاح المسائل صفحه ۲۲]

مسئله : که څوک مثلادمرادآبادهستوګن وي اومرادآباديې اصلي وطن وي اوهغه يې وطن ساتلی وي خوورسره په دهلی کښي يې مستقل کاروبار (تجارت) وي اوهلته هم له اولاداودکور له اسبابوسره ژوندکوي نوکه هلته مسافرشي اويودوه ورځي وروسته بيادسفراراده ولري په دې منځ کښي به هلته لمونځ پوره کوي قصرنه صحيح کيږي .

[امدادالاحکام صفحه ۲۰۴ جلداول]

خوداورته شرط دی چي يوځل به په دهلي کښي ترپنځلسو ورځو دزيات قيام نيت کوي ترهغه وروسته ورته دپوره لمانځه کولو حکم پاته کيږي .

[ايضاح المسائل صفحه ۲۷]

مسئله: دچاکه دوې ميرمنې وي. مثلا يوه په دهلي کښې اوسيدله او بله په بمبې کښې اودواړه ځايونه يې له لوازموسره مستقل ژوند درلودنو که داسړی دې دواړوځايونوته ځي مقيم دی اولمونځ به پوره کوي دپنځلسوورځوهستوګنې نيت ته اړتيانشته. [امدادلاحکام صفحه ۲۰۸ جلداول]

دسيل اوتفريح په ځای دقصرلمونځ

مسئله: چيرې چې څوک له اهل اوعيال سره مقيم وي که هغه عارض وي لکه دګرمی په شپوکښې چې هلته اوسيږي. هغه يې وطن دی اوترڅوچې يې اهل اوعيال هلته اوسي،هغه يې وطن بلل کيږي. يوازې دده په سفرکولوهغه نه باطليږي ترڅويې له هغه ځايه اهل اوعيال نقل کړي نه وي

مسئله: دماموريت په ځای کښې چې ترڅوورسره اهل اوعيال ژوندکوي هلته به لمونځ پوره کوي

مسئله: که په دې مسئله نه پوهيده اولمونځ هلته قصروکړدهغو لمو نځو راګرځول نشته ځکه دامسئله مجتهدفيهاده. [امدادالاحکام صفحه ۷۱۸ جلداول]

دسوداګرلپاره دلمانځه دقصرحکم

پوښتنه: زيدخپل دتجارت سامان شل ميله لرې وړي اوهلته په يوه کرايې ځای کښې هستوګنه کوي. له هغه ځايه داسامان کليوته وړي. له کليوڅخه کله په يوه هفته يالسوورځوکښې بيرته همدې کرايې ځای ته راځي. درې څلورورځې دلته اوسيږي بيادتجارت سامان اخلي ځي اوپه نهه لسوورځوکښې بيرته راځي همداسې څوورځې تيروي اواصلي وطن ته راځي. زيدته هغه ځای چې دتجارت سامان پکښې ږدي داقامت وطن بلل کيږي اوکه نه اوزيد به لمونځ قصرکوي اوکه نه؟

جواب: يوځل به ددې اقامت په ځای کښې دپنځلسوورځو هستوګنې نيت کوي نوبياکه څوځله شاکليوکښې دومره ګرځي چې مسافه يې دقصرنه وي

نو دلته به لمونځ پوره کوي او د هستوګنې په ځای کښې يو ځل هم د پنځلس ورځو هستوګنې نيت ونکړي نو قصر به کوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۵۲ جلد ۴]

د هغه سفر حکم چې په منځ کښې وطن واقع وي

مسئله : که څوک په سفر کښې وي او د هغه اصل ښاريا د مستقل او سيدلو ځای په لار کښې وي ورته داخل شي نو د سفر حيثيت يې ختميږي او دا حکم د ميرمنې (خسرخيلو) د ښار دی چې هلته او سيږي (او سړی په خپله خوښه هلته پرې ايښې وي) نو هلته په رسيدلو سفر ختميږي .

مسئله : که څوک د سفر په حال کښې د کوم ځای د تللو نيت وکړي نو فاصله دې ګوري له کومه ځايه چې نيت کوي له هغه ځايه ، هغه ښار يعنې د هغه اصلي وطن يا د مستقل او سيدلو ځای يا د ميرمنې د هستوګنې ځای څومره واټن لري . که دومره فاصله وه چې قصر کيده نو د سفر په دوران کښې دې قصر کوي او که نه نو نه دې کوي ځينې اصحاب په داسې حال کښې د قصر کولو وايي .

هو که له هغه ځايه يو ازې تيريدل وقصر نه منع کيږي لکه له هغه ښاره چې تيريږي چې هلته يې ميرمن وي خو د زوجيت حاجت تعلقات يې غوڅ شوي وي يا يې ورسره جګړه کړې وي . قصر نه منع کيږي . [کتاب الفقه ۷۷۷ جلد اول]

مسئله : درې منزله (۴۸ ميله) د تللو اراده وه خو په اول منزل کښې کورمخې ته راغې نو مسافر نه بلل کيږي . (بهشتي زيور صفحه ۴۹ جلد ۲)

که د قصر او پوره کولو شبه وه

پوښتنه : د چا ځمکه او ځای په جالندهر کښې وه خو له اهل او عيال سره فيصل اباد ته لاړ او هلته يې ژوند کول غوره کړل . دا چې په جالندهر کښې يې ځمکه او ځای شته شپږ مياشتې وروسته يا زيات او کم د خه انتظام لپاره هلته راغی . داسړی چې هلته راشي لمونځ به پوره کوي که قصر؟

جواب په دې کي صحيح اوداحتياط خبره داده چي لومړنی وطن يې لااصلي وطن دی هلته به لمونځ پوره کوي ځکه دځينوفقهاووله ويناووددې ترجيح ښکاري له دې قاعدې ځخه هم پوره کول غوره دی چي علامه شامي(رحمه الله)دامام ابويوسف قول ته ترجيح ورکړې ده چي که چيري دقصراوپوره کولوترمنځ شبه ونه نوهلته دي پوره کولوته ترجيح ورکړی شي . ځکه داحتياط دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۷۱ـ ج ۴]

دتيمم معنی

دتيمم لغوي معنی ده قصدکول اوپه شرعي اصطلاح ددې لفظ مطلب دپاکي دحاصلوپه نيت له پاکي خاوري يادخاوري له قائم مقام(دځمکي له جنس،ډبره،چونه،يانورڅه چي ورباندي ګرداوغباروي)ځخه قصدکولوته وايي چي په هغې خاوره مخ اولاسونه مسح شي . صورت يې دادی چي دواړه لاسونه په پاکه خاوره يابل څه ووهي،لاسونه وځنډي،اوبيايې په مخ اوتر څنګلو پوري په لاسونوتيرکړي .

تيمم په اصل کښي که اوبه ونه موندل شي اوياله استعمال ځخه يې څوک معذوروي داوداسه اوغسل قائم مقام دی . اودالله له نعمتونوځخه يونعمت دی چي په خپل فضل سره يې يوازي محمدي امت ته ورکړی . په تيروامتونوکښي تيمم جائزنه ؤ .

تيمم په ۵ هجري کښي پيل شودجهادديوه سفرپه دوران کښي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم اوصحابه(رضی الله عنهم)بيرته مدينې ته راتلل په داسي يوه ځای کښي يې واړول چي هلته اوبه نه وي . کله چي دلمانځه وخت راغی .خلګوپرته له اوداسه ځخه لمونځونه وکړل اورسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې ددې کار يادونه وکړه بياهمدآآيات نازل شو(فلم تجدواماء .الخ)[پاره ۵سورة النساء] (مظاهرحق صفحه ۴۷۰ جلداول)

دتیمم شرطونه

دتیمم ارکان اوترټولو سترشیان دوه دی : لومړی دوه ضربه یعني دوه ځله لاسونه وهل یوځل دمخ تیرولواوبیایې لاسونوتیرولو لپاره البته دڅنګلوپوري دوهم مسح ده یعني تروهلووروسته یوځل په ټول مخ اوبیاترڅنګلوپه لاسونوباندي . خوتیمم پرته له ضرورته په هرحالت کښي جائزنه ده بلکه لکه څرنګه چي یې دوه رکنه ضروري دي ورسره څوشرطونه قران اوسنت څخه ورته لازمي دي . لکه :

۱ : اسلام یعني مسلمان به وی . ۲ : دطهارت قابلیت . ۳ : عذردرلودل یعني داچي داوبوپه استعمال قادرنه وي . که اوبه ونه موندل شي یاداچي له استعمال څخه یې دبیماری له امله معذوروي . ۴ : دځمکي جنس . ۵ : استیعاب په ضربووهلوسره پرمخ اوترڅنګلوپردواړولاسونو مسح کول چي کوم ځای پاته نشي . ۶ : نیت کول نعني په زړه کښي اراده کول چي تیمم کوم .

په پورتني شرطونوکښي که کوم یوپاته شي نوتیمم هیڅکله جائز نه دی . مثلاکه پنځه شرطونه موجودوخویوشرط نه و،تیمم نه صحیح کیږي یایوموجودوپنځه نه وه خوچي ټول شرطونه پوره نه وي تیمم نه کیږي .

مسئله : هرعاقل اوبالغ مسلمان که مسافروي یامقیم په ښارکښي وي یابهرپه دې،صورتونوکښي تیمم کولای شي . [مظاهرحق صفحه ۴۷۸جلداول]

دتیمم کولوطریقه

مسئله : دپاک کیدلوپه نیت دواړولاسونه په پاکه خاوره وهل اوپه ښه توګه په مخ تیرول چي دیوه ویښته په اندازه ځای هم پاته نشي بیالاس په خاوره وهل په لاسونوترڅنګلوتیرول . [اپ کی مسائل صفحه ۲۳ جلد ۲]

مسئله : په تیمم کښي دږیري خلالول سنت دي . [احسن الفتاوي صفحه ۵۸جلد ۲]

په تیمم کښې ولې دوه ځله لاس وهل دي ؟

پوښتنه : تیمم داوداسه په اندامونو کښې ولې ددرواندامونو لپاره مشروع دي ؟یعني دمخ اولاسونو تیمم کیږي خونوراندامونه په پرېښودل کیږي .

جواب : دتیمم اجازه داساني لپاره ده نوځکه داوداسه څه برخه کافي اټکل کیږي . سربیره په دې دادواړه اندامونه هغه دي چې په اوداسه کښې یې مینځل تل لازم دي . یعني مخ اولاسونه مینځل او دسرمسح خوتل کیږي،دواړه پښې هم مینځل کیږي خوکله چې موزې په پښووي مسح کیږي . نوځکه الله هغه اندامونه چې تل مینځل کیږي په تیمم کښې لازم کړي دي خوښکاره داده چې پکښې اسانتیاوي . [کتاب الفقه صفحه ۲۳۸ جلداول]

دغسل په نیت تیمم کول

پوښتنه : څوک چې څوورځې ناروغ وي ترهرلمانځه اواودس وړاندې ورباندې دغسل په ځېر تیمم کول ضروروي . که یوځل؟

جواب : دغسل لپاره تیمم یوازې یوځل کافي دی ترڅوبیادغسل اړتیاپېښه شوې نه وي . [آپ کی مسائل صفحه ۷۵جلداول]

مسئله : د اودس اوغسل په تیمم کښې کوم توپیرنشته ددواړوطریقه یوه ده . (یوازې دنیت توپیرلري) [آپ کی مسائل صفحه ۷۴جلد ۲]

مسئله : که څوک له اودس اوغسل کولوڅخه معذورؤدجنابت په حال کښې یو تیمم دغسل په نیت کافي دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۲۳جلداول]

مسئله : لکه څرنګه چې داوداسه لپاره اوبه ونه موندل شي تیمم کوي اولمونځ کوي همداسې که چاته دغسل کولواړتیاوه،اوبه نه وې دغسل په ځای تیمم وهلای شي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۵۲جلداول]

په سفرکښې دتیمم مسائل

مسئله که کوم ښارياسيمه داسي وه چي هلته تريوه ميل (يو کيلومتراو ۶۱۰ متره) پوري اوبه نه موندل کيدې هلته هم تيمم جائزدی. اطهورالمسلمين صفحه ۹]

مسئله : په ريل اونوروکښي دسفرپه حال کښي خلګ په جامه، دسمال او تکيه يابل څه لاسونه وهي اوتيمم کوي . دانه ګوري چي ورباندي غبارشته که نه ؟ ګواکي هغوی په جامه اوتکيه تيمم کول جائزګڼي . خو دا دي ښکاره وي چي دځمکي له جنس څخه پرته په جامه يانوروشيانوتيمم هغه مهال جائزدی چي ورباندي ګرداو غبارپروت وي اوطريقه يې داده چي دتيمم په نيت لاسونه ووهي په لاسونوچي ګردپريوزيورباندي تيمم ووهي . [طهورالمسلمين صفحه ۱۷]

مسئله : که په ريل ګاډۍ کښي اوبه نه وې تيمم وهلای شي خو شرط دادی چي دريل په يوه ډبه کښي به هم اوبه نه وي اوديوه ميل په دننه واټن کښي به هم داوبو معلومات نه وي چيري چي ريل ګاډۍ دريږي . [آپ کی مسائل صفحه ۲۲ جلد ۲]

مسئله : په ريل کښي که اوبه ونه موندل شي نومسئله داده چي که يې يقين وُوچي دلمانځه په وخت کښي اوبه موندل کيږي . نو لمونځ ځنډول مستحب دی . که اوبه پيداشوې اودس به وکړي لمونځ به اداکړي . اوکه ونه موندل شوې اودلمانځه دوخت د تيريدلوويره وه په تيمم به لمونځ وکړي . [هداية باب التيمم صفحه ۵۵جلد اول]

داوبودنه موندلوپه صورت کښي يوميل (يوکيلومتر۶۱۰ متره) واټن تراوبوپوري دتيمم لپاره شرط دی.

مسئله : که اوبه نه وي چاتيمم ووهه لمونځ کول يې پيل کړی،لمونځ لاپای ته رسيدلی نه وُچي ريل ګاډۍ تم ځای ته نژدې شوچيري چي اوبه يقيني وې نو اودس به کوي اودالمونځ به له سره کوي اوکه دلمانځه ترختم

کيدلو روسته ريل تم ځای ته ورسيدچي هلته اوبه وي . لمونځ يې وشودبياکولو ارتياېي نشته . [درمختارصفحه ۲۳۱جلداول]

(په تم ځای کښي چي اوبه موندل کيږي هغه عموماً پاکي وي او لوښي يې هم پاک وي . پرته له وجهي په شبه کولوځان له ستونزو سره مه مخامخ کوئ . همداسي په ريل کښي په فلش کښي دننه د اوبوانتظام شوی وي او هغه اوبه هم پاکي دي په هغوی اودس اوغسل کول جائزدي نوله هغه شبه په ريل کښي دتيمم وارنه رسيږي . محمدرفعت قاسمي)

دتيمم لپاره څومره لويه لوټه وي ؟

مسئله : په تيمم کښي داحتياط خبره داده چي لوټه به دومره ستره وي چي په دواړولاسونوبه ورباندي ضرب کيدلای شي يابه لږترلږه دومره ستره وي چي يولاس پوره يعني ورغوی اوګوتي ورباندي راشي اويوپه بل پسې لاسونه ورباندي ووهل شي . ځکه دځينوعلماؤپه نزدلاس وهل دتيمم رکن دی

مسئله : په کومه لوټه چي تيمم ووهل شي په هغې استنجاکول روادي خوښه نه دي . فقهاپه ناپاک ځای اودس کول دادب خلاف ګڼي وجه يې دابولي دي چي داوداسه اوبه قابل داحترام دي همدا سي دتيمم لوټه هم ده . [امدادالاحکام صفحه ۳۸۷ ج۱]

مسئله : دخاوروپه لوټه څوواره تيمم کول صحيح دي اوپه هغې د حکمي نجاست اثرنشته . په درمختارکښي داصراحت شته چي په يوه ځای څوواره تيمم کول صحيح دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۲۱جلداول]

دمسجدپه ديوال تيمم کول

مسئله : دمسجدپه ديوال تيمم کول مکروه دي ځکه دوقف مال په غيرمصرف کښي مصرف کول دي خوکه تيمم وشي صحيح دی . په دې

شرط چې هغه خاوره اوچونه چې دمسجد دګل کولولپاره وي هغه پاکه وي
[امدادالاحکام صفحه ۴۴۰ ج۱]

داوداسه ماتوونکي اودجنابت تيمم

پوښتنه : که جنب سړی دشرعي عذرله امله دغسل لپاره تيمم وکړي، هغه داودس په ماتوونکوماتيږي که نه ؟ يعني داوداسه په نواقضوماتيږي ؟
جواب : که جنب شخص دشرعي عذرله امله تيمم ووهي نودشرعي عذرپه لري کيدلوتيمم ماتيږي . مثلا داوبودنه موندلو په صورت کښي يې تيمم وواهه نوچي اوبه وموندلی شي،تيمم ماتيږي . که يې دناروغۍ له امله تيمم وکړنوکله چي هغه مرض زائل شي تيمم ماتيږي . که کوم کاردغسل موجب وګرځيده نوتيمم ماتيږي خومطلقًاداوداسه په نواقضونه ماتيږي . مثلاکه چادناروغۍ له امله تيمم وکړيااوبه نه وې تيمم يې وکړبياورته بې اودسي پيښه شوه نودجنابت هغه تيمم نه ماتيږي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۵۹ جلداول]
که يې دناپاکۍ له امله دغسل تيمم کړی ؤهغه نه ماتيږي خود اوداسه تيمم ماتيږي . [رفعت قاسمي]

په موزه دمسح کولوثبوت

مسئله : په موزوباندي مسح کول له ډيروصحيح حديثونوڅخه ثابته ده نږدې اتياتنه صحابه ﷺ داوايي چي رسول الله ﷺ مسح کړې ده اواجازه يې ورکړې ده . دمسلمانانوپه اجماع اوتواتردا ثابته ده چي ورڅخه منکرله اهل سنت وجماعت څخه وتلی دی . [طهورالمسلمين صفحه ۳۴]
مسئله : په موزومسح کول له حديث څخه ثابته ده . ثبوت يې له مشهوروسنتوڅخه ده اوپه موزوباندي دمسح کولوصحابه ﷺ تر اتياووډيردي په هغوی کښي عشره مبشره هم دي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۷۴ جلداول]

په موزوباندي دمسح مطلب

مسئله : چاچي دڅرمني موزې په پښوکړي وي داودس کولوپه مهال دموزوايستل اوپښې مينځل ورته فرض نه دي.هغه ته جائزدي چي دپښومنځلوپه ځای په موزومسح وکړي . [مظاهرحق صفحه ۴۲۲ جلداول] .

مسئله : که دوهم شخص دچاپه موزومسح وکړي صحيح دی خونيت به هغه کوي چي په موزويې مسح کيږي .[ركن دين صفحه ۲۷]

موزې به څه ډول وي؟

مسئله : دکوموموزوچي ايستل يې ضرورنه دی اوپښې پرې منځل فرض نه دی په هغوی کښي څلورخبري په نظرنيول ضرور دي :

۱- دومره به پنډي وي چي پرته له تړلوبه له پښوسره ولاړي وي .

۲- دومره به پنډي وي چي که هغه پښوشي درې ميله (۴کيلومتر او ۸۳۰متر) تګ پکښي وکړای شي .

۳- دومره به پنډي وي چي ترې لاندي به پوست نه ترې څرګنديږي .

۴- اوبه نه جذبوي،يعني که اوبه ورباندي واچولی شي هغه به يې لاندينی برخي ته نه رسيږي .

هغه موزې چي داخبري پکښي وي که هغه دڅرمني وي،يادکپړي وي يادبل څه وي مسح ورباندي جائزده . په دې شرط چي دمسح شرائط ولري . [مظاهرحق صفحه ۴۲۲جلداول]

مسئله : په عامه توګه دڅرمن په موزومسح کيږي خوڅرمن ضروري نه ده . که څوک داخت ياكرميچ موزې په پښوكړي اوپرته له تړلوله بيډيوسره ودريږي اوكه يې په پښوكړي درې ميله سفرپکښي وکړای شي . مسح پرې جائزده .

مسئله : په کوموموزوچي مسح جائزده هغه به له دې سره چي پنډي اودتګ قابل وي داهم ورسره شرط ده چي پښې به يې تر بيډيوپوښلي وي زياتي که هرڅومره وي پروانه کوي . [طهورالمسلمين صفحه ۳۴]

مسئله : په کوموموزوچې مسح کول جائزدي له هغوی څخه مطلب هغه موزې دي چې دواړه پښې يې ترببلیو پوري پوښلي وي اوله ببلیو څخه مرادهغه راوتلي هډوکي دي چې دپښې په پور- تنۍ برخه کښې دي . داځکه چې دببلیو پوري دپښومینځل لازم دي . که کم ځای هم له مینځلو پاته شي اودس باطلیږي . [کتاب الفقه صفحه ۲۲۱ جلداول]

(موزې به تربیلیو ټیټې نه وي په زیاتوالي کښې یې حرج نشته . رفعت قاسمي)

دمسح دصحیح کیدلوشرط

مسئله : په موزودمسح کولولپاره داشرط نه دی چې وړاندې لا پوره اودس وکړي بلکه که یوازې پښې چې منځل یې فرض دي ومینځي اوترحدث (اودس ماتیدلو)وړاندې موزې په پښوکړي اوبیاپوره اودس وکړي صحیح دي خوپه دې شرط چې اودس په اوبو وکړي اوپه اوداسه کښې هغه اندامونه چې مینځل یې فرض دي هغه اندامونه له مینځلو یامسح کولو پاته نه شي یعني اوبه ورته ورسیږي .

[کتاب الفقه صفحه ۲۲۳ جلداول]

موزې دحلال یاحرامې څرمنې

پوښتنه : موزې به څرنګه معلومیږي چې دادحلال څاروي ده که دحرام ؟ اوایادحلال اوحرام دواړوڅارووله څرمن په جوړې شویو موزومسح کیدلای شي ؟

جواب : څرمن په دباغت سره پاکیږي اوموزې له پاکې څرمنې جوړیږي دلته وسوسې ته ضرورت نشته . [آپ کی مسائل صفحه ۴۲ جلداول]

که دپلاستیک په موزوجرابې وې ؟

پوښتنه : که موزې له پلاستیک څخه جوړې شوي وې اوبرسیره ورباندې تارې جرابې په پښوشوې وې مسح ورباندې جوازلري او که یې نلري ؟

جواب : که پلاستیک له جرابو سره یوځای ګنډل شوي وي مسح وربانديي صحیح ده، هغوی ته مبطن وایي . [شرح منیه صفحه ۱۲۱]
پرته ګنډلو په جرابو مسح جوازنلري ځکه مسح په چرمي موزو جائزده او وربانديي جرابي ګنډل په موزه دمسح تحقق نه راځي خو په مبطن حالت کښي رخت اوڅرمن په ګنډلو یوکیږي نومسح ور باندي صحیح ده .
[احسن الفتاوی صفحه ۶۲ جلد ۲]

دښیښې یافلزپه موزودمسح حکم

مسئله : په هغوموزومسح جوازنلري چي له ښیښې،فلزیالرګي څخه جوړي شوي وي ځکه له دې شیانوڅخه په جوړوشویوموزو کښي که په پښوشي بې تکلیفه تګ کیدلای نشي . [درمختارصفحه ۳۴ جلد ۳]

په یوه پښه دمسح حکم

مسئله : که دچاپښې غوځي شوي وي که دپښې شافرضاددریو ګوتوپه کچ پاته وه نودي په موزومسح کوي اوکه یې دپښوشاه دومره پاته نه وه نوپښې به داسي مینځي لکه دچاچي پښې په بیډیوکښي غوځي شوي وي یعني دهغوی لاندي لوري،مسح له دې امله وربانديي جائزنه ده چي دمسحي باقي ځای پاته نه دی خودمینځلوځای پاته دی ځکه مینځل کیږي .
مسئله : که دچایوه پښه وه،که هغه فطري همداسي وي یایې یوه پښه تربیډیوپورته غوڅه کړي شوي وي په دې تحالت کښي به داشخص دیوې پښې په موزه مسح کوي . [درمختارصفحه ۴۳ جلد ۱]
مسئله : که څوک ګوډؤ ،دپښوپه کنجه ګرځیده اوپونده یې له خپله ځایه لوره وه نوهغه ته دم په موزوباندي مسح جائزده ترهغه چي پښې یې دلینګي پورته وتلې نه وي . [درمختارصفحه۴۸ جلد ۱]

مسئله : که دچایوه پښه غوڅه شوې وه نولړترلړه درې ګوتې ځای به پاته وي چې مسح وربان‌دي جائزده اوکه درې ګوتي ځای هم پاته نه وه اوموزې يې په پښو کړي مسح وربان‌دي جائزه نه ده . که تربيلڼ پورتنی برخه غوڅه شوې وه اودوهمه پښه يې سالمه وه نوپه موزويې مسح جائزده.
[کتاب الفقه صفحه ۲۲۲ جلد ۱]

په تاري جرابودمسح کولوحکم

مسئله : که دتارياوړيوموزوپه پښوئي اوداشرائط يې درلودل مسح وربان‌دي جوازلري:

اول داچي دومره به پنډې وي چي که يوازي هغوی په پښوشي درې ميله يعني دوولس زره قدمه تګ په کښي کيدلای شي او هغوی به نه غوڅيږي .

دوهم داچي که هغوی په پښوشي اوله بنډيوسره ټرته له ترلوولاړي وي .

دريم داچي اوبه ترې نه تيريږي . اوڅلورم داچي ترې لاندي به څه شی نه ليدل کيږي . [امدادالفتاوی صفحه ۷۷ جلد ۱]

دځرمني ترموزولاندي دعاموجرابوحکم

مسئله : که درخت جرابي پنډي وي يانرې په پښوشي اودپاسه وربان‌دي دځرمني موزې په پښوشي مسح وربان‌دي جائزه ده .
[امدادالفتاوی صفحه ۷۷ جلد ۱]

مسئله : په معمولي پاري ياورينو(نايلون يانورو)جرابوچي نن سبا استعماليږي . په هغوی هيڅکله مسح جائزه نه ده . خودلاندي پښويې اودپاسه وربان‌دي دځرمني نوري په پښووي بيامسح روا ده . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۲۷ جلد ۱]

مسئله : دځرمني ترموزولاندي عامي تاري ياوړني موزې په پښوکوي صحيح دی . [امدادالفتاوی صفحه ۸۱ جلد ۱۲]

دموزومینځلو څه رنګه دي

مسئله : که موزې په پښنووي اوومینځل شي اودمسح نیت یې هم نه وُمثلادموزوپاکول یې په نظرؤیابل څه خونیت یې نه وبیاهم مسح کیږي که څه هم که موزې په پښنووي مینځل یې مکروه دی . (کتاب الفقه ص ۲۳۲ ج ۱)

مسئله : په موزوباندي دمسح کولولپاره له نجاست څخه دموزوپاکوالی شرطنه دئ . که په موزونجاست وُهم مسح ورباندي جائزه ده خولمونځ ورسره جائزنه دی که هغه نجاست دمعاف کیدلونه وُ(دنجاست دمعاف کیدلوتفصیل داستنجاپه باب کښي راځي) . (کتاب الفقه صفحه ۲۲۳ جلداول)

دمسافراومقیم لپاره دمسح موده

مسئله : که یې شرطونه پوره وُنودقیام په حالت کښي یوه شپه او ورځ (۲۴ ساعته) پرموزوباندي مسح جوازلري . اودشرعي سفرپه حالت کښي درې شپې اوورځي رواده . که هغه سفردطاعت وي اوکه دمعصیت خوداوخت دموزوله پښنوکولوڅخه نه شمیرل کیږي بلکه کله چي دموزوترپښنوکولووروسته اودس شي له هغه مهاله شمیرل کیږي . موزوپه پښنوکولووخت ته اعتبارنشته . مثلاڅوک دماپښین لپاره اودس وکړي دوه بجې موزې په پښنوکړي خو مازیګرپه پنځه بجویې اودس مات شونودمقیم لپاره دسبا مازیګرترپنځوبجوپوري په موزومسح جائز ده اوکه مسافروي نوددریمي ورځي دمازیګرترپنځوبجوپوري ورباندي مسح کولای شي . همداسي که ترماښام وروسته موزې په پښنوکړي خود شپې لس بجې یې اودس مات شي همدله لسوبجوشمیرل کیږي .

خوداختیارنشته چي کله یې زړه وغواړي موزې په پښنوکړي او پښې له منځلوپاته شي بلکه شرط دادی چي که لومړی اودس ماتیږي موزې به یې

په پښوکړي وي . مابنام هغه څوک په موزو مسح کولای شي چې مازیګرداودس دماتیدلوپه وخت کښې یې موزې په پښوو وي .
مسئله غوره صورت دادی چې دتولوغړیولاس ،پښواونوروتر منځلووروسته په کامل اوداسه موزې په پښوشي . وروسته چې اودس مات شي اواودس کول ضرورشي نویوازې مخ اولاس به مینځي په سراوموزوبه مسح کوي خولکه وړاندې چې بیان شول داودس دماتیدلوله وخت څخه به شمیرل کیږي داسې نه چې دموزوپه پښوکیدلوله مهال څخه وشمیرل شي اوداسې هم نه چې د مسح کولوله وخت څخه یې شمارکړي او۲۴ ساعتونه پورې کړي . مثلا که څوک په اوداسه باندې موزې په پښوکړې دشپې لس بجې بیده شي اوسهارپنځه بجې اودس کوي اوپه موزومسح وکړي نود شپې له لسوبجوڅخه به یې دمقیم لپاره وخت ۲۴ ساعته شمیرل کیږي داسې نه چې دسهارله پنځوبجووشمیرل شي (کوم وخت چې اودس کوي هغه ته اعتبارنشته)
مسئله : داهم جائز دي چې یوازې پښې ومینځي اوموزې په پښو کړي اوداودس دماتوونکوشیانوترپیښیدلووړاندې نوراندامونه هم ومینځي اودس بشپړکړي که بیا اودس کول لازم شول نومسح جائز کیږي . خوداد ترتیب خلاف ده . غوره صورت دادی چې پخوا موبیان کړل چې پوره اودس وشي اوموزې په پښوشي اوداهم ضروري نه ده چې تراودس کولووروسته سمدستي موزې په پښو کړي بلکه تراوداسه ماتیدلو وړا ندې چې هروخت په پښوشي صحیح دي .
مسئله : په موزوباندې هغه وخت مسح جائز ده چې یوازې اودس مات شوي وي که غسل واجب شو په موزودپاسه مسح کول کافي نه دي موزې به باسي که یې موده پوره وه اوکه نه وه [طهورالمسلمین صفحه ۳۵]

په پښنوکړي وي . ماښام هغه څوک په موزو مسح کولای شي چي مازيګرداودس دماتيدلوپه وخت کښي يې موزې په پښنووي .
مسئله : غوره صورت دادی چي دټولوغړيولاس ،پښواونوروتر منځلووروسته په کامل اوداسه موزې په پښنوشي . وروسته چي اودس مات شي اواودس کول ضرورشي نويوازي مخ اولاس به مينځي په سراوموزوبه مسح کوي څولکه وړاندي چي بيان شول داودس دماتيدلوله وخت څخه به شميرل کيږي داسي نه چي دموزوپه پښنوکيدلوله مهال څخه وشميرل شي اوداسي هم نه چي د مسح کولوله وخت څخه يې شمارکړي او۲۴ ساعتونه پوري کړي . مثلا که څوک په اوداسه باندي موزې په پښنوکړي دشپې لس بجې بيده شي اوسهارپنځه بجې اودس کوي اوپه موزومسح وکړي نود شپې له لسوبجوڅخه به يې دمقيم لپاره وخت ۲۴ ساعته شميرل کيږي داسي نه چي دسهارله پنځوبجووشميرل شي (کوم وخت چي اودس کوي هغه ته اعتبارنشته)
مسئله : داهم جائز دي چي يوازي پښې ومينځي اوموزې په پښنو کړي اوداودس دماتوونکوشيانوترپيښيدلووړاندي نوراندامونه هم ومينځي اودس بشپړکړي که بيا اودس کول لازم شول نومسح جائز کيږي . خودادترتيب خلاف ده . غوره صورت دادی چي پخوا موبيان کړل چي پوره اودس وشي اوموزې په پښنوشي اوداهم ضروري نه ده چي تراودس کولووروسته سمدستي موزې په پښنو کړي بلکه تراوداسه ماتيدلو وړاندي چي هروخت په پښنوشي صحيح دي .
مسئله : په موزوباندي هغه وخت مسح جائز ده چي يوازي اودس مات شوي وي که غسل واجب شو په موزودپاسه مسح کول کافي نه دي موزې به باسي که يې موده پوره وه اوکه نه وه [طهورالمسلمين صفحه ۳۵]

مسح به د موزوپه کوم ځای اوڅرنګه کیږي

شارع ﷺ دټولي موزې مسح چي پښه په پټيږي ضروري بللې نه ده، سره له دې چي په موزومسح کول دپښودمینځلوقائم مقام دی اودپښوپوره مینځل فرض دي . ددې سبب دادی چي په موزوباندي دمسح کولوحکم یوځانګړي مراعات دي . شارع ﷺ په دې کښي اساني ایښې ده . ترڅوچي ډیره نرمي وشي . داخبره پاته کیږي چي دموزودڅومره اندازې مسح کول فرض دي په دې هکله مسائل دادي :

مسئله : دموزودپاسه ددریوګوتوپه اندازه مسح کول فرض دي دګوتي لوی والی به دلاس دوړې ګوتي برابروي . داهم شرط دی چي مسح به دموزې په هغې برخه کیږي چیري چي پښه وي . په دې مسئله کښي دموزومسح دسرپه مسح قیاس شوې ده نوله دې پرته بل ځای مسح کول جائزنه دی . مثلاهغه ځای چي له پندي سره لګیدلی وي یاپه وړاندنی برخه یاله لاندي لوري یاپه څنګ البته هغه برخه چي دبیدیوبرابروي هلته مسح جائزده .

مسئله : که دڅرمني په موزوبینستان ؤاوهغه دپاسهورباندي دومره ډیرووچي دمسح کولوپه مهال اوبه څرمني ته ونه رسیږي مسح صحیح نه ده . همداسې که دویښتانودپاسه دمسح کولوئیت وکړي اوبه څرمني ته ورسیږي هم مسح نه صحیح کیږي . [کتاب الفقه صفحه ۲۲۸ جلداول]

مسئله : موزي به دومره څري نه وي چي مسح ورباندي نه کیږي اودڅري کیدلواندازه به دپښې ؛دریوګوتوپه برابري وي .

مسئله : مسح دلاس په ګوتوکیږي . که په یوه ګوته مسح وکړي نه صحیح کیږي ځکه داویره وي چي دمسح داندازې ترپوره کولووړاندی دګوتي اوبه وچې شي خوبیاهم که په یوه ګوته مسح وکړه خودموزو پر دریو

ځایونو وکړه اوهر ځل یې نوی اوبه راواخیستلی نومسح صحیح دی . همد اسې که دګوتوپه څوکه مسح وکړي خوپه هغه مفروضه اندازه وشي اوداوبوڅاڅکي په ګوتوپاته وي مسح کیږي اوکه نه وبیانه صحیح کیږي دادي هم ښکاره وي چې په موزوباندې یوازې په لاس مسح کول ضروري نه دي بلکه که دباران اوبه په هغې برخې وبهیدلې چیرې چې مسح کول ورباندې فرض دي یاهسې اوبه ورباندې وه بهیدلې نودمسح لپاره کافي دي .[کتاب الفقه صفحه ۲۲۲ جلداول]

مسئله : په موزوباندې فرض یوازې دومره دي چې دلاس په دریوګو توبرابره برخه په هره موزه مسح شي . دمسح کولوغوره طریقه داده چه ددواړولاسونوګوتې په اوبولندې شي،سره لیرې شي اوددواړو موزو د پښودګوتوپه لورکښېښودل شي پورته لورته کښ کړای شي ترڅو بیلېو ته ورسیږي .

مسئله : که څوک سرچپه مسح وکړي یعني دبیلېوله لوري دګوتوپه لوري یې کش کړي بیاهم مسح جائزده خودادسنت خلاف ده . [طهورالمسلمین صفحه ۳۵]

مسئله : لومړی به دواړه لاسونه په غیرمستعملویعني نیواوبو لامده کړي بیادښي لاس ګوتې وغوړوي اوپه ښې موزه یې دګوتوپه برخه کښېږدي اوبیادکیڼ لاس ګوتې وغوړوي اودکیڼې پښې دموزودګوتوپه لوریې کښېږدي پورته لور ته یې دبیلېوراو کاږي داسې چی داوبولیکي سرګندي شی . دمسح مسنونه اومستحبه طریقه همداده . که څوک یوازې په یوه ګوته داسې مسح وکړي چې هرځل نوي اوبه راواخلي هم صحیح ده اوکه یې نوي اوبه نه رااخیستلې بیاصحیح نه دی . [مظاهرحق صفحه ۴۲۷ ج۱]

مسئله : دموزومسح که په ګوتوونه کړي اوپه ورغوي يې وکړي په لاس يې ونه کړي بلکه په لرګي يې وکړي يايې درخت ټوټه لنده کړه اوورباندي مسح يې وکړه هم صحيح ده .
مسئله : که دباران يانوررواوبوڅاڅکي درباندي ولګيدل اودريو دريوګوتوپه کچ ځايوند دموزودپاسه لامده شول ياشبنم لويدلی واوپه وښوکښې په تيريدلوموزې لمدې شوې هم کافي ده . ياپه داسي وښوکښې وګرځيدچي په باران لامده شوي ووهم جائز ده .
مسئله : که دلاندي يعني دپښودتلي په لورمسح وکړي يابښې اوچپ يادپندې لورته مسح اوکړي ياتردريوګوتوکمه اندازه مسح وکړي يوجوازنلري .
مسئله : که ګوتي کړې نه کښيږدي بلکي ولاړي يې ونيسي او کش يې کړي لاسونه ښه لامده وواوبه ترې څڅېدلې أوپه دواړو پښود دريو ،دريوګوتوپه کچ ځايونه لامده شول مسح جائزه ده . او که اوبه کمي وي يوازې دګوتودسرونودرې درې ځايه نښې پاته شوې نومسح جائزنه ده .
[طهورالمسلمين صفحه ۳۲]
مسئله : که په يوه موزه ددووګوتوپه اندازه اوپه بله دپنځو ګوتو اندازه مسح وشي جائزنه ده .
مسئله : که دچاپه پښه کښې زخم ؤاوهغه شخص هغه زخم نه مينځلای شوای اونه يې هم مسح کولای شوای نوهغه ته دبلې مسح کول جائزدي . که ترپښېيوپورته پښه غوځه شوې وه همداحکم يې دی اودپښېيولاندي غوځه شوې وي اوددريوګوتوپه اندازه يې درباندي مسح کولای شوای نوپه دواړودي مسح وکړي . [فتاوی عالمګيري صفحه ۲۵جلداول]

مسئله : که په بټه ګوته او ورسره نژدې ګوته مسح وکړي اودواړي خلاصي وي نومسح جائزده .
مسئله : که داسي مسح وکړي چي درې ګوتي کښېږدي اوهغه کش نه کړي جائزدي خودسنت خلاف دی .
مسئله : که دګوتوپه سرونومسح وکړي اواوبه ترې څاڅي نو مسح جائزده اوکه نه نوجوازنلري .
مسئله : داندامونوپه مینځلوچي کوم لندوالی پاته کیږي په هغوی مسح جائزده . که اوبه ترې څڅیدلې اوکه نه څڅیدلې خو چي له مینځلوکوم لمدوالی پاته کیږي په هغه مسح صحیح ده .
مسئله : که دموزو پساره مسح وشي صحیح ده .
مسئله : که ورغوی ورباندي کښیږدي یایوازي ګوتي ورباندي کښیږدي اوکش یې کړيَ نودواړه صورتونه جوازلري . خوخورا غوره داده چي په پوره لاس مسح وشي که یې دلاس په شامسح کړي هم جائزده .
مسئله : په مسح کښي لیکي یعني داوبوپاته نښي شرط نه دی خودا سورت مستحب دی .
مسئله : مسح څوواره سنت نه ده یوازي یوځل ده . یعني په اوداسه کښي درې ځله مینځل سنت دي خومسح یوازي یوځل ده .
مسئله : دموزو دمسحې لپاره نیت شرط نه دی . [فتح القدیر]
مسئله : که چاودس وکړاوپه موزویې مسح وکړه اوپه هغه کښي دښودلونیت ودپاکي نیت یې نه ؤنوصحیح ده اومسح وشوه .
[خلاصه فتاوی عالمګیري صفحه ۶۲ جلداول]
مسئله : که موزې خلاصي وي چي له پاسه پښې ترې ښکاره کیدلې،داځه زیان نلري خوکه موزه ترپښې ستره وي اوپه هغه ځای مسح وشي چیري چي پښه نشته په دې ترتیب مسح صحیح نه ده،یعني داپه موزه باندي

مسح اعتبار نلري چې دپښوخالي ځای وي . خوکه پښه هغه خالي ځای ته ورسوي دپاسه پرې مسح وکړي جائزده اوکه پښه ترې لرې شي مسح به راګرځوي خويوقول دادی چې دمسح اعاده ضرورنه ده تفصيل په طحطاوی کښې وګورئ . [درمختارصفحه ۳۴ جلد۳]

په موزوڅه مهال مسح ناجائز ده

مسئله : که موزې تربيله يوتيتې وي مسح ورباندې جائزنه ده .
[فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۷۴ جلداول]

مسئله : که موزه ډيره څرلې وي چې دتللوپه وخت کښې ورڅخه تردريو ګوتوزياته وليدله شي. مسح ورباندې جائزنه ده .

مسئله : که يوه موزه دوه درې ځايه څرې وي که هغه سره يوځای شي اودرې ګوتوپه اندازه شي نومسح جائزنه ده .

مسئله : که په دواړوموزوکښې بيل بيل ځايونه څرې وي که هغه سره يوځای شي اودډريوګوتواندازه پوره کړي هم پروانه لري مسح ورباندې جائز ده ترهغه چې په يوه موزه کښې تردرې ګوتوزيات ځای څرې نه وي .

مسئله : که تردريوګوتوزيات ځای څرې(پرې)وه خودتګ په مهال څرمن سره ورشي اوپښه تردرې ګوتوکمه څرګنده شي نومسحه ورباندې جائزده .
[طهورالمسلمين۳ صفحه ۳۵]

په غيرګوموزودمسح کولوحکم

مسئله : که څوک غيرګې موزې يودبل دپاسه په پښوکړي نو پاسنۍ موزې اعتبارلري نوکه په پاسنۍ موزومسح وشي اوبيايې وباسي نومسح ختميږي په لاندينۍ موزوبه بيامسح کوي . [شامي صفحه ۳۷۳جلداول]

که پاسنۍ موزې ددريوګوتوپه کچ څرې ووي نومسح کول ورباندې جائزنه ده . [بدائع صفحه ۱۱ جلد۱]

په موزوباندي مسح څه مهال باطلیږي

مسئله : که دمسح دمودې په دننه وخت کښې دپښې ډیره برخه بهرشي نودمسح موده ختمه اومسح باطلیږي .

مسئله : همداسي که په ناڅاپې توګه موزه ډیره غوڅه شي پښې ښکاره شي،که دواړې پښې یایوه یازیاته برخه په اوبولمده شي نوباطلیږي . په دې صورتونوکښې ددواړوپښومینځل ضروري دی . که دواړه پښې له موزوووزي یایوه دواړي پښې لمدي شي . یایـ ه نوپه دې صورت کښې یې اودس ؤیوازي پښې به وینځي ټول اودس کول ضرورنه ده که څه هم غوره داده چي اودس نوی کړي خولازم نه دی

مسئله : که غسل په چاباندي لازمیږئ هم مسح باطلیږي غسل کول اودپښومینځل ضروردي(یعني په جنایت حیض اونفاس هم مسح باطلیږي)

مسئله : که چادبې اودسي په مهال موزې په پښوکړې،دپښو مینځلوپه ځای په موزومسح وکړي دابالکل باطل اوبې اعتباره ده ترڅوپښې ونه منځل شي بې اودسه ګڼل کیږي .

مسئله : څوک چي په منظم توګه موزې په پښوکوي مسحورباندي جائزده که داوداسبه په مهال مسح ونکړي بلکه موزې وباسي اوپښې ومنځي بې شکه جوازلري(بلکه لاغوره ده)خوکه دلمانځه وخت تنګ ؤکه موزې باسي اوپښې مینځي،لمونځ قضاکیږي نوورته جوازنلري چي موزې وباسي بلکه نوراندامونه دي ومینځي اوپه موزومسح کول ورته لازم اوضروري دی .

مسئله : همداسي که اوبه ډیري کمي وي،موزې وباسي او اندامونه مینځي اوبه کافي نه وي نوتیمم ته اړکیږي . په دې صورت کښې هم لازم دی چي موزې ونه باسي لاس اومخ ومینځي په سراو موزومسح وکړي .

[طهورالمسلمین صفحه ۳۷]

مسئله : مسح هغه شيان ماتوي کوم چي اودس ماتوي داځکه چي مسح داوداسه يوجزدی يوهغه چي دکل ناقض وي دجزهم ناقض دی . له دې سره دمسح ماتول دموزوپه ايستلوهم دی که څه هم له يوې پښې وايستله شي . اوکه دموزې دمسح موده تيره شي هم مسح ماتيږي . (درمختارصفحه ۴۲ جلد ۲)

مسئله : له شرعي موزې څخه دپښواکثربرخه ختل ياقصدا ايستله دټولي موزې دايستلوحکم لري ځکه قاعده ده چي اکثره لره حکم دکل ده . خودپښې شا(پنده)که وزي اودننه کيږي اعتبارنلري يعني پرته له ارادې دموزې دپراخوالي له امله که دپښې دشابرخه وزي ننوزي کوم اعتبارنلري .[درمختارصفحه ۴۷ جلد ۲]

مسئله : ديوې يادواړوموزوپه ايستلويادمسح دمودې په ختميدلوهم مسح ماتيږي . (هدايه) خوداحکم په هغه صورت کي دی چې اوبه وي ،که اوبه نه وی نودمودی په تيريدومسح نه ماتيږي بلکه په دې مسح لمونځ رواکيږي تردې که موده تيره شوه اولمونځ يي کاوی اوبه نشته نولمونځ دی کوی (عالمګيری ص ۶۸ج ۱)

مسئله : که موزې دومره پراخي وي چي دننه ګوتي ننباسي مسح وکړي نه صحيح کيږي .

مسئله : همداسي که دموزوپه څنډه ياشاته ياتريدودپاس مسح وکړي نه صحيح کيږي . [کتاب الفقه صفحه ۲۲۲ جلداول]

له اوداسه پرته په موزومسح کول

پوښتنه : که څوک بې اودسه موزې په پښوکړي بياچي دلمانځه وخت راشي اودس وکړي اوموزې مسح کړي،لمونځ کيږي؟په دې مسئله کښي فقه کښي دطهارت لفظ راغلی دی ايادا په اودس باندي دلالت کوي ياله طها رت څخه مطلب دبدن پاکوالی له نجاست څخه؟

جواب : له اودس څخه پرته يعني دپښوله مينځلوپرته که موزې په پښويي مسح ورباندي صحيح نه ده .
له طهارت څخه مطلب اودس دی . دايوه اتفاقي مسئله ده . دچااختلاف پکښي نشته تاسوچي په کوم مطلب پوه شوي ياست هغه غلط دی .
[فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۷۲ جلداول]
مسئله : دمسح دجوازلپاره داضروري ده چي موزې په اوداسه په پښوشي
[فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۲۸ جلداول]
مسئله : که په موزونجاست ولګيږي پياهم ورباندي مسح صحيح ده خولمونځ کول (له هغه نجاست سره)صحيح نه دی . [کتاب الفقه صفحه ۲۲۳ جلداول]

که مقيم دمسح دمودې ترپوره کيدلووړاندي مسافرشو

مسئله : که مقيم دموزو پښوکولووروسته ديوی شپې اوورځي ترپوره کيدلووړاندي شرعي مسافر شوپه دې صورت کښي هغه ته جائزدي چي دمسافرموده پوره کړي يعني تردريوورځواو شپوپوري په موزومسح وکړي .
مسئله : همداسي که کوم مسافردريوورځوترپوره کولووړاندي مقيم شو . هغه ته دمقيم دمودې ترتيريدلوپه موزوباندي مسح جائزده . مثلاً يوه مسافرسهارپه اوداسه کښي پښې ومنځي موزې يې په پښوکړي بياهمدی ورځي په ماښام خپل کورته ورسيدنودی به يوازي يوه ورځ اوشپه مسح کوي . [مظاهرحق صفحه ۱/۴۲۹]
مسئله : که مقيم ترخپلي مودې (يوه ورځ اوشپه)پوره کولو وروسته مسافرشو . هغه به موزې باسي اوپښې به منځي اودس به کوي اوکه مسافر داقامت دمودې تر پوره کيدلووروسته مقيم شو .
موزې به باسي اوپښي به منځي اوکه يوه شپه اوورځ پوره نه وه هغه دي پوره کړي ځکه هغه اوس دمقيم حکم لري .

مسئله : دمعذورکه داودس کولوپه مهال عذرموجودنه واوموزې يې په پښوکړي نودجوړوکسانوورته دمعلومې مودې پورې مسح جائزده اوکه داودس پرمهال يادموزې پښوکولوپروخت ورته عذر پيداشونومسح دلمانځه په وخت ورته جائزده اوچې وخت تيرشي جوازنه لري .

[فتاوي عالمگيري صفحه ۲۷ ج۱]

مسئله : که يوې موزې ته دننه اوبه ورشي تړوله پښه پرې لمده شي په دې صورت کښي مسح ماتيږي موزه به کاږي اوپښه به منځي . [رکن دين صفحه ۲۲]

يادونه : دتفصيل لپاره وګورئ زمااحقرمرتب کتاب مکمل ومدلل دموزومسئلې [رفعت قاسمي]

په سفرکښي دروژې مسائل

مسئله : سفرکه جائزوي اوکه ناجائز . مسترح وي لکه دريل او نوروسفر اوکه له ستونزودک وي لکه پياده يادځاروويه سپارلي . په هرحال کښي روژه نه نيول په کښي جائزدي . خوپه مستريح او ارام سفرکښي مستحب داده چي روژه ونيوله شي . که څوتنه وي اونوريې روژه خوري دخوراک څښاک انتظام په هغوی باندې ستونزمن وي بياکه سفر يېستونزمن هم وي روژه دي نه نيسي .[علم الفقه صفحه ۳/۱۳۵]

مسئله : دسفرپه حالت کښي روژه نيول صحيح دي اوثواب لري خونه نيول يې رخصت دی اودسفرواټن ۴۸ميله ضروري ده

[قديم فتاوی دارالعلوم صفحه ۳/۷۳]

مسئله : سفرپه حالت کښي روژه نيول يانه نيول دپخوانيو علماوو ترمنځ رايي متفاوتي دي په هغوی کښي مقبوله او د احاديثوپه رڼاکښي ترټولوواضح اوځرګنده رايه داده چي که سفر داسي وي چي روژه نيول پکښي ستونزه نلري ياستونزه وي خوشخص جوړوي روژه نيولای شي

نوروژه نیول غوره دی خوکه په روژه نیولو کښي ستونزي وي یادوقت له تقاضاسره سم دامهال روژه نه نیول غوره وي نوپه داسي حلاتو کښي روژه نه نیول غوره دی . [الترغيب والترهيب صفحه ۳۰۲ جلد ۲]

ایاپه روژه کښي هم قصرشته

مسئله : په سفرکښي دروژې حکم دادی چي که په سفرکښي ونه نیول شي قضایي رأوړي . (فمن كان منكم مريضا اوعلى سفرفعدة من ايام اخر)[بقره پاره ۲]دلمانځه په هکله په حدیث شریف کښي داحکم راځي چي په هغه کښي تخفف ومنی ځکه هم امام صاحب اعظم(رحمه الله)داامرواجب بللی دی چي په لمانځه کښي قصرکول ضروري بولی . دروژې په هکله په قران کریم کښي اختیاربښکاره کیږي که غواړي ودي نیسي اوکه غواړي ودي خوري . که په سفرکښي سهولت واودروژې نیول ستونزمن نه ونوروژه نیول غوره دی لکه چي فرمايي (ان تصوموا خيرلكم)

[بقره پاره ۲]نوښکاري چي که په سفرکښي مشقت نه و،روژه نیول فضیلت لري اوغوره والی یې الله ښودلی دی اوپه لمانځه کښي قصرنه کول دنعمت کفران دی . رسول الله(صلى الله عليه وسلم)فرمايي چي دادخدای حکم دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۷۵ جلد ۲]

که څوک دوولس میاشتي مسافروي دهغه لپاره روژه

پوښتنه : یوڅوک اکثرادسفرپه حال کښي وي اورمضان المبارک هم دسفرپه حال کښي ورباندي تیریږي . تررمضان وروسته هم دقیام موقع ورته نه موندل کیږي . که ټول عمردااقامت فرصت ونه مومي درمضان قضا ورباندي لازمیږي اوکه نه؟دفدیې وصیت ورباندي لازمیږي اوکه څرنګه؟

جواب په قراني نص کښي دمسافراومریض دقضایي دوجوب سبب .[عدت من ايام آخر]ادراک ښودل شوي دي نوکه دادراک ورځي وي دادراکه په

اندازه ورباندې لازم دی اوکه نه ووجوب نشته که څه هم مرض اوسفرتول عمرپاته شي .
فلاتجب عليهم الوصية بالفدية لعدم ادراكهم عدة من ايام اخرولوماتوابعدزوال العذروجبت الوصية بقدرادراكهم عدة من ايام اخركذافى الدرالمختار.
[امدادالفتاوی صفحه ۴۴، جلد ۲]

ایارسول الله ﷺ په سفرکښې نیولې روژه ماته کړه

پوښتنه : رسول اللهﷺ دسفرپه حالت کښې روژه تیولې اوبیابې ماته کړې اوپه خپلوملګرو(صحابهؓ)یې افطاروکړ ایاد پیښه مستنده ده؟
جواب : هودسفرپه حالت کښې درسول اللهﷺ اوصحابه کرامو د روژې دخوړلوپیښه مستندده .
دابن عباس رضي الله عنهما بیان دی چې رسول اللهﷺ درمضان په میاشت کښې له مدینې منورې مکې معظمې ته روان ؤپه لاره کښې دغسقان له سیمې سره یې اوبه وغوښتلې اوصحابه ؤ ته یې وویل افطاروکړی بیایې ترمکې روژه ونه نیوله داخوخپله څرګنده ده که غواړي روژه دې ونیسي اوکه غواړي ودې خوري . په نوروروایتونوکښې داهم څرګنده ده چې دروژې له امله دصحابه ووحالات بدل شول له همدې امله رسول اللهﷺ همداسې کول .
جابرﷺ فرمایي : ځینوصحابه ووافطارونکړ،کله چې رسول اللهﷺ خبرشونویې فرمایل : هغوی نافرمانه دی ځکه رسول اللهﷺ په رخصت عمل وکړاوغوښتنه یې داوه چې ټول په رخصت عمل وکړي . خصوصاداهم چې رسول اللهﷺ دمکې دفتح لپاره روان واوداسفردجهادو. په هرحال کوموکسانوچې عمل وربندې ونکړ رسول اللهﷺ ورباندې ناخوښه ؤ.
په یوه روایت کښې راځي چې په یوه سفرکښې دیوه صحابي حالت خوراخراب شو،صحابه ورباندې راغونډشول دهغه خدمت یې کاوپه هغه

يې سيوري جوړکړې، رسول الله ﷺ دا وليدل وې فرمايل : په سفرکښې (په ځان ظلم کوی) روژه نيول کومه نيکي نه ده.
ددې حديثونوپه رڼاکښې فقهاء فرمايي چي دسفرپه حالت کښې روژه نيول ضوري نه ده . که يې ونيوله په عزيمت يې عمل وکړاوکه يې ونه نيوله په رخصت يې عمل وکړ. که دروژې له امله يې طبيعت نه خرابيده اوتکليف ورته نه رسيده نونيول يې غوره دی که ده يايې ملګروته دزيان رسيدلو ويره وه نه نيول يې غوره دی . [فتاوی رحيميه صفحه ۳۲ ج۲]

له روژه نيولوڅخه ځان ساتل اوسفرکول

پوښتنه : که له روژې څخه دځان ژغورلولپاره چادسفريامرض حيله يې وکړه اوروژه يې قضاءکړه؟
جواب : شرعي مسافراومريض ته دروژې خوړل جائزدی اوحيله (چل اوتدبير) کول مذموم اوبددی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۲۹۲ جلد ۲]

دترددپه حالت کښې روژه نيول

پوښتنه : که څوک دترددپه حالت کښې دقصرلمونځ کوي . هغوی ته درمضان روژه قضاکول جوازلري؟
جواب : مسافرچي چيري يې دپنځلس ورځوهستوګني نيت ونکړاوپه ترددکښې ؤ لمونځ به قصرکوي اودروژې افطارهم ورته صحيح دی .
[فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۵۷ جلد ۲]

تراته څلويښت ميله دکم سفرحکم

مسئله : که دري منزله اته څلويښت ميله سفرونوروژه نه نيول صحيح دي ترديې واتن په کم سفرکښې دروژې نه نيول صحيح نه دي . [فتاوي دارالعلوم صفحه ۲/۱۴۳]

په سفرکښې دپنځلس ورځونيت کولوحکم

مسئله : که په لاره کښې دپنځلس ورځواقامت په نيت څوک پاته شي نوروژه نه نيول ورته جائزنه دي ځکه هغه په شريعت کښې مسافرنه بلل

کيږي . خوکه ترپنځلس ورځوپه لږوخت پاته شي نو روژه نه نيول ورته صحيح دي[بهشتي زيور ۳/۱۹]

ترصبح صادق وروسته سفرکول

پوښتنه : زيددورځي له لوري دسفرکولواراده وه . که يې سحر (پشلمی) وکړخودروژې نيت يې ونه کړنوجائزدي ؟

جواب : که څوک سهار مهال مسافرنه وي نوروژه نه نيول ورته جائزنه دي. که څه هم دورځي يې دسفرکولوپخه اراده وي . [احسن الفتاوي ۴/۴۲۷]

مسئله : که کوم مقيم په رمضان المبارک کښي دروژې ترنيت کولو وروسته سفروکړي . په هغه باندي دهغې ورځي روژه نيول ضروري ده خو که يې هغه ماته کړه ،کفاره ورباندي نشته يوازي قضاء شته . [علم الفقه ۳/۳۵]

که ترغرمې وراندي کورته ورسيد

مسئله : په سفرکښي يې دروژې دنيولواراده نه وه خوترغرمې يو ساعت وړاندي کورته ورسيدايې دا مهال دپنځلس ورځو د اقامت نيت وکړاوتردامهاله يې څه خوړلي څښلي نه ونواوس دي.دروژې نيت وکړي .
[بهشتي زيورصفحه ۱۹]

مسئله : که کوم مسافرترغرمې وړاندي مقيم شواوتردامهاله يې دروژې خلاف فعل کړي نه ويعنی خوراک څښاک يانورڅه يې کړي نه وو نوروژه نيول يې ضروردي هوکه يې فاسده کړه کفاره نشته يوازي قضايې شته .
[علم الفقه ۳/۳۵]

مسافرته دروژې دماتولواجازه

پوښتنه : زيددفرض روژې نيت وکړ . دورځي څه برخه تيره شوه ، ناڅاپه په سفرروان شو ،سفرهم خورااوږدوايازيدهمداروژه ماتولای شي ؟

جواب : که ستونزه وه ، دروژې پوره کول ورته مشکل و ماتولای يې شي (بيابه يوازي قضاء راوړي) [فتاوي محموديه ۳/۱۴۱]

که روژه لرونکی مسافر روژه فاسده کړه

مسئله: که مقیم دروژې ترنیت کولو وروسته مسافر شي . څه ځای لاړشي، وړی شي، بیرته کورته راشي او روژه ماته کړي، دهغې به کفاره اداکوي ځکه په ده باندې دمسافراطلاق نه کیږي . ځکه هغه هلته دپاته کیدلو په نیت نه وتللی او نه هلته پاته شو[علم الفقه صفحه ۳۲ جلد ۳]

مسئله: مسافرپه سفرکښې روژې نیت وکړ خوبیایې نیت بدل کړ خوراک،څښاک یې وکړ کفاره وریاندې نشته خوکه دروژې تر نیولو وروسته سفرپیل کړي دکفارې په وجوب کښې اختلاف دی خو راجح دا خبره ده چې په هغه صورت کښې هم کفاره واجب نه ده .[احسن الفتاوی صفحه ۴۴۸ جلد ۴]

مسئله: که تنده دومره ډیره وه چې دمړینې اندیښنه وه یادعقل دتللو ویره وه نوروژه ماتولای شي اویوازې قضابه یې راوړي .[فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۴۰ جلد ۲]

دمیلمستیاله امله دروژې ماتول

مسئله: که په خوړوکښې په نه ګډون دمیلمه زړه ماتیده نومیلمستیا عذر دی نودنفلي روژې ماتول څه زیان نلري خو وروسته ددې روژې قضا راوړل ضروري دي خوکه پوهیده چې میلمه نه خفه کیږي بیاروژه ماتول مناسب نه دي .

مسئله: روژه لرونکي میلمه ته مستحب ده چې هغه کوروني اودهغه عیال ته دعاوکړي . [مظاهرحق صفحه ۲۷۲ ج۲]

دسفرله امله په روژه کښې کمښت او زیاتوالی

پوښتنه: یوڅوک په جده کښې کار کوي هلته یې درمضان روژې نیول پیل کړل هلته میاشت نه ویشت وه اودلته دیرش ورځې هغه شخص دلته راغی دیرش روژې یې پوره شوې هغه به ددې ځای د خلکوسره یودیرشمه روژه نیسي ؟

جواب: هغه شخص به له دې خلکوسره روژه نیسي دهغه به یودیرش روژې شي لکه چې چامیاشت یوازې لیدلې وي او دهغه شاهدي منظوره شوې نه وي هغه ته دخپل رؤیت په اعتبارسره روژه نیول په کارده که تر دیرشو

روژو وروسته میاشت ښکاره نشي هغه چي یوه ورځ یې وړاندي روژه نیولې ده یوازي دانه چي افطار ورته جائزنه ده بلکي ورته دا حکم دی چي له هغوخلګو سره روژه ولري اوتولوسره یوځای اختر کړي .[رحیمیه صفحه ۱۸۱ جلد ۵]

مسئله : همداسي که په کوم هیوادکښي یوه دوه ورځي روژه وړاندي راشي داشخص چي چیري لاړشي که هغوخلکوسره دي اختروکړي بیادي پاته روژوقضاراوړي یعني که یې روژي ۲۷ شوي دوي اوکه ۲۸ شوي یوه ورځ دي قضاء راوړي ځکه میاشت تر۲۹ ورځونه کمیږي

[فتاوي رحمیه صفحه ۱۸۱ جلد ۵]

په سفرکښي دقضاشویوروژوحکم

پوښتنه : په سفرکښي دپاته شویو روژوقضاء ضروري ده اوکنه ؟

جواب : هوکه دقضاء وخت ورته وموندل شوقضاراوړل یې ضروردي اوکه یې ونه نیسي دفدیې دورکړي وصیت ورته لازم دي ، په دې شرط چي مال تري پاته شي . که دسفرپه حالت کښي ومري یا مقیم ومري خودروژې دقضاء راوړلووخت ونه مومي بیادفدیې دورکړي وصیت کول لازم نه دي . اوکه څودورځوقضا راوړلووخت ومومي دهغومره ورځو قضاراوړل لازم دي . که یې قضانه راوړه دهغوورځودفدیې ورکولووصیت کول لازم تردې زیات ضرورنه دی . [فتاوی رحیمیه صفحه ۳۴ جلد ۲]

مسئله : که مسافردسفرتر راګرځیدلووروسته یاترناروغی وروسته دومره وخت پاته نشي چي دهغوورځوقضاراوړلووخت یې نوپه زمه یې قضانه پاته کیږي دسفرتر راګرځیدلویادناروغی ترجوړیدلووروسته چي څوورځي ورته پاته شوې هغومره قضالازمه ده . [جواهرالفقه صفحه ۳۸۱ جلداول]

مسئله : که دقضاراوړلووخت ونه مومي نوروژې ورته معاف دي . که داقامت په وخت کښي دقضاراوړلووخت په لاس ورغی بیاله مال څخه دفدیې داداکولووصیت لازم دی .[احسن الفتاوی صفحه ۴۴۸ جلد ۴]

ایامسافردروژې په بدل کښې فدیه ورکولای شي؟

پوښتنه : مسافرپه سفرکښې څوورځې روژې ونه نیولې اوفدیه یې ورکړه ایاپه هغه خوځه ګناه نشته ؟

جواب : دهغوروژوبیاقضاء راوړل ضرورده ، فدیه کافي نه ده . داله دې ایت شریف څخه ثابت دي .

«فمن کان منکم مریضاً اوعلی سفرفعدة من ایام اخر»

[پاره سوره البقره، فتاوي دارالعلوم صفحه ۴۲۳ جلد ۶]

یعني کوم شخص چي له تاسوڅخه ناروغ وي «داسي چي روژه ورته مشکله یازیانمنه وي»یا«شرعي»مسافروي نونورې ورځې دي وشمیري روژه نیول ورباندي لازم دي . [ترجمه مولاناتهانوي،رفعت قاسمي]

که مسافردرمضان المبارک میاشت کښې ومړ

پوښتنه : څوک درمضان المبارک په میاشت کښې مسافرشو، روژه یې ونه نیوله اومړشودهغه دروژې حکم څه دي ؟

جواب : په هغه شخص دقضاء روژه نشته اونه ورباندي دفدیې دورکړي وصیت لازم دي . [فتاوي دارالعلوم صفحه ۴۳۲ جلد ۲]

«درمضان په میاشت کښې که دکومي شرعي مجبوری له وجي پاته شي اوهغه مجبوری لاختمه نه وي هغه شخص ومري په هغه باندي هیڅ شرعي مطالبه نشته څکه ورته داداکولوموقع پیدانشوه . خوکه دهغه دسستې له امله دروژوقضاپاته شوه نودافریضه یې په ذمه لازمه پاته شوه .خدای به ورباندي ونیسي مثلاکه دسفریاناروغی له امله ورڅخه لس ورځي روژه پاته شي ترسفریاناروغی وروسته هغه پنځه ورځي ژوندی پاته شي اوقضاراوړل پیل نکړي نوداپنځه ورځي قضایې په ذمه پاته ده . وصیت کول یې لازم دی . څکه هغومره وخت یې وموند. دهغه خپلوانوته ښایي چي دهغه ددې روژوفدیه ورکړي اودهغه له ذمې اداشي . که هغه سړی مال

پرېښود او وصیت یې هم کړی ونو په وارثانو باندي یې دفدیې ورکړه واجب اوضروري ده . خو که یې وصیت وکړاومال ترې پاته نه وي اودومره کم وچي دریمه برخه دروژوبدله یې پوره کولای نه شوای یایې مال ډیرپاته شوخووصیت یې کړی نه ؤ. په دې صورتوکښي یې په وارثانوفدیه ورکول واجب نه دی . خوله مړه شوي سره دهمدردي اوداخرت دښه کولوپه نیت یې فدیه ورکول غوره کاردی . خپلوان یې فدیه ورکولای شي خودهغه په ځای دروژې یالمانځه قضاراوړلای نشي . محمدرفعت قاسمي)

مسافربه څه وخت اخترکوي

پوښتنه : یوشخص سعودي عرب ته لاړ،دتوپیرله امله یې دوه ورځي کمي وي نو اوس به دسعودي دتاریخ په حساب اخترکوي او که به خپلي روژې پوره کوي ؟

جواب : اختربه دسعودي له تاریخ سره برابرکوي هغه روژې چي پاته شوي دي قضاء به راوړي . [اپ کی مسائل صفحه ۴۲۱جلد ۲]

په کښتي ،ریل اونوروکښي داخترلمونځ

پوښتنه : دسفرپه حالت کښي په بحري جهازکښي داخترلمونځ جائزدی او کنه ؟

جواب : داختردلمانځه لپاره هغه شرائط دي کوم چي دجمعې د لمانځه لپاره دي . په دې معنی په کوم ځای کښي چي دجمعې لمونځ صحیح دي هلته داخترلمونځ هم صحیح دی اوچیري چي د جمعې لمونځ صحیح نه دي هلته داخترلمونځ هم نه کیږي . دجمعې لپاره ښارشرط دي ،نه قصبه اونه هم سترکلی دی .

نه هلته دجمعې لمونځ صحیح دي اونه هم داخترلمونځ صحیح دی . که په جهاز (کشتي)کښې دپنځلس ورځوپاته کیدل وي هم څوک پکښې مقیم کیدلای نشي .[فتاوی محمودیه صفحه ۲۲۷ جلد۱۴]
اودامسئله دریل اونوروپه سپارلي کښې ده . چې هلته هم داخترلمونځ کیدلای نشي . [محمدرفعت قاسمي]
یادونه : دروژې داحکاموتفصیل لپاره دمرتب کتاب(مکمل ومدلل مسائل روژه)وګورئ .

دحج دسفردوخت دعا

حج ته ترتللومخکې دخپلوانواودوستانولیدنه وکړي له هغوی څخه بخښنه وغواړي،ورڅخه دخیردعاطلب کړي . کله چې له کورڅخه دوتلواراده کوي دوه رکعته نفل لمونځ وکړي . له دروازې سره(اناانزلنا ...سورة)ووایاست،چې له کوره ووزئ له خپل وس سره سم څه صدقه وکړی . ایة الکرسی تلاوت کړی(په دریمه پاره کښې ده)اوبیادادعاولولی :اللهم انی اعوذبک ان اضل اواضل اوازل اوازل اواظلم اواظلم اواجهل اویجهل علی)
ای الله‌زه په تاباندې له دې خبرې څخه پناه غوارم چې زه ګمراه شم یانورګمراه کړم،یاظلم وکړم یاظلم راباندې وشي یاجهالت وکړم یاجهالت راباندې وشي .
یادونه : که یې ددې دعاالفاظ یادنه ونوددعامضمون چې وژباړل شول په خپله ژبه دي ووایي (احکام حج تألیف مفتی محمدشفیع)اودسوارلی پرمهال پورته بیان شوی دعاولولئ - (اودتفصیل لپاره وګورئ احکام حج ازمولانامفتي محمدشفیع . رفعت)

دحیض په حالت یاپه ماشومتوب کښې دحج سفر

پوښتنه : ۱:یوه میرمن له خپل سړي سره دحج په سفرلاړه له کورڅخه دروانیدلوپه وخت کښي حائضه وه . دقصرترمسافې وهلووروسته پاکه شوه اومکې مکرمې ته ورسیدله . پوښتنه داده چي هغه میرمن به لمونځ قصرکوي اوکه پوره؟څرګنده ده چي میرمن دسړي تابع ده اودقصرلاره یې وهلې ده . همداسي یوماشوم دسفرد پیل کولوپه مهال نابالغ ؤمکې مکرمې په په رسیدلوکښي بالغ شو.

۲:دسفرمسافه پاؤ بان.ی ۷۷کیلومتردی خوکله چي هغه له هندوستان څخه تله پاکه وه خودقصرترواټن وړاندي مثلاپه پنځوس کیلومتره سفرکښي حایضه شوه نوترحیض راتلووړاندي به یې قصرکاوواوکه بشپړلمونځ ضروري وهمداسي یوماشوم په (۵۰) کیلومترسفرکښي بالغ شو.

۳:یوه حائضه میرمن له کورڅخه روانه شوه اوپه داسي وخت پاکه شوه چې مکې ته دقصرترواټن کم مثلادیرش کیلومتره لاره پاته وه یاهمداسي یوماشوم مکې معظمي ته په دیرش کیلومتري کښي بالغ شو؟

۴:هغه میرمن چي په بیړی کښي حج ته ځي په داسي مهال پاکه شوه چي مکې مکرمې ته دقصرواټن یاډیره لاره پاته وه یاماشوم ترپاؤباندی کیلومتروړاندي بالغ شوه،دابه قصرکوي که پوره لمونځ؟

۵:مکې مکرمې ته دحیض په حالت کښي داخله شوه له وطن څخه حأیضه تللې وه اودحج ورځوته یوازي لس ورځي پاته وي هلته پاکه شوه دابه قصرکوي که پوره لمونځ . همداسي یوماشوم مکې ته په رسیدلوکښي ترحج وړاندي بالغ شو؟

۶:دحج ورځوته شل ورځي پاته وي،خوچې دامیرمن پاکه شوه دیارلس ورځي پاته وي حکم یې څه دی؟

۷:دپاکۍ په حالت کښې داخله شوه اودحج ورځې کښې لس ورځې وې حکم يې څه دی؟
۸:که دحج ورځې په شروع کښې پنځلس يازياتې ورځې وې حکم يې څه دی؟
[احقرمحمد ابراهيم قاسمي(افريقي)مقيم چهته مسجد دارالعلوم ديوبند]
جواب : باسمه سبحانه وتعالى،الجواب بعون الملک الوهاب
ـحامداًومصليًا ومسلمًا
۱: دحيض اونابالغۍ په حالت کښې دسفر دپيل په وخت کښې دقصر قصداعتبارنلري.
نوځکه به په دې صورت کښې هم داميرمن اوبالغ کيدونکی ماشوم په مکه معظمه کښې په هستوګنه لمونځ پوره کوي.
طهرت الحائض وبقى لمقصدهايومان تتم فى الصحيح،کصبى بلغ بخلاف کافراسلم. [درمختارعلى ردالمحتارصفحه ۵۳۵ جلداول]
۲: په دې صورت کښې له خپلې ودانۍ څخه په دې ميرمن قصر کول واجب دي. داچې دپاکۍ په حالت کښې يې دشرعي فاصلې دوهلوپه قصدسفرپيل کړی دی نوترحيض راتلووراندې قصرکوي. اوماشوم چې پنځوس کيلومتروروسته بالغ شوی دی نوشرعي مسافرګرځي څکه هم قصروربانددې واجب دی.
۳: له کورڅخه دوتلوپه مهال هغه ميرمن حائضه وه اومکې معظمې ته په ديرش کيلومتري کښې پاکه شوه داچې ترپاکۍ وروسته شرعي مسافه پاته نه ده نوځکه په همدې ميرمن پوره لمونځ کول واجب دي اوماشوم هم په دې صورت کښې تربلوغ وروسته شرعي مسافرنه ګرځي لمونځ به پوره کوي.
۴: په دې صورت کښې په دواړوقصرواجب دی.
۵: داچې شرعًادې سفرته اعتبارنشته نودپوښتنې په دې صورت کښې چې ميرمن پاکه شي اويا ماشوم بالغ شي لمونځ به پوره کوي.

۶: په دې صورت کښې هم په میرمن اوماشوم اتمام واجب دی .
۷: تړپاکې وروسته که شرعي مسافه پاته وه نومسافربلل کیږي اوقصرورباندې واجب دی اوکه نه وه اتمام واجب دی .
۸: که شرعي مسافه پاته شوه نوداچې په مکه مکرمه کښې پنځلس یا زیاتي ورځي تیروي نومیرمن مقیمه ګرځي اواتمام ورباندې واجب دې اوپه دې لړکښې دنیت په لحاظ دسړي تابع ده .
والمعتبرنیت المتبوع لانه الاصل لاالتابع کامراة وعبد جسدی واجبرمع زوج وولی وامیرومستأجر . [درمختار علی ردالمحتار صفحه ۵۳۳ جلداول]
نوټ : له اولی تر۷ شماري داولی مادی مندرجات کافي دي . والله اعلم احقرمحمودغفرله . [دعلماءکراموتصدیقونه په اخرکښې وګورئ]
مسئله : دمیاشتني بیماری په حالت کښې احرام تړل،په عرفات دریدل،په مزدلفه کښې وقوف،په منی کښې دجمرورویشتل د صفااومروا سعی اونورټول امورجائزدي یوازې طواف کول جوازنلري . نوکه ترطواف وراندې بیماری پیل شوه نوله حاجیانوسره دي ټول کارونه وکړي طواف دي نه کوي ترناروغی وروسته دي طوف وکړي یعني کله چې ناروغی ختمه شي طواف دي وکړي اوپه میرمني دمیاشتنی مریضي له امله دنحرپه ورځوکي طواف لازم نه دی بلکه کله چې پاکه شوه هغه مهال لازمیږي اودزیارت له طوافه پرته حج نه کیږي . [رحیمیه صفحه ۵۲ جلداول]

دحج په سفرکښې خپل کسب کول

پوښتنه : یونائي حج ته ولاړکه هغه دتلوراتلوپه لاره یاپه مکه مکرمه کښې خپل کسب کوي،ګټه کوي دهغه دحج په هکله خو به کوم کراهت نه وي؟
جواب : جائزده خوخبره داده چې ثواب یې کمیږي؟که یې اصل مقصدګټه وه نوبیشکه ثواب یې کمیږي اوکه یې مقصدحج ؤاوګټه یې تابع وه نوثواب یې هم نه کمیږي خودعدم اخلاص شبه پکښې ده اوکه له ګټې

څخه دحج دسفرسهولت مقصدوي ترڅوهلته لاس تنګي نشي بیاکومه شبه پکښې نشته جائزبلکه غوره اوافضل کاردی .
[امدادالاحکام صفحه ۱۲۰ جلد۲ وفتاوی رحیمیه صفحه ۲۰ جلد۲]

دحج دسفرپه لاره کښې قصر

مسئله : څوک چې د۴۸ میله مسافې په قصدووزي هغه شرعي مسافردی ،په لاره په هغه قصرلازم دی ترهغه چې دپنځلس ورځوپه نیت چیرې قیام ونلري . همدا قصربه کوي . که په مکه مکرمه کښې ددوومیا شتو اوسید لو په نیت هندوستانی حاجي روانیږي هم په لارکښې به قصرکوي .
[رحیمیه صفحه ۲۳۲ جلد۱]

ترحج وړاندې رسیدونکی مقیم دی که مسافر؟

پوښتنه : که څوک دذی الحجې په لومړی نیټه مکې مکرمې ته ورسیږي اودشلوورځواوسیدلونیت وکړي اوچې له حج څخه فارغ شي دذی الحجې په یووشتم نیټه مدینې ته دتللوقصدولري . داشخص به په مکه کښې دهستوګنې په مهال لمونځ پوره کوي اوکه قصر،داسې شخص مقیم دی که مسافر؟

جواب : داشخص مقیم نه دی مسافردی . هغه ته ښایي چې په مکه مکرمه کښې لمونځ قصرکړي په منی،عرفات اومزدلفه کښې هم قصروکړي . خوپه مقیم امام پسې لمونځ کوی بیابه قصرنکوي لمونځ به پوره کوي لکه دسفرحال چې دی . [فتاوی محمودیه صفحه ۱۸۴ جلد۳]

په مدینه منوره کښې به قصرکوي؟

پوښتنه : په مدینه منوره کښې په هستوګنه به مقیم وي که مسافر . ځکه اوروچې هلته تراتوورځودډیروخت داوسیدلو اجازه نشته .

جواب : دپنځلس ورځوپه نیت مقیم ګرځي په لسوورځوکښې دقیام ضابطه کیږي . [فتاوی محمودیه صفحه ۵۸۵ جلد۳]

مسئله : حاجي که دذوالحجې په لومړنی عشره کښې مکې مکرمې ته داخل شي اودپنځلس ورځوهستوګنی نیت وکړي . نه صحیح کیږي ځکه چي عرفات ته حتماځي اوداشرط تحقق نه مومي . [فتاوی عالمګیري صفحه ۵۹ جلد ۲]

په منی کښې ولي لمونځ قصرکیږي؟

پوښتنه . که څوک له پاکستان یابل هیوادځخه حج یاعمرې ته لاړشي . په مکه کښې تر پنځلس ورځوهستوګني وروسته د حج احرام وتړي منی اوعرفات ته لاړشي . دامعلومول دي چي منی ، عرفات اومزدلفه کښې به لمونځ قصر کوي ځيني خلګ وايې چي قصردي کوي ځکه رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کښې هستوګنه درلوده بیایې هم قصرکاوه که حنفي مذهبه شخص لمونځ قصر کړي نولمونځ یې کیږي اوکه به بیاقضاراوړي ؟

جواب : دقصرحکم یوازي دمسافرلپاره ذي . کوم شخص چي منی ته ځي که هغه دمکې مکرمې هستوګن وي یاترپنځلس ورځوزیات په مکه مکرمه کښې وسیدلي وي هغه ته په منی مزدلفه اوعرفات کښې دقصرجوازنشته .

لمونځ به پوره کوي . که یې قصروکړلمونځ یې نه کیږي هغه به بیرته راګرځوي . لنډه داچي که حاجیان داسي وخت مکې مکرمې ته ورسیږي چي تراتم تاریخ (چي منی دتللوورځ ده) یوري په مکه مکرمه کښې پنځلس ورځي پاته نشي نوپه مکه مکرمه کښې هم مسافرشمیرل کیږي اوپه منی اوعرفات کښې هم مسافردی نوقصربه کوي اوکه تراتم تاریخ وړاندي یې پنځلس ورځي تیرولي نوبیاپه مکه کښې دي مقیم دی اوپه منی او عرفات کښې هم مقیم بلل کیږي . [اپ کی مسائل صفحه ۳۸۵ ج۲]

مسئله : په منی ، عرفات اومزدلفه کښې له امام سره لمونځ نه کوي څکه هغه شرعي مسافرنه ده خوبیاهم لمونځ قصر کوي نو څکه په خیمه کښې بیل جماعت کوي . [احسن المسائل صفحه ۵۲۷ جلد ۴]

په الوتکه کښې سپورطواف کول

مسئله : په الوتکه کښې که څوک سپوروي اوطواف وکړي، طواف صحیح کیږي خوپه دې شرط چې الوتکه دمسجدحذته ننوزې اوهلته وګرځي خوپرته له عذرڅخه داسي کولودم (قرباني)واجبيږي لکه چې په غیرهوايي سوارلي کښې هم پرته له عذرڅخه داسي طواف کول همداحکم لري .
په الوتکه کښې سپریدلودعرفات په میدان تیریدل دعرفې وقوف نه اداءکیږي . څرنګه چې دطواف حقیقت له بیت الله څخه څلورطرفه ګرځیدل دي اودبیت الله په اړه داصراخت دی چي له ځمکي تراسمانه کعبه ده . نوځکه هم طواف پورته هم صحیح دی نوپه الوتکه کښې په یادشوی شرط طواف صحیح کیږي خودعرفې دقوف په هکله داصراخت نشته چي له مځکي تراسمان دعرفې حکم لري بلکي په ډیروکتابونوکښې وقوف (دریدل)ترځمکه پوري اړه لري . [امدادالاحکام صفحه ۲۰۰ جلد ۲]

په مسافرحاجي باندي قرباني

مسئله : په حاجي باندي دسفرله کبله قرباني واجب نه ده . خوکه څوک دذی الحجې تراتم تاریخ لږترلږه پنځلس ورځې وړاندي په مکه مکرمه کښې اوسیده هغه مقیم دی . له همدې امله که دنصاب څښتن ؤدقرباني په ورځوکښې دشکرله دم(قرباني)،، ره داخترقرباني هم درباندي واجبه ده . که یې په منی کښې ذبح کول اوکه په وطن کښې . [احسن الفتاوی صفحه ۵۲۸ جلد ۴]
مسئله : که مقیم نه ونه وررباندي دفطرصدقه واجب ده اونه هم قرباني .
[امدادالفتاوی صفحه ۳۲۰ جلد ۳]
مسئله : مسافرکه نفلي قرباني وکړي نوثواب لري .

مسئله : که څوک پسه ،وزه دقرباني لپاره واخلي اوهغه د قرباني تروخت وراندي مسافرشي نوهغه خرڅولای شی ځکه په مسافرباندي قرباني نشته .
[کتاب الفقه صفحه ۱۱۸۲ جلداول]

مسئله : دتشريق تکبيرونه (دذی الحجه په ورځوکښي تر لمانځه وروسته تکبيرونه)داقتداء له امله په مسافرهم واجب دي . [درمختارصفحه ۷۲ جلداول]

دسفرپه حالت کښي دمړيني فضيلت

رسول الله ﷺ فرمايي : کوم شخص چي پرته له خپل هيواده بل ځای وزي دهغه له وطن څخه نيولي دمړني ترځايه ورته دجنت اندازه لګيږي .
[نسائي،ابن ماجه]

ابن عباس رضي الله عنهما روايت کوي چي رسول الله ﷺ فرمايي : ((دسفرپه حالت کښي مړينه شهادت دی))

تشريح : مطلب داچي که څوک له هيوادڅخه لري دسفرپه حالت کښي ومري . دهغه له وطنه دمړيني ترځايه چي څومره مسافه وي دهغې په اندازه ځای ورته په جنت کښي موندل کيږي . خوپه دې هکله صحيح دا ښکاري چي له سفرڅخه مطلب داطاعت سفردی يعني جهاديابل څه ته، معنی داچي دااجرهغه چاته پيداکيږي چي هغه دجهادياد دين تعليم ياهمداسي دبل مقصد اومطلوب کارلپاره له وطنه لري ومري .
[مظاهرحق جديدصفحه ۳۷۳ جلد ۲]

که داوبوپه سفرکښي ومري

{رسول الله ﷺ فرمايي : که دسمندرپه سفرکښي چاته سر ګرځيدل پيښ شي اوقی وکړي دېره شهيدثواب ورته رسيږي او که څوک دسفرپه دوران کښي په درياب کښي ډوب شي ددوو شهيدانوثواب ورته رسيږي }
[ابوداؤد]

دې دوا ړوته دشهيدثواب په هغه صورت کښې رسيږي چې هغوی دجهاد .دعلم تحصيل يادجهادپه څېر مقصدلپاره په درياب اوسمندرکښې سفرکوي همداشان که داسفردتجارت په مقصدوي اوتجارت دځان دژوندي پاته کيدلو،قوي کيدلواود اهل اوعيال دا ړتياوودپوره کولولپاره وي اوپرته له سمندري سفرڅخه تجارت ممکن نه وي په هغه صورت کښې هم داحکم لري «دوبيدل اومړه کيدل ضرورنه دي بلکه مطلقادي» ارنعمت قاسمي؛

که کوم مسافرومري ورسره دمرستي دپاته پيسوحکم

پوښتنه : يوه کلي ته مسافرراغی،وفات شو ،دهغه دتکفين او تجهيزلپاره خلکومرسته وکړه له هغې مرستي څخه څه مبلغ پاته شو ،هغه به څه کوي ؟

جواب : که معلومه وي چې داپاته پيسې فلاني سړي ورکړي دي . بيرته دي هغه ته ورکړل شي اوکه نه معلوميده چې داپاته پيسې چاورکړي دي بيادي هغه پيسې ديوه بل بې وزله په تجهيز اوتکفين کښې ولګوي اوکه داهم ممکن نه وه نودي بې وزله ته په صدقه کښې ورکړل شي .

[فتاوی رحيميه صفحه ۳۷۲جلد ۱]

که دحج دسفرپه لاره ومري

مسئله : که څوک دحج په سفروي اوپه لاره کښې ومري ياکومه پيښه ورباندي ورشي نوثواب ورته برابررسيږي . دخدای ﷻ په نزدستر اجرلري،لوړه درجه لري اوثواب ورته رسيږي . افتاوی دارالعلوم صفحه ۵۸۴ جلد ۶]

دحج په سفرکښي دمړه شوي شخص حج

پوښتنه : که څوک دحج په سفرکښي ترحج کولوړاندي ومري ايادهغه له ذمې حج ساقط شو ؟

جواب : که ورباندي همداکال حج فرض شوی وي اوپه لاره کښې ومري فرض له ذمې ساقط کيږي اوکه حج پخواورباندي فرض شوی وي تفصيل يې دادی چې که دعرفې تروقوف وروسته مړشوحج يې وشوفرض يې،

اداشواوکه ترهغه وړاندې ومري نوفرض ساقط نه شول نوځکه يې له خپل ښارڅخه دحج دکولووصيت فرض دی . که يې دمال دريمه برخه دهغه له ښارڅخه حج کول کفايت نه کاوونوله کوم ځای څخه چې دمال په ثلث حج کيدلای شي له هغه ځايه دې وکړای شي . [احسن الفتاوی صفحه ۵۳۲جلد۴]

په سفرکښې مړه شوي شخص ته به څوک غسل ورکوي

پوښتنه : موږدرې کسه دسفرملګري وو،زموږسفرپه ريګستان کښې و،زموږدسفرديوه ملګري ميرمن مړه شوه،هغې ته به غسل څوک ورکوي ؟
جواب : ميرمنې ته سړی اوسړي ته ميرمن غسل ورکولای نه شي . که خدای مه کړه داسې صورت پيښ شوچې ميرمنې ته دغسل ورکولولپاره بله ميرمن نه وه ياسړي ته دغسل ورکولو لپاره بل سړی نه ؤنوتيمم دې ورکړای شي . که دميرمنې کوم محرم ويادسړي کومه محرمه وه تيمم دې ورووهي اوکه محرم نه وبيادې پردې کس په خپلولاسونودرخت ټوټه وپيچي اوتيمم دې ورووهي . تفصيل له يوه عالم څخه وپوښتئ .
[آپ کی مسائل صفحه ۱۰۰ جلد۳]

ايامسافرزکوة اخيستلای شي

مسئله : مسافرکه په پورکرايه وغواړي خوورکوونکی مسافرته دزکوة په نيت ورکړي زکوة يې اداکيږي . که هغه مسافر کورته لاړشي اوروپۍ يې بيرته ورکړي غوره داده چې هغه رقم ورځينې واثه خلې (ورته ووائي چې مابخښلی يي)اوکه ئي ځينې واخستلی نوغوره داده چې هغه پيسې صدقه کړي . [امدادالحکام صفحه ۲ جلد۲]

مسئله : مسافرته زکات اخستل صحيح دي خوچې دنصاب په اندازه ورسره مال نه وي ، که څه هم په کورکښې يې ولري . [فتاوي دارالعلوم صفحه ۳۸۳جلد۲]

مسئله : په مسافرهم (که دنصاب ښبتن وي)دخپل مال زکوة واجب دی چې دخپل استاذي په ذريعه ورته په خپل مال کښې دتصرف صلاحيت وي

[فتاوی عالمگیري صفحه ۷ جلد ۴]

مسئله : مسافرته دهغه په خوښه په ټکټ اخستلوزکوة ادا کیږي که هغه مسافردکوم عذرله امله سفرونکړي هم زکات ادا کیږي .

[دتفصیل لپاره مکمل ومدلل مسائل زکوة صفحه ۲۵۹ جلد ۲ وګوري]

میرمن پریښودل اودعلم دتحصیل لپاره سفرکول

پوښتنه : دچاځوانه میرمن وه ، هغه یې کورپرېښودله او دعلم دتحصیل لپاره یې سفروکړ. ټول کال کورته نه راغي . ایاهغه ته داکارجوازلري اوکه له میرمن سره پاته کیدل واجب دي ؟

جواب : دمیرمن نفقه (ضروري خرڅ)اوپه هروڅلورومیاشتو کښې ورسره یوځای کیدل په سړي واجب دي نوکه سړی دهغې دحقوقوپه پوره کولوکښې کوتاهي نکوي نودعلم لپاره ورته سفرجائزدی . له دې سره که دمیرمن په هکله دفتنې اټکل کیده بیاپه سفرکښې پاته کیدل جائزنه دي

[احسن الفتاوی صفحه ۳۹۹ جلداول]

که په سفرکښې قصداً قصرونشي حکم یې څه دی

پوښتنه : که څوک په سفرکښې په ځان تکلیف راولي اولمونځ قصرنه کړي پوره یې وکړي حکم یې څه دی ؟

جواب : په مسافرباندي قصرواجب دی . داسړی قصداً دواجب په پرېښودلوګناهګاره دی . هغه ته توبه لازمه اودلمانځه اعادهورباندي واجب ده . [احسن الفتاوی صفحه ۷۷ جلد ۴]

مسئله : په مسافرباندپه شرعي سفرکښې قصرواجب دی . څوک چې په قصرعقیده نلري یاقصرنه کوي هغه مبتدع اوعاصي دي اوتارک دواجبو دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۲۵ جلد ۴]

حنفي مذهبه شخص که په شافعي مذهب عمل وکړي

پوښتنه : که یوحنفي مذهبه شخص لمونځ قصرنه کړي . په ځواب کښې وایې که قصروکړم داسې راته ښکاري لکه لمونځ چې مې کړې نه وي . زړه مې ښه نه وي له دې امله قصرنه کوم مجبوراً د امام شافعي رحمة الله په مذهب عمل کوم . په دې صورت د [illegible] دې شخص لمونځ وشو اوکه نه ؟

جواب : دې مسافرناوړه کاروکړ.په دې هکله دحنفي مذهب شخص لپاره په شافعي مذهب عمل کول صحیح نه دي . دخپل مذهب مطابق دې هرومرو قصرکوي . قصرکول واجب دي . که یې یوازې لمونځ وکړ صحیح شوخوکه امام ودمقتدیانولمونځ یې ونه شو . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۴۲ جلد ۴]

دمسافرامامت

مسئله : مقیم ته دمسافرامامت اومسافرته دمقیم امامت جائز دي خوچې مسافرامام وي نوترلمانځه وړاندې به مقتدیانوته خبرورکوي چې زه مسافریم ، دوه رکعته کوم تاسوخپل لمونځ پوره وکړئ اوترسلام اړولووروسته دې بیاهم اعلان وکړي او مقتدیان دې خپل څلوررکعته لمونځ پوره کړي خودفاتحې سورت دې نه وایې بلکه هغومره وخت دې پته خوله ودریږي لکه فاتحه چې لوستله کیږي . [شامي او احکام سفرصفحه ۳۸]

(نن سباله مسائلوسره نابلدتیاده نومسافرچې دمقیم خلکو امامت کوي دلمانځه ترپیل وړاندې دې دخپل سفراودوه رکعته لمونځ کولووایې چې نوردوه رکعته بیاتاسووکړئ کنه د نابلدتیاله امله دمقتدیانولمونځ فاسد یږي)[محمدرفعت قاسمي غفرله]

په مسافرامام پسې دجماعت ثواب ترلاسه کیږي

پوښتنه : دامعلومول پکاردي چې په مسجدکښې جماعت کیږي اووروباندې دیرتاکیدشوي دی ددوئ جماعت دیومسافرپیرپه امامت

ضائع کول اوپه ناوخته رسیدو . دهغوی محروم کول جائز دي ؟ اود جماعت لمونځ نه کول دچاګناه ده ؟
جواب : که امام مسافروي نوتردوه رکعته وروسته دي سلام وګرځوي که کوم مقتدیان چې ورپسې ولاړدي هغوی دي ولاړشي اوڅلورر کعته دي پوره کړي (له قرائت څخه پرته) . مقتدیانوته دڅلورر کعته لمونځ کولوپه انفرادي توګه اړتیانشته دمسافرشخص په امامت چې مقیم ورپسې اقتداء وکړي هم د جماعت ثواب مومي له دې امله ستاسوداپوښتنه بې مورده ده چې دجماعت نه کولوګناه دچاپه غاړه ده داچې دجماعت لمونځ وشونود جماعت دترک کولودوبال پوښتنه نه راپورته کیږي . خو کوم مقتدي چې دخپلي سستي له امله ناوخته راغلی اوله جماعت څخه محروم شول دهغه وبال دهغوئ په سستي دي . [آپ کی مسائل صفحه ۳۸۲جلد ۲]

دمسافرپه مقیم پسې اقتداءکول

مسئله داحنافوپه نزدمسافرپه مقیم پسې یوازي دلمانځه دننه لمونځ کول جائزدي اومسافرپه مقیم پسې هغه مهال څلور رکعته پوره کولای شوای څکه داقتداء له امله په مسافرباندي ددووپه ځای څلورر کعته فرض کیږي (دامام دمتابعت له امله) دلمانځه دوخت ترتیریدلووروسته مسافرته په مقیم پسې لمونځ کول جائزنه دي . څکه دوخت په تیریدلوپه مسافرباندي ددووپه ځای څلورر کعته نشته . بلکي دهغه په ذمه په مستقل ډول دوه رکعته فرض دي . که دوخت ترتیدلووروسته مسافرپه مقیم پسي لمونځ وکړي باطل کیږي څکه همدامهال په مسافرمقتدي باندي لومړی قعده فرض ده خودامام لپاره هغه فرض نه ده . قاعده داده چې دامام حیثت بایدمقتدي په وړاندي په هرلمانځه کښي که هغه دوخت دننه وي اوکه بهرزیات مضبوط وي [کتاب الفقه صفحه ۷۲۸جلداول]

دمقيم اقتداء په مسافرامام پسې

مسئله : دمقيم اقتداء په مسافرپسې په هرحال كښې صحيح ده . كه داداء لمونځ وي اوكه دقضاء امام چې كله دوه ركعته وكړي سلام به وګرزوي اومقتدي به ولاړيږي اولمونځ به پوره كي . په هغه كښې به قرائت نه وايي بلكې پټه خوله به ولاړوي ځكه هغه لاحق (دلمانځه له پيل څخه شريك)دي اواوله قعده په دې مقتدي هم فرض كيږي . [علم الفقه صفحه ۱۳۲ جلد ۴]

مسافربه په مقيم امام پسې څرنګه اقتداء كوي

پوښتنه : مسافربۀ په مقيم امام پسې دماپښين يانورو لمونځونوپه مهال ددوورکعتونونيت كوي كه دڅلورو؟ ځكه مقيم ته لومړۍ قعده واجب ده اومسافرته فرض ؟

جواب : دڅلوروركعتونونيت به كوي ځكه په مسافرباندې په امام پسې داقتداء كولوله امله څلورركعته فرض كيږي اواوله قعده ورباندې فرض نه پاته كيږي . [فتاوى دارالعلوم صفحه ۲۴۰ جلد ۴]

مسئله : كه امام مقيم وي مسافربه هم دهغه په اقتداء كښې پوره لمونځ كوي اودپوره لمانځه نيت به كوي . دمسافرلپاره دقصرحكم په هغه صورت كښې دی چې يوازې لمونځ كوي ياد مسافرپه اقتداء كښې لمونځ كوي . [آپ كى مسائل صفحه ۳۸۲ جلد ۲]

كه مسافرسهواً دڅلوروركعتونونيت وكړ

مسئله : كه مسافرسهواً دڅلوروركعتونونيت وكړ،هغه به دوه ركعته كوي اوسجده سهوبه نه كوي . [فتاوى دارالعلوم صفحه ۴۲۱ جلد ۴]

مسئله : پاته شوه په نيت كې ددووپرځاى دڅلوروغلطي ددې هيڅ اعتبارنشته (ردالمحتار۳۹۰۸

مسئله : په لمانځه كښې به نيت صحيح كوي خوپه ژبه يې الفاظ مه واياست،بلكه په زړه كښې نيت كوي . [احسن الفتاوى صفحه ۷۷ جلد ۴]

د مسافرامام اومقیم مقتدي دنیت حکم

پوښتنه : امام مسافردی اوددوورکعتونونیت کوي اومقتدي مقیم دی نودامام دمتابعت له امله به ددوورکعتونونیت کوي که به دڅلوررکعته لمونځ نیت کوي ؟

جواب : امام دوه رکعته لمونځ کوي نوددوورکعتونونیت به کوي اومقتدي به دڅلوررکعته نیت کوي،ځکه دهغه په ذمه څلوررکعته دي .
[فتاوی رشیدیه صفحه ۴۳۷]

مسئله : مقیم به په مسافرامام پسې دڅلوررکعته (په ماسپښین، مازیگراوماخستن کښې) نیت کوي،دوه رکعته به په امام پسې کوي اودوه رکعته به یوازې کوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۲ جلد۴]

که مسافرمقتدي ته دامام مسافروالی معلوم نه وُ

پوښتنه : امام مسافردی خومسافرمقتدي ته دهغه مسافروالی معلوم نه دی اودڅلوررکعتونونیت یې وکړ . ایاهغه به څلور رکعته لمونځ کوي اوکه به په دوورکعتونوکښې ورسره سلام گرځوي ؟

جواب : داوخت چې امام په دوورکعتونوکښې سلام واړوي . که مسافرسمدستي داخیال وکړی چې مسافردی اوداشبه ورته نه وي چې مقیم دی خوسهواًیې دوه رکعته وکړل نومقتدي دي په دوورکعتونوورسره سلام واړوي . که دامام ددوورکعتونوپه سلام اړولوکښې ورسره شبه وه اوسلام یې ورسره وگرځاووبیا معلومه شوه چې امام مسافردی نولمونځ یې وشواوکه هغه مقیم ومقتدي دي لمونځ راوگرځوي . که یې تحقیق ونکړاودشبه په حالت کښې مقتدي ورسره دوه رکعته وکړي بیرته دي لمونځ راوگرځوي . [امدادالاحکام صفحه ۷۲۳ جلداول]

که مسافرامام مقیم وباله

مسئله : مسافرته داګمان ؤچي امام مقیم دی اقتداء يې ورپسې وکړه ترسلام اړولووروسته وپوهيدچي امام مسافردی نودي مقتدي دي له امام سره سلام وګرځوي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۲۱ جلد ۴] .

پوښتنه : يومسافرپه سفرکښي په مقيم امام پسې لمونځ وکړ بيامعلومه شوه چي لمونځ فاسدشوي ؤاوس به دامقتدي هغه لمونځ دوه رکعته کوي که څلور ؟

جواب : که کومه خبره داسې پيښه شي چي د هغه امله لمونځ باطل شواو دسهوه په سجده يې هم جبيره نه کيدله (مثلاکوم رکن پاته شو)نوبيابه دوه رکعته کوي څکه په لومړي لمانځه کښي فريضه ادانه شوه نودامام متابعت هم پاته نه شو . [فتاوی رحيميه]

په عمدة الفقه کښي راځي چي د مسافراقتداء په مقيم پسي په وخت دننه کښي صحيح ده نوکه مسافردوقت په دننه کښي په مقيم امام پسي اقتداء وکړه نوڅلوررکعته به پوره کوئ څکه دامام متابعت لري خوکه هغه لمونځ فاسدشواولمونځ يې يوازي کاوونودوه رکعته به کوي څکه له کومي وجي چي څلوررکعته کول لازم وهغه وجه زائله شوه خوکه يې بياپه مقيم پسي اقتداء کوله څلوررکعته به پوره کوي . [عمدة الفقه صفحه ۴۲۲جلد ۲]

اوکه داسي فسادوچي په سجده سهوه تلافي کيده نوپه دې لمانځه کښي يې فريضه اداشوه . البته دواجب په پريښودلو سجده سهولازميږي اوکه سجده سهو ونکړي بيالمونځ واجب الاعاده دي.. که همداسي صورت ووبيا به څلوررکعته کوي څکه فريضه په مخکني کښي اداشوه اودالمونځ دهغه تکمله ده .[رحيميه صفحه ۱۴ جلد ۵]

مسئله : که کوم مسافرپه بل مسافرپسي اقتداوکړه اوامام بې اودسه شو ا. هغه يومقيم سړي خپل خليفه کړنوپه مقتدي باندي پوره لمونځ لازم نه دي .

مسئله : که مسافرپه مقیم پسې اقتداءوکړه څلوررکعته به پوره کوي خوکه يې لمونځ فاسدشوبیابه دوه رکعته راګرځوي خوکه يې دنفلوپه نیت اقتداء کړی وه اولمونځ فاسدشونوڅلوررکعته لازمي شول . [عالمګیری صفحه ۲۲ جلد ۱]

که مسافربې اودسه لمونځ وکړ

پوښتنه : که چادماپښین لمونځ وکړاوپه هغه وخت کښې مسافرشوبیايې ماښام دمازیګرلمونځ وکړاودلمرترلویدلو وړاندې یې سفرختم شو. وروسته ورته یادشول چې ماپښین اومازیګریې لمونځونه بې اودسه کړي ؤنو اوس به کوم لمونځ قصرراګرزوي وکوم به پوره راګرځوي .

جواب : دماپښین لمونځ به قصرکوي ځکه هغه مهال مسافرؤ دمازیګر لمونځ به پوره کوي ځکه همدامهال يې سفرختم کړ ، حکم هغه مهال دی چې سفرشرعي(۴۸میله)وي . [فتاوی محمودیه صفحه ۲۲۴ جلد ۱۴]

مسئله : که چادماپښین اومازیګرلمونځونه په داسې حال کښې وکړل چې مقیم ؤبیادلمرترلویدلووړاندې مسافر شو او ورته یادشول چې دماپښین اومازیګرلمونځونه يې بې اودسه کړي وونودماپښین به څلور اودمازیګر به دوه رکعته قضاء راوړي . [فتاوی عالمګیري صفحه ۷۲ جلد ۳]

که مسافرپه دووړرکعتونوکښې سلام وګرځاوو

پوښتنه : مقتدی مسافرؤاوامام مقیم،مقتدی تردووررکعتونو وروسته سلام وګرځاوو . بیايې دامام په خبره لمونځ بیرته راګرځاوو . دامقتدي به دوه رکعته راګرځوي اوکه په امام پسې داقتدادڅلوررکعته نه پوره کولوله امله به څلوررکعته کول صحیح دي؟

جواب : ددرمختارلومړي توک له ۸۲۸ مخ څخه دوې خبرې څرګندیږي یوداچې مسافرته ښايي چې له امام سره څلوررکعته پوره کړي،بله داچې هغه لمونځ فاسدشونوچې یوازې يې کوي قصربه کوي . [امدادالفتاوی صفحه ۵۷۹ جلد اول]

که مسافرامام څلوررکعته وکړل

پوښتنه : که مسافرامام ماپښين دقصرپه ځای څلوررکعته پوره وکړل. د مقتديانولمونځ وشوکه نه؟

جواب : دامام ابوحنيفه(رحمه الله)په نزددمسافرلپاره دوه رکعته داسي دي لکه دسهار دوه رکعته لکه څرنګه چي دسهارپه دوورکعتونوزياتول جائزنه دی همداسي دمسافرلپاره د ماپښين،مازيګراوماخستن لمونځو نه څلوررکعته کول هم جوازنلري . نوکه مقتديان په داسي امام پسي اقتداء وکړي نوښکاره ده چي لمونځ يې ونشوبلکي دمقتديانولمونځ فاسديږي ځکه هغوی په داسي امام پسي دوه رکعته لمونځ وکړچي هغه ته نفل ؤ . دامام اودمسافرومقتديانوحکم دادی چي که امام خطاشو ،څلور رکعته يې وکړل اوپه دوهم رکعت کښي يې قعده وکړه اوپه پاتي کښي يې دسهوي سجده هم وکړه نولمونځ يې صحيح دی . اوکه مسافرامام قصداًڅلوررکعته وکړي اولومړۍ قعده يې وکړه نوفرض اداشول . خوداشخص(امام)ګنهګاردی . توبه باندي لازمه ده اودلمانځه اعاده هم وربانديواجبه ده . ر [آپ کی مسائل صفحه ۳۹۱ جلد ۲]

مسئله : مسافرامام که په دوه رکعت کښيناست(قعده يې وکړه)نولمونځ يې وشواوکه مقتديان ورسره لمونځ پوره کړي لمونځ يې نه کيږي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۸۱ جلد ۲]

مسئله : په دې صورت کښي دمسافرامام اومسافرومقتديانو لمونځونه کيږي . [فتاوی رحيميه صفحه ۱۰ جلد ۵]

که مسافرسهواپوره لمونځ وکړ

سوال : که مسافرپه هيره سره ددوورکعتونوپه ځای څلوررکعته لمونځ وکړ،که يې په منځ کښي قعده وکړه يايې ونه کړه . په دواړوصورتونوکښي

لمونځ کيږي که نه کيږي . که يې دسهوي سجده وکړه اوقاعده يې هم کړې وه تلافي يې کيږي کنه؟

جواب : که يې لومړۍ قاعده وکړه بيادسهوي په سجده لمونځ کيږي اوکه يې ونکړه نه کيږي . [ردالمحتارصحه ۴۷۰ جلداول]

که يې په دريم رکعت کښې ترسجدې وړاندي ورته يادشول راودي ګرځي کنه لمونځ به راګرځوي . [احسن الفتاوی ص ۷۷ج۴]

مسئله : دڅلوررکعتونولمونځ په مسافردوه رکعت فرض دی اوزمونږ په نزدقصرواجب دی که شرعی مسافرڅلوررکعتونه وکړواوپه دوهم رکعت کې دتشهدپه اندازه قعده وکړه نولمونځ يې وشواووروستنی دوه رکعته يې نفل شول خوداکاربددی ځکه په سلام اړولوکښې تاخيرراغې اوتردوهم رکعت وروسته که يې دالتحيات په اندازه قعده ونکړه نوفرض لمونځ يې باطل شو . لمونځ راګرځول ضروردی . په سجده سهوي جبيره نه کيږي . همداسې که دلومړنيودوورکعتونوپه يورکعت کښې يې قرائت پرينښودنوزمونږ په نزديې لمونځ فاسددی . [عالمګيري صفحه ۵۸ جلد۳]

مسئله : که سهواً څلوررکعته وکړي نه ګنهګاريږي اودسهوي په سجده سره يې لمونځ کيږي . په دې شرط چې په دوهم رکعت کښې يې قعده کړې وي . که په دوهم رکعت کښې قعده ونکړي فرض لمونځ يې باطليږي اوداڅلوررکعته نفل ګرځي په دې صورت کښې به هم دسهوي سجده کوي [فتاوی رحيميه صفحه ۵۲ جلد۳]

دمسافردلمانځه دفاسدکيدلوحکم

پوښتنه : يوه مسافرپه مقيم امام پسې لمونځ پيل کړپه دريم رکعت کښې ورسره ملګری شو . له امام سره يې يورکعت وکړ سلام يې وګرځاو ،وروسته ورته معلومه شوه چې داامام د متابعت له امله يې بايد څلور رکعته کړي وای اوس به دراګرځولو په مهال دوه رکعته کوي که څلور؟

جواب : دوه رکعته به کوي . [احسن الفتاوی صفحه ۸۰ جلد۴]

مقيم به نورلمونځ څرنګه پوره کوي

پوښتنه : که امام مسافراومقتدي مقيم وي،کله چي امام دوه رکعته پوره کړي نوبيابه مقتدي الحمدلله وايي يابه پټه خوله ولاړوي ؟

جواب:داچي امام مسافروي مقتدي به نورلمونځ پرته له قرائت څخه کوي .

(فتاوی دارالعلوم ص ۴۵۸ج۴)

مسئله : مقيم به په پاته دوورکعتوکی الحمدنه وايي بلکه دومره وخت به پټه خوله درېږي بيابه رکوع وکړي [فتاوی محموديه صفحه ۲۷۱ جلد۷]

مسئله :مقيم چې دمسافرامام اقتداء وکړی وروسته وده ته پخپلوپاته رکعتونوکي تسميع اوتحميدويل افضل دی (فتاوی دارالعلوم ص ۴۵۱ج ۲)

مسافربه نورلمونځ څرنګه کوي ؟

پوښتنه :دمقيم مامام مسافرمسبوق مقتدی خپل پاته شوی لمونځ دقصرپه اندازه وکړي که دامام داقتداء له امله پوره څلوررکعته وکړی ؟

جواب: په پيل کي دامام دتابع والی له وجې به پوره څلوررکعته کوی

(احسن الفتاوی ص۸۳ج ۴)

مسئله : په مقيم امام پسی مسافرپه درېيم رکعت کي شامل شونومسافرچې دامام سره اخيری دوه رکعته نوروکړي يعنی دمتابعت په وجه دی څلوروکړي .

(فتاوی دارالعلوم ص ۴۵۵ج ۴)

که دمسافرپه لمانځه کښي اودس مات شو

پوښتنه شماره ۴۰۲ او۵۲۱ : مسافرپه مقيم پسې اقتداوکړه . په لمانځه کښي يې اودس مات شوامام لمونځ پوره کړاوسلام يې واړاؤاوس به دامسافرڅلوررکعته کوي که دوه ؟ [سائل محمدروشن علی قاسمي اکلوي]

جواب : باسمه تعالی وبالله التوفيق ـ حامداً ومصلياً

مسافرچي په مقيم پسې اقتداء وکړي نو دهغه په ذمه څلور رکعته لازميږي اوس چي ورته بې اودسي پيښه شوه، داقتداء حکم ختم نه شوکه څه هم امام لمونځ پوره کړی وي، په ده باندي څلوررکعته کول فرض دي . فقط۔ والله اعلم ۔ احقرمحمودغفرله بلندشهري دارالعلوم ديوبند . الجواب صحيح نظام الدين غفرله الجواب صحيح : کفيل الرحمن نشاط الجواب صحيح : حبيب الرحمن عفاالله عنه دارالافتاء دارالعلوم ديوبند ۳/۲/۱۴۱۴ ه

مقيم په مسافرامام پسي يورکعت يايوه قعده وکړه

پوښتنه : که مقيم مقتدي په مسافرامام پسي يورکعت وکړ . دی چي دري رکعته اداء کوي کوم رکعت به ډک کوي اوکوم خالي ؟ اوکه له امام سره په قعده کښي شريک شي نوبيابه خپل څلوررکعته څرنګه کوي ؟

جواب : که مقيم مقتدي له امام سره يورکعت وکړي ، کله چي مسافرامام سلام وګرځوي ، مقتدي به ولاړشي لومړی به يورکعت تش وکړي . قعده به وکړي ترتشهدوروسته به ولاړشي بيابه يورکعت خالي وکړي (قرائت به نه وايي دقرائت په اندازه پټه خوله ودريږي)بيابه څلورم رکعت ډک وکړي قعده به وکړي التحيات اونوربه ولولي اوسلام به واړوي . که په قعده کښي ورسره شريک شواول دوه رکعت به خالي وکړي وروسته به دوه رکعته ډک وکړي ځکه دی مسبوق لاحق دی. [عزيزالفتاوی دارالعلوم قديم صفحه ۴۹ جلد ۲]

يعني هغه چي يورکعت له امام سره ونيسي دامام ترسلام ګرځولووروسته به يورکعت خالي وکړي . قعده به وکړي بيابه ولاړشي يورکعت به خالي وکړي اووروستي رکعت به له قرائت سره پوره کړي ځکه دی لاحق مسبوق په حکم دی . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۹۴ جلد ۳]

په مسافرپسي دمسبوق اقتداء کوونکی

پوښتنه: امام مسافردی ددوهم رکعت په التحيات ويلوکښي يوځوک ورسره ملګری شو، امام دوه رکعته پوره کړی سلام يې وګرځاوو. مقتدي به په څلوررکعتونوکښي دالحمدلله په اندازه پټه خوله ولاړوي اوکه په وروستيودوورکعتونوکښي يوازي الحمدلله وايي؟

جواب: دشامي له عبارت څخه معلوميږي چي هغه مقتدی مسبوق هم دی اولاحق هم نولومړي دوه رکعتونه دي پرته له قرائت څخه وکړی اوبيادي دوه رکعته له قرائت سره وکړي يعني الحمدلله اوسورة دي دواړه ووايي.

[فتاوی دارالعلوم صفحه ۳۸۸ جلد۳]

که په مسبوق دسهوې سجده واجب شوه

مسئله: هغه مقيم چي په مسافرامام پسي په اخيری قعده کښي اقتداء وکړي چي امام سلام وګرځوي همدامقيم مسبوق چي ولاړشي اول دوه رکعت پرته له فاتحې وکړي اوپه دغودوورکعتونوکښي که سجده سهووربادي واجب شوه نودسهوي سجده هم وربادي واجب ده. ترقعدې وروسته به دوه رکعته له فاتحې اوسوة سره وکړی که په دغودوورکعتونوکښي سجده ورباندي واوښته،نودسهوسجده به کوي.

[امدادالفتاوی صفحه ۵۹۷ جلداول]

که مسافرپه قضايي لمانځه کښي په مقيم پسي اقتداوکړه

مسئله: مسافرته په مقيم پسي اقتداپه څلوررکعتونوکښي دوخت په تيريدلوکښي يعني ترقضاکيدلووروسته نشته. ددې وجه داده چي مسافربه دفرض وخت په دننه کښي دامام په اتباع څلوررکعته پوره کوي خوچي وخت تيرشي (ترقضاء وروسته) داحکم نشته. اوس که تروخت وروسته په امام پسې لمونځ کوي د قعدې اوقرائت په حق کښي دفرض کوونکي اقتداء په غيرفرض کوونکي پسې راځي اودانا جائزه ده. يعني

، مقیم قعده واجب ده خوپه مسافرفرض ده همدارنګه په
ړنیودوورکعتونوکي پرمقیم امام قرأت سنت ده اوپرمسافرفرض . لنډه
اچي دماسپښین، مازیګراوماخستن په لمونځونوکښي
ي قضاوي دمسافر اقتداپه مقیم پسې صحیح نه ده . په ماښام
وسهارکښي صحیح ده . [رکن دین صفحه ۱۴۵]
یعني که مسافرپه اول دلمانځه کښي ددوورکعتونواقتداء وکړي په امام
عده واجب ده اوپه مسافرفرض ده اودوه رکعته چي یې اقتداء کړې ده په
غوی کښي قرائت په مسافرفرض اوپه مقیم سنت ده) [محمدرفعت قاسمي غفرله]

،قضاپه لمانځه کښي په مسافرامام پسې اقتداء کول

سوال : لکه څرنګه په وختي لمونځونوکښي مقیم په مسافرپسي اقتداء
کول روادي آیاهمدارنګه په قضالمانځه کي هم وکړي اوکنه؟جواب:
هوودي کړي تروخت وروسته هم دمقیم اقتداءپه مسافرپسی صحیح ده .
ددې په خلاف مسافرپه مقیم پسي دڅلوررکعتونوپه لمانځه کښي تروخت
وروسته قتداء کولای نشي ورته جائزنه ده . [رکن دین صفحه ۱۴۵]
(خوتردوورکعتونووروسته بۀ مقیم له شرعي قواعدوسره سم نورلمونځ
پوره کوي) . [محمدرفعت قاسمي]

مسافرپه مقیم امام پسي په قضاء لمونځونوکښي ولي اقتداء کولای نشي

پوښتنه : دمسافراقتداء په مقیم امام پسي تروخت وروسته صحیح نه ده .
ددې وجه څه ده ؟
جواب : دمسافرپه لمانځه کښي دوخت دننه دتبدیلي صلاحیت شته
مثلادوخت نیت کوي ددووپه ځای څلوررکعته کولای شي ، په مقتدي
پسي داقتداء له امله څلوررکعته کولای شي ان ورباندي ضروري دي .
خوچي وخت تیرشي ورباندي دوه رکعته متعین دي ، له همدې امله
تراقامت وروسته به هم ددوو رکعتونوقضاء راوړي . نوځکه په مقیم پسي

اقتداء کولای نشي ځکه په امام لومړی قعده فرض نه ده خوپه مسافرمقتدي لومړی قعده فرض ده . (فتاوی رحیمیه صفحه ۱۳جلد ۵)

که يې مسافه کمه اټکل کړه اولمونځ يې پوره وکړ

پوښتنه : څوک که يوځای ته لاړ دمسافې په هکله يې خپل اټکل هغه شرعي سفرنه ګڼه اولمونځ يې له همدې امله پوره وکړ، څو ورځې وروسته ورته معلومه شوه چې هغه شرعي مسافه وه ايا لمونځ به راګرزوي ؟

جواب : کوم لمونځونه چې يې په سفرکښې کړي دي . که يې لومړی قعده پکښې کړي وه ، لمونځونه يې شوي دي . (فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۵۳جلد ۴)

لمونځونه يې قصرکړل خوبيامعلومه شوه چې مسافرنه و

پوښتنه : يوچاپه دې اټکل چې مسافردی لمونځونه قصر کړل خووروسته ورته معلومه شوه چې هغه شرعي مسافرنه و . ايا هغولمونځوقضاراوړل ضروري ده ؟

جواب : دهغولمونځونوقضاراوړل ضروري ده اودقضاء طريقه يې داده چې څومره ورځې يې لمونځ کړي دي دټولولمونځونو له دتروسره به قضاء راوړي اودسنتوقضاء نشته . (فتاوی دارالعلوم صفحه ۳۳۳جلد ۴)

(اوهغه چې لمونځ نه وي نوټول په قضاء کښې شمار دي . او دا قاعده ده چې دفرضوقضاء فرض ده) (محمدرفعت قاسمي)

په سفراوحضرکښې دقضاء شويولمونځونوحکم

مسئله : که له چاځخه په سفرکښې لمونځونه قضاء شول . کله چې کورته ورسيددماپښين ، مازيګراوماخستن لمونځونه به دوه رکعته قضاء راګرزوي اوکه په حضرکښې ورځخه لمونځونه قضاء شول اوهغه څلور رکعته وهغوی به څلوررکعته دسفرپه حالت کښې قضاء راوړي .

(بهشتي زيورصفحه ۵۰جلد ۲)

دقضائي لمانځه دکولو وخت

قضالمونځ کول په دريو وختونو کښې ناجائزدی : ۱- دلمرختلو مهال . ۲- دزوال مهال . ۳- دلمرلويدلو مهال . له دې پرته هروخت قضالمونځ کول جائزدي که څه هم ترمازيګرورو سته وي . (کتاب الفقه صفحه ۸۰۱ جلداول)

مسئله البته دلمانځه قضاراوړل په دې وختونوکښې جائزدي خوقضالمونځ دي دخلګوپه وړاندي نه راګرځوي، يوازې دي کوي .
(آپ کی مسائل صفحه ۳۵۴ جلد ۲)

(لمونځ قضاکول په خپله يوه ګناه ده، دهغه څرګندول يعني د خلګوترمخ راګرځول هم ګناه ده . څکه هغوی ته نه ښکاري چې قضايي لمونځ کوي اوکه بې وخته لمونځ اداکوي) (محمدرفعت قاسمي)

ايا په قضايي لمونځونوکښې ترتيب ضروري دی؟

مسئله : په قضاء شويو لمونځوکي هم دترتيب خيال ساتل ضروری دی ؟يعنی دقضا اوحاضرلمونځونوترمنځ چې کوم ترتيب دی هغه ساتل لازم دي .

حاضرلمونځ دقضاشوي لمانځه ترقضاوړاندي جائزنه دي . همداسي که دسهاراوماسپښين لمونځونه قضاشوي وود ماپښين قضادسهار تر قضا وړاندي نه کيږي همداترتيب دفرضواو وترو په منځ کي هم پکاردی .
دسهارقضايې دوترو ترقضاراوړلووړاندي وړنه دي اونه داچي ترماخستن وړاندي وتررا وګرځي . (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه صفحه ۷۹۵ جلداول)

دترتيب ښنتن چاته ويل کيږي

مسئله : په لمونځونوکښې ترتيب ساتل په هغه حالت کښې دي چې قضاشوي لمونځونه له وترو پرته شپږشوي نه وي . نوکه ترشپږ لمونځوپه کم شميرکښې لمونځونه قضاشول نوکومه قضا چي ورباندي پاته ده هغه به په ترتيب سره اداکوي . مثلادسهار قضابه دماسپښين ترقضاوړاندي کوي اوماسپښين به تر مازيګر وړاندي کوي، نوهم دغسي کول ضروردي

مسئله : که دچادماسپښین قضاترسهارورانديراوره د ماسپښین لمونځ فاسدشو . دسهارترقضاراوړولووروسته همدا قضاواجب ده . همداحکم هلته هم دی چي مازیګرترماسپښین وړاندي قضاراوړل شي . همداسي په نورولمونځونوکښي . «دامسئله هلته ده چي قضاشوي لمونځونه ترشپږوکم وي»
مسئله : خوکه دقضاشویولمونځونوشمیره پرته له وترونه شپږواوښتي وه بیاداترتیب نه پاته کیږي، څرنګه چي کوي هغسي کیږي .
مسئله : که دچاپه ذمه ترشپږوکم لمونځونه پاته وواوهغه يې له حاضرلمانځه سره یوځای کول نولازم دي چي دوخت ترلمانځه هغه په ترتیب سره وړاندي وکړي، خوکه وخت کم ؤمسئله بیله ده اورابه شي .
مسئله : که له چاڅخه یولمونځ پاته شواوهغه يې دبل لمانځه داداکولوپه وخت کښي يادوخوبل لمونځ يې وکړاودالومړنی يې ونکړ، ددوهم لمانځه فرضیت حاضراًفاسدشو . همداسي که دریم لمونځ وکړي هم فاسددی همداحال دڅلورم اوپنځم دی که دپنځم لمانځه وخت ووتی اومخکی قضاشوی لمونځ يي نه وکړي نو دټولولمونځونودصحت اټکل کیږي یوازي قضاشوی لمونځ به راګرځوي . ځکه دالمونځونه اوس هغه دي چي ترتیب پکښي ساقط دی . ځکه داسي دقضاشوي اود حاضر لمو نځونو دشمیرې دزیاتوالي له امله دفوت شویو لمونځونوترتیب ساقط شوی دی
نوکه دسهارلمونځ قضا شواوهغه يې یادواودماسپښین لمونځ يې وکړنودماسپښین لمونځ په دې حال کښي فاسددی اوکه دمازیګرلمونځ دسهارترقضاپرته وکړي داهم په عارضي توګه فاسددی داحال به دسبا سهارترلمانځه پوري وي .
که دتیرسهارقضاشوی لمونځ ددې سهارترلمانځه وړاندي راوګرځوي نودتیروټولولمونځونوفرضیت لاړاوپه هغوی به دنفلونواټکل کیږي اودټولو

اعاده لازمه ده . اوکه قضاشوی لمونځ دبل سهارترلمانځه وړاندي راونه ګرزوي نوتول لمونځونه صحیح دي یوازي دقضاشوي لمانځه قضالازمه ده .
مسئله : که له چاځخه یویازیات لمونځونه قضاشول لمونځ کاو ورته یادشول . په دې صورت کښي ورته مناسب ده چي همدا لمونځ په دوورکعتونوختم کړي ځکه دانفل وګرځیداوبیادهغه ترتیب برابرچي قضاشوي دي لمونځونه وکړي .
مسئله : که دجمعې دلمانځه په مهال دسهارقضاشوي ورته یادشو اودجمعې دلمانځه دتیریدلوویره نه وه نوجمعه دي پریږدي اولومړی دي قضاشوی لمونځ راوګرځوي اوبیادي دجمعې یا ماسپښین لمونځ وکړي اوکه دجمعی دتیریدلو ویره وه نوجمعه دی پوره کړی وروسته دي قضاراوړي . (کتاب الفقه صفحه ۷۹۲ جلداول)

په قضاشویولمونځونوکښي ترتیب څه مهال ساقطیږي

مسئله : درې کارونه داسي دي چي ترتیب وربانديساقطیږي :
۱- لومړی داچي دقضاشویولمونځونوشمیره شپږوته ورسیږي. خوتر پکښي شامل نه دي .
۲- دوهم داچي وخت دومره تنګ وي چي قضاشوي اودهغه وخت لمونځونه پکښي اداکیدلای نشي .
۳- دریم داچي پاته شوی لمونځ دحاضرلمانځه په حال کښي ورته یادشي . په دې صورت کښي هم ترتیب نه پاته کیږي .
ځکه دظهروخت ددې وخت ترلمانځه وړاندي دی اودقضاشوي لمانځه وخت ددې له امله هیرشوی دی داوخت هغه دی چي ور یادشوئ‌وپه دواړو کښي تصادم نه راځي اودرسول الله ﷺ ارشاد دی :
((زماله امت څخه هیره معاف ده اوپه دې باره کښي هیڅ جبر نشته))
(کتاب الفقه صفحه ۷۹۷ جلداول)

دمسافرميلمه حقوق

ميلمه داحقوق لري:

۱- دراتلوپه وخت ورته دخوشحالۍ اظهار،دتللوپه مهال تر دروازې ورسره تلل

۲- دهغه دمعمولاتو اوضروریاتو انتظام کول داسي چي دهغه ارام پکښي وي.

۳- په تواضع،عزت اومدارا ره مخامخ کيدل بلکي په خپل لاس دهغه خدمت کول.

۴- لږترلږدیوې ورځي لپاره یې په خوړوکښي په منځنۍ کچه تکليف کول دادوبړه جه هغه نه تاته دردوي اونه هغه ته حجاب وي،لږترلږه تردریوورځودهغه ميلمه توب کول،څومره چي یې حق دی. ترهغه وروسته چي څومره هغه پاته کیږي دګوربه ورسره احسان وي. څوميلمه ته داوړده چي هغه په تکليف نه کړي،نه په زيات پاته کيدلو اونه په بې ځایه فرمایش اونه دهغه په خوړواو ناسته ولاړه کښي مداخله کول. [آداب زندګي]

دميلمه عزت کول

دميلمه عزت اومناسب خاطرساتل دايمان له ځانګوڅخه يوه اهمه ځانګه ده اوپه اسلام کښي ورباندي ډیرتاکیدشوی دی. ابوهريره ﷺ روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (من كان يؤمن بالله واليوم الاخرفليكرم ضيفه)
((څوک چي په الله اوداخرت په ورځ ايمان لري هغه دي دميلمه عزت کوي))
[بخاري ومسلم]

دميلمه داکرام مطلب دادی چي دهغه په غوړيدلي تندي هرکلی وشي. که دخوړلووخت و. له خپل وس سره سم یې په طعام احترام وشي. له حديث شريف څخه داسي ښکاري چي که وس ولومړی ورځ دي ورته څه ځانګړي خواړه تيارشي چي په حديث کښي ورڅخه د(جائزه) په لفظ تعبيرشوی دی [صحيح البخاري]

خوپه دې ټولوخبروکښې له هسې رسمياتو،نوم اوعنوان څخه پرهيزكول ضروري دي.

دميلمه دعزت ترټولوورانديږ لومړى مطلب دادى چي دهغه دارام اوسيدلوفكروشي . نوكه په ميلمه خواړه تكليف ومحض درواج په توګه ورباندي تېنګاركول دعزت خلاف خبره ده . په دې صورت كښي دميلمه عزت اواكرام دادى چي دهغه دارام په حال نظروشي . له بلي خواپه ميلمه باندي هم داضروري ده چي هغه په كوربه باندي غيرضروري باروانه ړوي اودومره ورسره پاته نشي چي ورباندي ستونزمن شي . دصحيح مسلم په يوه حديث كښي له دې څخه په صراحت سره ممانعت شوى دى .

[آسان نيكيان صفحه ۱۹۴]

مسئله : دميلمه دسپارلي قيضه اوركاب دتواضع په خاطر نيول مسنون كاردى

مسئله : دميلمه درخصت كولوپه مهال دكورتردروازې څه بهرتلل سنت دي . كوربنى ته دامسنون دي چي له ميلمه څخه دعا غواړي اوميلمه ته دا سنت دى چي ورته دعاوكړي . [مظاهرحق صفحه ۲۲۱ جلد۳]

دميلمه په احترام كښي لمونځ قضاكول

مسئله لمونځ دجنګ په ډګركښي چي دوې لښكري مقابل سره ولاړي وي لاقضاكول صحيح نه دي كنه دخوف دلمانځه حكم به نه نازليده . دميلمه په احترام كښي په هيڅ توګه لمونځ قضاكول جائزنه دي . [آپ كى مسائل]

دميلمه لپاره شرعي هدايات

مسئله : كه څوک چيري ميلمه لاړشي اوخواړه ورته خوښ نه وي ياله دې امله چي دودى خوړلې ده اويايې روژه ده يايې له بل دليله دخوړلواراده نه ده نوسمدلاسه دي كوربه ته خبروركړي چي زه دامهال دودى نه خورم .

داسي نه شي چي هغه تیاري ونیسي اومشکل هم وي اوبیا دخوړلوپه مهال ورته خبرور کړې اودهغه ټول اهتمام اوخواره ضائع شي .
مسئله : همداسي میلمه ته ښایي چي دچابلنه دکوربه له اجازې پرته ونه مني
مسئله : میلمه ته مناسب ده چي که چیري ځي کوربه خبر کړي ترڅودډوډۍ په وخت کښېنئ وریسې سرګردانه نشي .
مسئله : که دکومي اړتیاله امله راغلی وي نوچي موقع وموميِ ژردي ورته وایي انتظاردي نه کوي . ځیني کسان دخبرواتروپه مهال وايي هسې لیدلوته راغلی یم کورته بې غمه شي اوبیا وایي چي څه ویل غواړم ـ له دې څخه ډیرتکلیف ورسیږي . [آداب زندګي صفحه ۲۴ ـ ازتهانوي رحمه الله]
مسئله : که چیري میلمه لاړشي نوپه کوموانتظامونوکښې دي دمیلمه په توګه مداخله نه کوي خوکه کورنۍ ورته څه کار وسپاري نودهغه اهتمام ... څه ستونزه نه ده . [آداب زندګي صفحه ۲۸]
مسئله : که دچالیدلوته لاړشئ هلته دومره مه کښېنئ یادومره ډیري خبرې ورسره مه کوئ چي هغه په تنګ شي یایې دکوم کار مخه ونیسئ
مسئله : که دچاکورته ورشئ نودڅه شي فرمایش ورته مه کوئ کله څه شی وي خودوخت خبره ده چي داخبره کوربه پوره نه کړای شي ناحقه شرمندګي ورته پیداکیږي .
مسئله : میلمه ته مناسب ده چي ډوډۍ وخوري څه قطع اوډوډۍ په دسترخوان پریږدي ترڅوکوربه ته داشبه پیدانشي چي دمیلمه ډوډۍ کمه شوې ده اوخجالت شي . [آداب زندګي صفحه ۹۲]
مسئله : میلمه ته ضروره ده چي که یې مالګه اوترخه کم خوړل یاله څه شي پرهیزونوسمدستي دي کوربه ته خبرورکړي . [آداب زندګي صفحه ۷۸]

مسئله: څوک که ډېرو ورځو د پاره لا ړشي یا وبلل شي له هغه سره مه څئ څکه کورنی درته ډېره ویلوله شرمه وایي خوزړه یې نه وي [آداب زندګي صفحه ۲۵]

مسئله: که چیري لاړشئ سلام واچوئ. مصافحه او پوښتنه دکوربه کاردی که هغه نه راغی یا په کوم کار لګیاؤ نو په کارکښې یې خلل مه پیښوئ.

مسئله: که دننه لاړشئ معتبر ځای مه کښینئ، دکوربه په ځای هم مه کښینئ، په عام ځای کښینئ. دادګورد ښتن کاردی چې هغه تاسو په خپل ځای کښېنوئ یا درته مناسب ځای تجویزکړي. [مکمل او مدلل آداب ملاقات صفحه ۲۸]

دمیلمه اکرام ترڅوورځو پورې دی؟

مسئله: دمیلمه مراعات کول په شرعي ډول دادی چې هغه راشي له هغه سره په ورینه تنده ښه خلق او خوشحاله څهره مخامخ شئ، په نرمی سره ور سره خبري اتري کول او تردریو ورځو پورې ورسره داسي کړه وړه وشي چې لومړی ورځ له خپل حیثیت سره سم څه دتکلیف کوربه توب وشي په دې شرط چې په دې سره دخپلوانو حق ضائع نشي اوتردوو ورځو وروسته بې تکلیفه چې څه حاضروي، هغه ته راوړل شي ترڅو په د اړو (میلمه اوکورنی) درانه نشي. تردریو ورځو وروسته که میلمه پاته شو هغه ته خوراک څښاک دصدقې حکم لري نوکه کورنی وغواړي خوراک څښاک ورکړي او که ونه غواړي انکاروکړي. [مظاهرحق صفحه ۱۱۳ جلد ۵]

مسئله: میلمه ته دامناسب نه ده چې چیري میلمه لاړشي اود کوربه کره تردریو ورځو زیات پاته شي خو که دکوربه غوښتنه وه بیا تردریو ورځو زیات پاته کیدل هم پروانلري.

مسئله: که کوم مسافر (میلمه) چیري اوسیده او دکوم عذر مثلاً ناروغی له امله هلته تردریو ورځو ډېروخت پاته شو دخپل خوراک څښاک په هکله ورته نه ښایي چې کورنی په تنګ کړي. [مظاهرحق صفحه ۱۱۴ جلد ۵]

دمیلمه دښه راغلاست اوخدای په اماني طریقه

مسئله : داهم دمیلمه خاطراوعزت دی چي دراتلوپه مهال يې که څوک خبروي تردروازې ورته راووزي . که هغه څي هم تردروازې ورسره ووزي . په دې کښي سترحکم داهم دی چي له دې وجي دنوروکورونوته دپردې سرې په راتلوکښي وسوسه پیدانشي .

ددې سنت مطلب دادی چي داعمل یعني دمیلمه ښه راغلاست اورخصت کولوپه مهال تردروازې ورسره ووزي،یوپخواني عادت دی،دتهذیب اوښیګڼي څرګندونه هم پکښې ده اودانسان دسلیم فطرت بیلګه هم ده . یامطلب دادی چي دازماسنت دی او دازمادمرضی مطابق دي . (مظاهرحق،جدیدصفحه ۱۲۵ جلد ۵)

درخصت کولوپه مهال خدای په امان ویل

پوښتنه : ددې مترقي دوري یوه خبره داده چي دتللوپه مهال د السلام علیکم په ځای خدای په امان وایي . داعام عادت جوړ شوی دی . شرعاً ددې حکم څه دی.؟

جواب : دارواج ناجائزدی . دالسلام علیکم په ځای خدای په امان (خدای حافظ)ویل دشریعت تحریف دی اوله السلام علیکم سره یوځای بیاپه شریعت کښي زیاتوالی دی . خوکه له سلام اوودداع څخه بیل خدای په امان اونوردعائیه کلمات ووایي څه ستونزه پکښې نشته . خوددې الفاظو له التزام څخه څرګندیږي چي دخدای په اماني لپاره متعین الفاظ ویل کیږي چي دا زیادت فی الدین دي اوکه دااصطلاح غیرقوم ته ویل کیږي نو لابده ده . (احسن الفتاوی صفحه ۲۸۵ جلد اول)

درسول الله ﷺ له سفره دبیرته راتللووخت

حضرت انس ؓ وایي چي رسول الله ﷺ به له سفر څخه کورته دشپې په مهال نه راته بلکه دورځي په لومړۍ برخه یعني سهاریا اخري برخه یعني ماښام ته کورته راتلو . [بخاري اومسلم]

له سفرڅخه دشپې دننه راتلوهدایت

جابر ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : که ستاسودکوم یوه موده زیاته شوه (یعني په سفرکي موډیري ورځي تیري کړې) نوهغه دي دسفرڅخه دراتلوپرمهال کورته دشپې نه داخلیږي . [بخاري مسلم]

دحدیث شریف مطلب دادئ چې له سفرڅخه دراتلووخت دشپې غوره کول ورنه دي . غوره داده چې له سفرڅخه داسي مهال راشي چې ترشپې وړاندي وي ترڅودشپې درارسیدلو له امله دکور کسان ناراضه نشي .اودهغوی خوب ته خلل پیښ نه شي که خپل ښار او ودانیو ته رارسیدل دشپې وي په دې صورت کي غوره داده چې کورته د ننوتلو لپاره دداسي وخت انتظار وکړي چې میرمن ته یې د ورتللو مهال معلوم نشي .او هغه سنګار ونکړي اوجنسي اختلاط ته تیاره نشي .ترڅوسړی هلته ورشي دسفر بیلتون ناخوالي په جسمي نشاط بدل شي .امام نووي رحمه الله وايي چې داشیان (دشپې له سفرڅخه راتلل اوترڅه انتظار پرته کورته ننوتل) دهغه چالپاره مکروه دي چې ډیر سفریې کړی وي اوکه څوک له لنډ سفر څخه راځي اودکور وال یې خبروي بیادشپې راتلل څه ستونزه نه ده .

(مظاهرحق صفحه ۵۳۹ .جلد۴)

له سفرڅخه دراتللو دعا

(ائبون تائبون عابدون لربنا حامدون) [حصن حصین،ص ۱۷۲]

یادونه له کوره وتل اوپرسوارلي سپریدل هغه دعاده چې تیره شوه دادعاله سفرڅخه د راتلوپه وخت کي ویل کیږي . رفعت

مسئله : دسفرپه دوران کي له بې هوده خبرو ځان ساتل ترټولو کیدلای شي دالله ﷻ په ذکر مشغولیدل یادیني کتابونه مطالعه کول دعمل اصلاح اوداخرت فکر پیداکوي .[احکام حج،صفحه ۲۷]

له سفر څخه دراتللو پر مهال لومړی مسجد ته د تللو حکم

جابر ﷺ وايي : زه په يو سفر کي درسول الله ﷺ سره ملګری وم، کله چي بيرته مديني ته راغلو رسول الله ﷺ راته وفرمايل (مسجد ته لاړ شه او هلته دوه رکعته لمونځ وکړه) .[بخاري]

له سفر څخه دراتلو پر مهال لومړی مسجد ته تلل د رسول الله ﷺ څخه هم فعلاً ثابت دي او هم قولاً .پورتنی يادشوی حکم يوازي دا چي د شعارالله دتعظيم لوري ته اشاره ده بلکي دې لوري ته هم اشاره ده چي مسجد ګوري دالله ﷻ دکورونو څخه يو کوردی او مسجد ته تلونکي لکه دالله ﷻ سره چي ملاقات کونکي وي .نو څوک چي له سفر څخه بيرته راځي نو د هغه لپاره دا غوره ده چي ترهر څه وړاندي دالله ﷻ کور ته لاړ شي او له الله ﷻ سره ملاقات وکړي .لکه چي يې دی د سفر له افاتو څخه خوندي وساته او په عافيت سره بيرته خپل اهل وعيال ته راورسيد . (مظاهرحق ۵۴۰،جلد ۴)

له سفر څخه دراتلو پر مهال معانقه کول

مسئله :څوک چي له سفر څخه راځي له هغه سره معانقه اوتقبيل کول له کراهت څخه پرته جائزدي .حديث شريف په دې امر دلالت کوي چي څوک له سفر څخه راځي له هغه معانقه اوتقبيل يعني سره ترغاړه کيدل،لاس اوتنده ښکلول له کراهت څخه پرته جائز دي .

مسئله : په حديث شريف کښي له سفر څخه راتلونکي ته دښه راتلو دويلو ذکر دی . (مظاهرحق صفحه ۳۷۲ ،جلد ۵)

مسئله : دملاقات په مهال اودرخصت کيدلو په مهال سلام ويل سنت دی .
(مظاهرحق صفحه ۳۸۴ جلد ۵)

مسئله : ترڅه وخت وروسته په ليدلو کتلو کښي ياله سفر څخه دراتلو په مهال معانقه کول يعني غيږ په غيږ کيدل مسنون او مستحب دی . (الجواب المتين صفحه ۴۲)

مسئله : هغه معانقه اوتقبیل چي په بدي پکښي لويږي یاشک اوشبه پیداکیږي یابې ځایه تعلق اوتعظیم وي بیامکروه ده . (مظاهرحق صفحه ۲۷۱ جلد ۵)

دمسافراستقبال کول

مسئله : دچااستقبال کول یعني له ښارڅخه بهریادودانۍ مخي ته دمیلمه مخي ته تلل جائزاومسنون دي (که وړاندي خبرشو) حدیث : سائب بن یزید ﷛ وایي : کله چي رسول الله ﷺ له تبوک څخه تشریف راوړنوموږله خپلوماشومانوسره دثنیة الوداع پوري دهغه ملاقات ته لاړو . (بخاري،ترمذي،ابوداؤد)

په یوه حدیث شریف کښي آن داراغلي دي چي کله رسول الله ﷺ له سفرڅخه تشریف راوړصحابه ﷡ له خپلوماشومانوسره درسول الله ﷺ استقبال ته ووتل کوم ماشوم چي ترټولووړاندي وړورسید . رسول الله ﷺ هغه ورسره ترمخ سپورکړ . (الجواب المتین صفحه ۴۴)

له سفرڅخه په راتلوکښي سوغات ورکول

مسئله : له سفرڅخه په راتلوخپلوخپلوانواودوستانوته سوغاتونه او تحفې ورکول خورا غوره اونیک کاردی،دثواب موجب دی . ځکه ترخپل منځ دسوغاتونوورکول رسول الله ﷺ حکم کړی دی په دی محبت اومینه زیاتیږي . په دې هدیه کښي دخیرډیرشیان یوځای کیږي .

حدیث : عائشه ﷝ وایي : رسول الله ﷺ وفرمایل : که څوک خپل اهل اوعیال ته له سفر څخه راغی نوهغه ته دي څه شی سوغات راوړي که څه هم یوډبره وي . دادتاکیداو مبالغې لپاره ویل شوي دي یعني که څه ونه موندل شوه نوډبره راوړئ (بیهقي)

دتحفې دراوړلو دترغیب لپار دومره مبالغه شوې ده،داځکه چي څوک له سفرڅخه راځي دټولوورته سترګي وي اوپه تحفوسره زړونوکښي خوشحالي

پیداکیږي اوپه دې خیال چي مسافر موږ په سفرکښې لاپه یاد وو ډیرخوشحاله کیږي له همدې امله تحفه راوړل مستحب ده . [احیاء العلوم صفحه ۴۲۱، جلد ۲]

له سفرڅخه په راتلو میلمستیا کول

جابر ﷺ وایي : کله چي به رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړ نوځپل اوښ یاغوا به ذبح کړل . [بخاري اومسلم]

له دې حدیث څخه داثابته شوه چي له سفرڅخه ترراتلو وروسته میلمستیاکول اوخلک ډوډۍ ته رابلل مسنون عمل دی . [مظاهرحق صفحه ۵۲۹، جـ ۴]

(خومیلمستیا ته ورتلل اوتحفه ور وړل لازم بلل غلط دي اوغیرمسنون طریقه ده .) [محمد رفعت قاسمي غفرله]

مسافرچي کورته راشي بیاهم قصرکوي

پوښتنه : زید دسفرپه حال کي لمونځ قصر کاوو.کله چي وطن ته راوسید ،داچي مسئله ورته معلومه نه وه په وطن کښې یې هم لمونځ قصر کاوو دامام اومقتدیانو حکم یې څرنګه دی ؟

جواب : څومره لمنځونه چي یې تر رارسیدلو وروسته په وطن کښې قصر کړي دي د هغوی راګرځول په ده اوهغوخلګو لازمه ده چيّ په ده پسې یې لمنځونه کړي دي . [فتاوی دارالعلوم صفحه ۴۵۷، جلد ۴]

ځان مسافراودنیاسرای وګڼئ

عبدالله ابن عمر ﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل (تاسو په دنیاکښې داسي واوسئ لکه تاسوچي مسافربلکه لارویان یاست ، [بخاري]

مطلب دادی چي تاسو ددنیالورته رغبت مه کوئ ځکه تاسوله دنیاڅخه داخرت په لور سفرکونکي یاست نوهمدا دنیاځان ته وطن مه جوړوئ ددنیا دلذتونوسره مینه مه کوئ ، له شتمنوخلګواودهغوی له اختلاط څخه ځانونه وژغورئ،ځکه تاسوله هغوی څخه بیلیدونکي یاست، ددنیادبقاخیال مه کوئ .له هغو امورو ځان وساتئ له کوموچي یو مسافر

په پرديۍ وطن کښي ځان ساتي .په هغوشيانوځانونه مه اخته کوئ په کوموچي کورته تلونکي مسافرځان نه اخته کوي ګواکي تاسوپه دنياکښي داسي واوسئ لکه يو مسافرچي له خپل اهل اوعيال څخه ليري هستوګنه لري .بياوراندي له ډير مبالغې سره فرمايي : بلکه (لکه لاروی داسي واوسئ)څکه مسافرپه خپل سفرکښي په لاره په مختلفوښارونوکښي هم قيام کوي .دلاروي په خلاف چي هغه په هيڅ ډول قيام نه کوي نودنياپوازي داسي مه ګڼئ چي يوازي دسفرځای دی بلکي دا خيال وکړئ چي يوازي په لاره روان ياست،نه مو وطن دی اونه هم دسفرپه حال کښي چيري پکښي څنډيږئ . [مظاهر حق صفحه ۳۸۰ جلد ۲]

يعني لکه څرنګه چي يوپرديس او لاروی کوم ځای خپل وطن نه ګڼي اوهلته ډيري هستوګني انتظامات نه کوي،همداسي مؤمن ته ښايي چي دانړۍ خپل وطن ونه ګڼي او دلته داسي فکر ونکړي لکه دلته چي تل پاته کيږي بلکه دلته ځان پرديس اولاروی وبولئ . [معارف الحديث صفحه ۷۰ جلد ۲]

ابوهريره ﷺ روايت کوي چي درسول الله ﷺ ارشاد دی :

(کله چي انسان ومري دهغه عمل منقطع کيږي خودرې عمله نه غو څيږي،په هغوی کښي يو مسجد يادمسافرو لپاره سرای دی چي د مسافرو لپاره جوړ شي)

[الجواب المتين صفحه ۵۹]

احقر محمدرفعت قاسمي

خادم تدريس دارالعلوم ديوبند

۲۷/ رمضان المبارک،بروزجمعه/۱۴۱۴ هـ بمطابق ۱۹۹۴ ع


مکمل و مدلل


مکمل و مدلل


مکمل و مدلل
مسائل

